# د اسلام

## لنډه پېژندنه څرنګه چې په
## قرآن کريم او نبوي سنتو کې راغلې ده



نبذة موجزة عن الإسلام (مشتملة على الأدلة) بشتو

بيان الإسلام
Bayan AL-Islam

ح جمعية الدعوة و الارشاد وتوعية الجاليات بالربوة ، ١٤٤٥ هـ
فهرسة مكتبة الملك فهد الوطنية أثناء النشر
جمعية خدمة المحتوى الإسلامي باللغات
نبذة موجزة عن الإسلام - مشتملة على الأدلة - بشتو. /
جمعية خدمة المحتوى الإسلامي باللغات .- ؛ الرياض ، ١٤٤٥
١٢٨ ص ؛ ١٤ × ٢١ سم
ردمك: ٩٧٨-٦٠٣-٨٤١٢-٠٢-٢
١- الاسلام - تعليم أ.العنوان
ديوي ٢١٠،٧ ١٤٩٢ / ١٤٤٤

شركاء التنفيذ :

بيان الإسلام
جمعية الربوة
رواد التراجم
المحتوى الإسلامي

يتاح طباعة هذا الإصدار ونشره بأي وسيلة مع
الالتزام بالإشارة إلى المصدر وعدم التغيير في النص

Tel : +966 50 244 7000
info@islamiccontent.org
Riyadh 13245-2836
www.islamiccontent.org

# د اسلام لنډه پېژندنه څرنګه چې په قرآن کريم او نبوي سنتو کې راغلې ده

دا یو مهم کتاب دی چې د اسلام پر لنډ تعریف مشتمل دی چې د هغه له اصلي سرچینو قرآن او نبوي سنتو څخه د هغه اصول، ښوونې او ښېګڼې بیانوي، او دغه کتاب مسلمانو او نامسلمانو ټولو مکلفو خلکو ته د هغوی په ژبو د ظروفو او حالاتو له توپیر سره په هر وخت او ځای کې متوجه دی.

له قرآن کریم او نبوي سنتو څخه پر دلایلو مشتمله نسخه ده.

**اسلام د الله له لورې ټولو خلکو ته يو پيغام دی، نو هغه داسې تلپاتې الهي پيغام دی چې د رباني پيغامونو پای ته رسوونکی دی.**

اسلام ټولو خلکو ته د الله يو پيغام دی هغه فرمايي: او ته نه يې لېږلی مونږ مګر د ټولو خلقو (انسانانو) لپاره زېری ورکوونکی او وېرروونکی او لېکن اکثره خلق نه پوهېږي. (د سبأ سورت: ۲۸ آيت).

او الله تعالی فرمايي: وو‌ايه: اې خلکو! پرته له شکه زه تاسو ټولو ته د الله استازی يم. (د الأعراف سورت: ۱۵۸ ايت).

او الله تعالی فرمايي: اې خلکو! پرته له شکه ستاسو د پالونکي له لوري په حقه رسول درته راغی، ايمان راوړئ دا به ستاسو لپاره غوره وي، او که کفر وکړئ؛ نو پرته له شکه څه چې په اسمانونو او زمکه کې دي؛ يوازې الله لره دي، او الله ډېر پوه او حکمت والا دی. د النساء سورت ۱۷۰ آيت.

اسلام يو تلپاتې الهي پيغام دی، او هغه د رباني پيغامونو پای ته رسوونکی دی، الله تعالی فرمايي: محمد له تاسو سړيو څخه د چا پلار نه دی، بلکې د الله استازی او د نبيانو پای ته رسوونکی دی، او الله پر هرڅه ښه پوه دی. ( د الأحزاب سورت: ۴۰ ايت)

**او اسلام په یو جنس او قوم پورې خاص دین نه دی، بلکې هغه ټولو خلکو ته د الله دین دی.**

او اسلام په یو جنس او قوم پورې خاص دین نه دی، بلکې هغه ټولو خلکوته د الله دین دی، او په قرآن عظیم کې ترټولو لومړی امر د الله تعالی هغه وینا ده: ای خلکو! د خپل رب عبادت وکړئ، هغه چې تاسو یې پیدا کړي یئ او هغه کسان چې له تاسو نه مخکې وو، د دې لپاره چې تاسو پرهېزګاره شئ. (د البقره سورت: ۲۱ ایت)

او الله تعالی فرمايي: اې خلکو! له هغه پالونکي مو ووېرېږئ چې له یونفس( آدم) څخه یې پیدا کړي یاست، او له هغه یې د هغه جوړه (مېرمن حوا) پیدا کړې ده او له هغوی دواړو یې ډېر سړي او ښځې خورې کړې دي. (د النساء سورت: ۱ ایت)

او له ابن عمر رضي الله عنهما څخه روایت دی چې د الله رسول صلی الله علیه وسلم د مکې د فتحې په ورځ خلکو ته وینا وکړه، نو ویې فرمایل: اې خلکو! پرته له شکه الله ستاسو څخه د جهالت لويي او د هغه وخت پر پلرونو وياړ کول له منځه یوړل، نو خلک دوه ډوله دي: یو هغه نېک، پرهېزګار او د الله پر وړاندې عزتمن دي، او بل بې لارې،

بدبخته او د الله پر وړاندې سپک دي، او ټول خلک د آدم زامن دي، او الله آدم له خاورې پیدا کړی، الله فرمايي: اې خلکو! پرته له شکه تاسو مو له یو نارینه او ښځینه پیداکړئ، او بېلابیل قومونه او قبیلې مو وګرځولئ تر څو یو بل سره وپېژنئ، بېشکه د الله په وړاندې له تاسو تر ټولو زیات عزتمن ستاسو زیات پرهېزګار دی، پرته له شکه الله ښه پوه خبر لرونکی دی. ترمذي روایت کړی. د حدیث شمېره (۳۲۷۰).

او د قرآن کریم په امرونو او د رسول کریم صلی الله علیه وسلم په امرونو کې کوم داسې حکم نشي موندلئ چې د یو قوم یا ډلې د رګ، یا هغوی قومیت او یا جنس د رعایت له امله تر هغوی پورې ځانګړی وي.

**اسلام هغه الهي پیغام دی چې د پخوانیو نبیانو او رسولانو علیهم السلام خپلو امتونو ته د پیغامونو بشپړوونکی دی.**

اسلام هغه الهي پیغام دی چې د پخوانیو نبیانو او رسولانو علیهم السلام خپلو امتونو ته د پیغامونو بشپړوونکی دی. الله تعالی فرمايي.

بېشکه مونږ تا ته وحې کړې ده، لکه څنګه چې مونږه وحې کړې وه نوح ته او له هغه نه پس (نورو) نبیانو ته، او مونږ وحې کړې وه ابراهیم او اسماعیل او اسحاق او یعقوب او د (هغوی) اولادې ته او

عیسی او ایوب او یونس او هارون او سلیمان ته، او مونږ داود ته زبور ورکړی و. (د النساء سورت: ۱۶۳ ایت).

او دغه دین چې الله یې خپل استازي محمد صلی الله علیه وسلم ته وحي کړې ده هغه دین دی چې الله مخکېنیو نبیانو ته روا کړی و او هغوی ته یې پرې سپارښتنه کړې وه، الله تعالی فرمایي: تاسو ته یې همغه دین ټاکلی چې نوح ته یې پرې سپارښتنه کړې وه، او هغه چې تاته مو وحي کړی او پر کوم مو چې ابراهیم، موسی او عیسی ته سپارښتنه کړې وه، چې (همدغه) دین ترسره کړئ او اختلاف پکې مه کوئ- پر مشرکانو هغه خبره ډېره درنه ده چې ته یې وربولې. الله هغه څوک غوره کوي چې ورته خوښه یې شي او هغه چاته لارښوونه کوي چې هغه ته ورګرځي. د الشوری سورت ۱۳ آیت.

او دا هغه څه دي چې الله خپل استازي محمد صلی الله علیه وسلم ته وحي کړې، له هغه څخه د مخکېنیو الهي کتابونو؛ تورات او انجیل له تحریف مخکې تصدیقوونکی دی، الله تعالی فرمایي: او هغه څه چې مونږ تا ته له کتابه وحي کړي دي هم دغه حق دی، په داسې حال کې چې تصدیقوونکی دی د هغو (کتابونو) چې له ده نه مخکې وو،

بېشکه الله په خپلو بنده ګانو باندې خامخا ښه خبردار، ښه لیدونکی دی. د فاطر سورت ۳۱ آیت.

**د نبیانو علیهم السلام دین یو دی او شریعتونه یې بېل بېل دي.**

د نبیانو علیهم السلام دین یو دی خو د هغوی شریعتونه بېل بېل دي، الله تعالی فرمايلي: او تاته مو په حقه دغه کتاب نازل کړی چې تر هغه مخکې کتاب لره تصدیقونکی او پر هغه څارونکی دی، نو د هغوی تر منځ پر هغه څه پرېکړه کوه چې الله رانازل کړي او کوم حق چې درته راغلی له هغه په مخ اړولو د هغوی په هوسونو پسې مه ځه، له تاسې هر یوه ته مو یو شریعت او تګلاره ټاکلې ده او که الله غوښتي وای نو تاسو ټول به یې یو امت ګرځولي وئ خو ددې لپاره (یې داسې وکړل) چې په هغه څه کې مو وازمويي چې درکړي یې دي، نو په ښېګڼو کې یو له بله وړاندې شئ، د الله لور ته ستاسو ټولو ستنېدل دي بيا به مو پر هغه څه خبرکړي چې تاسو پکې اختلاف کاوه. (د المائده سورت: ٤٨ ایت)

او رسول صلی الله علیه وسلم فرمايلي: زه د مریمې زوی عیسی ته په دنیا او آخرت کې تر ټولو خلکو ور نږدې یم او نبیان علاتي ورونه

دي؛ میندي يې بېلابېلې او دين يې يو دی. بخاري روایت کړی، د حديث شمېره (٣٤٤٣) ده.

**اسلام هم همداسې بلنه کوي لکه ټولو نبيانو، نوح، ابراهيم، موسى، سليمان، داود او عيسى عليهم السلام چې ايمان ته بلنه کوله چې بېشکه پالونکی هغه الله دی چې پيداکوونکی، روزي ورکوونکی، ژوندی کوونکی، مړ کوونکی او د پاچايۍ څښتن دی او همغه دی چې د چارو تدبير نيسي او هغه مهربانه لوروونکی دی.**

اسلام هم همداسې بلنه کوي لکه ټولو نبيانو، نوح، ابراهيم، موسى، سليمان، داود او عيسى عليهم السلام چې ايمان ته بلنه کوله چې بېشکه پالونکی هغه الله دی چې پيداکوونکی، روزي ورکوونکی، ژوندی کوونکی، مړ کوونکی او د پاچايۍ څښتن دی او همغه دی چې د چارو تدبير نيسي او هغه مهربانه لوروونکی دی.

الله تعالى فرمايلي: اې خلکو! پر تاسو د الله پېرزوينه در په ياد کړئ، آيا له الله پرته بل پيداکوونکی شته چې له اسمان او زمکې تاسې ته روزي درکوي، نشته حقدار د بندګۍ په حقه سره مګر هغه دی، نو تاسې څنګه (له حقه) اړول کېږئ. (د فاطر سورت: ٣ ايت)

او الله تعالى فرمايلي: وړايه: څوک له اسمانه او ځمکې روزي درکوي، څوک د اورېدو او ليدو واک لري او څوک له مړه ژوندی راوباسي او له

ژوندي مړ راوباسي او څوک د چارو تدبير نيسي، ژر به هغوی ووايي چې: الله، نو ووايه: بيا ايا تاسې نه وېرېږئ. (د يونس سورت: ٣١ ايت)

او الله تعالی فرمايلي: څوک دی چې د پيدايښت پيل يې کړی، بيرته به يې راګرځوي او څوک دی چې له اسمانه او ځمکې روزي درکوي، آيا له الله سره بل څوک حقدار د بندګۍ شته، ووايه: دليل مو راوړئ که تاسې رېښتيني ياستئ. (د النمل سورت: ٦٤ ايت)

ټول نبيان او رسولان عليهم السلام يوازې د الله عبادت ته په را بلنه را لېږل شوي دي، الله تعالی فرمايلي: او پرته له شکه په هر امت کې مو يو رسول لېږلی چې (ويل به يې) د الله عبادت وکړئ او له شيطان (بت) ډډه وکړئ، نو له هغوی ځيني داسې دي چې الله لارښوونه ورته کړې او ځيني په دوی کې هغه دي چې ګمراهي پرې ثابته شوې، نو تاسې په ځمکه کې وګرځئ، بيا وګورئ چې د درواغ ګڼوونکو انجام څنګه و؟ (د النحل سورت: ٣٦ ايت)

او الله تعالی فرمايلي: او له تا مخکې مو هيڅ رسول نه دی لېږلی مګر دا وحي مو ورته کوله چې له ما پرته بل هيڅ حق معبود نشته؛ لهذا تاسو زما عبادت وکړئ. (د الأنبياء سورت: ٢٥ ايت)

الله له نوح علیه السلام څخه خبر ورکړی چې بېشکه هغه ویلي: اې زما قومه! د الله عبادت وکړئ له هغه پرته تاسو لره بل حق معبود نشته، زه پر تاسو د لویې ورځې له سزا څخه وېرېږم. (د الأعراف سورت: ٥٩ آیت)

او ابراهیم خلیل علیه السلام ویلي: -لکه څرنګه چې له هغه څخه الله تعالی خبر ورکړی- چې بېشکه هغه ویلي: او ابراهیم در یاد کړه کله يې چې خپل قوم ته وويل: د الله عبادت وکړئ او ترې ووېرېږئ، دغه ستاسو لپاره غوره ده که تاسو پوهېږئ. (د العنکبوت سورت: ١٦ ایت).

او صالح علیه السلام ویلي: لکه څنګه چې الله له هغه څخه خبر ورکړی: ویې ویل: اې زما قومه! د الله عبادت وکړئ له هغه پرته بل حق معبود نشته، پرته له شکه تاسو ته مو د پالونکي له لورې نښانه راغله، دغه د الله اوښه ستاسو لپاره نښانه ده، پرې يېږدئ چې په ځمکه کې خوراک کوي (څري) او ضرر ورته مه رسوئ، چې دردوونکي سزا به مو ونیسي. (د الأعراف سورت: ٧٣ ایت. )

او شعیب علیه السلام ویلي: لکه الله چې له هغه څخه خبر ورکړی: اې زما قومه! د الله عبادت وکړئ له هغه پرته بل حق معبود نشته، پرته له شکه تاسو ته مو د پالونکي له لورې نښانه راغله، نو پوره پوره پیمانه او تول کوئ او له خلکو څخه د هغوی په شیانو کې کمی مه کوئ او په

ځمکه کې د هغې له سمون وروسته ورانکاری مه کوئ، دغه ستاسو لپاره غوره دی که مؤمنان یاست. (د الأعراف سورت: ۸۵ ایت)

او لومړی چې الله له موسی علیه السلام سره خبرې وکړې، الله پاک ورته وفرمایل: او ما ته غوره کړې؛ نو هغه څه ته غوږ ونیسه چې درته وحې کیږي. پرته له شکه زه الله یم له ما پرته بل حق معبود نشته؛ نو عبادت مې کوه او زما د یاد لپاره بشړ لمونځ کوه. (د طه سورت: ۱۳- ۱٤ ایتونه)

او الله له موسی علیه السلام څخه په خبر ورکولو سره ویلي: بېشکه هغه پر الله پناه وغوښته؛ نو ویې ویل: پرته له شکه زه مې پر خپل پالونکي او ستاسو پر پالونکي له هرداسې لويي کوونکي څخه پناه غواړم چې د حساب پر ورځ باور نه لري. (د غافر سورت: ۲۷ ایت).

او الله له مسیح علیه السلام څخه په خبر ورکولو سره وفرمایل: بېشکه هغه وویل: پرته له شکه الله زما پالونکی او ستاسو پالونکی دی؛ نو عبادت یې وکړئ، دغه نېغه لار ده. (د آل عمران سورت: ۵۱ ایت)

او الله عزوجل همدا رنګه له مسیح علیه السلام څخه په خبر ورکولو وفرمایل: هغه وویل: اې بني اسرائیلو! د هغه الله عبادت وکړئ چې زما پالونکی او ستاسو پالونکی دی، پرته له شکه څوک چې پر الله

**شرک وکړي پر هغه الله جنت حرام کړی، او ځای به يې اور وي، او ظالمانو لره هيڅ مرستندوی نشته. (د المائده سورت: ۷۲ ايت).**

بلکې آن په **تورات** او **انجيل** دواړو کې يوازې د الله پر عبادت ټينګار راغلی، د تثنيه په سفر (د موسی په تشريعي سفر) کې د موسی عليه السلام وينا راغلې: **اې اسرائيله! واوره پالونکی زموږ معبود يو پالونکی دی.**

په **مرقص (دويم) انجيل** کې د الله پر يووالي ټينګار راغلی داسې چې مسيح عليه السلام **فرمايلي: پرته له شکه لومړنی سپارښتنه دا ده چې: اې اسرائيله! واوره زموږ پالونکی يو پالونکی دی.**

او الله عزوجل دا خبره بيان کړه چې ټول نبيان د دغه لوی کار لپاره ليږل شوي چې هغه د الله يووالي ته بلنه ده، الله تعالی فرمايلي: **او پرته له شکه په هر امت کې مو يو رسول ليږلی چې (ويل به يې) د الله عبادت وکړئ او له شيطان (بت) ډډه وکړئ، نو له هغوی ځينې داسې دي چې الله لارښوونه ورته کړې او ځينې په دوی کې هغه دي چې ګمراهي پرې ثابته شوې. (د النحل سورت: ۳۶ ايت)**

او الله تعالی فرمايلي: ووايه: **تاسو ماته د هغو (معبودانو) خبر راکړئ چې تاسو يې له الله پرته را بولئ، راوښيئ چې له ځمکې يې څه پيدا کړي؟ يا هغوی لره په اسمانونو کې کومه برخه شته؟ تاسو ما ته له**

دغه (قرآن) نه مخکې کوم کتاب راوړئ، او یا د پوهې کومه نښه راته راوړئ که چېرې تاسې رېښتېني یاستئ. (د الأحقاف سورت: ٤ ایت).

شیخ سعدي رحمه الله وېلي: **نو څرګنده شوه چې مشرکان د خپل شرک په اړه په شخړه کولو کې پر کوم برهان او دلیل تکیه کوونکي نه دي او هغوی د درواغو پر ګومانونو، ناچله نظریاتو او فاسدو عقلونو باور کړی دی، چې د هغو پر فساد د هغوی د حالاتو پلټل، د هغوی د علومو او اعمالو څېړنه او د هغه چا په حال کې فکر کول چې عمرونه یې د هغه په بنده ګۍ کې تېر کړي دي، ستا دې خبرې ته لارښوونه کوي، چې آیا هغوی ته (له الله پرته دغو معبودانو) په دنیا یا آخرت کې کومه ګټه رسولې ده.** تیسیر الکریم المنان: ۷۷۹

**همغه الله پاک پیداکوونکی دی او یوازې همغه د بنده ګۍ حقدار دی، او دا چې له هغه سره د بل چا بنده ګي ونه شي.**

او الله هغه ذات دی چې یوازې هغه حقدار د بنده ګۍ دی او دا چې د هغه سره دې د هیچا بنده ګي ونه شي، الله تعالی فرمایلي: اې خلکو! ستاسې د هغه پالوونکي بنده ګي وکړئ چې تاسې ئې پیدا کړي یاستئ او هغه خلک یې پیدا کړي دي چې له تاسو مخکې وو، کېدای شي چې ووېرېږئ. هغه ذات چې ستاسې لپاره ئې ځمکه فرش او اسمان چت

جوړ کړی او له آسمانه يې اوبه راورولي دي، چې پر هغو يې ستاسو لپاره د روزۍ په توګه مېوې را اېستلې دي؛ نو له الله سره شريکان مه جوړوئ په داسې حال کې چې تاسې پوهېږئ. (د البقره سورت: ۲۱– ۲۲ ايتونه).

نو هغه ذات چې موږ يې پيداکړي يو او له موږ مخکې نسلونه يې پيداکړي دي، ځمکه يې زموږ لپاره فرش ګرځولې ده او له اسمانه يې پر موږ اوبه را نازلې کړي دي چې پر هغو يې زموږ لپاره د روزۍ په توګه مېوې را اېستلې دي؛ يوازې هغه د لمانځلو وړ دی، او الله تعالى فرمايلي: اې خلکو! پر تاسو د الله پېرزوينه در په ياد کړئ، آيا له الله پرته بل پيداکوونکی شته چې له آسمانه او ځمکې تاسې ته روزي درکوي، له هغه پرته بل الله نشته، نو تاسې څنګه (له حقه) اړول کېږئ. (د فاطر سورت: ۳ آيت).

نو هغه ذات چې پيداکول کوي او روزي ورکوي يوازې همغه د بنده ګۍ حقدار دی، او الله تعالى فرمايلي: دغه الله ستاسو پالونکی دی، نشته حقدار د بنده ګۍ په حقه سره مګر هماغه دی، د هر څه پيداکوونکی دی؛ نو عبادت يې وکړئ، او هغه پر هرڅه نګران دی. (د الأنعام سورت: ۱۰۲ ايت)

او له الله چې د هر څه بنده ګي کېږي هغه د بنده ګۍ لايق نه دی، ځکه هغه په آسمانونو او ځمکه کې د يوې ذرې څښتنان هم نه دي،

او له الله سره په هیڅ شي کې هم شریک نه دي او نه الله لره مرستندوی او ملاتړي دي؛ نو څنګه به له الله سره را بلل کیږي او له هغه سره به شریکیږي، الله تعالی فرمایلي: ته (دې مشرکانو ته) ووایه: راوبولئ هغه خلک چې له الله پرته مو (معبودان) ګڼلي، هغوی خو د یوې ذرې په اندازه څه په واك کې نه لري، نه په آسمانونو کې او نه په ځمکه کې او نه یې په دې دواړو کې څه برخه شته او نه له هغوی څوك د الله مرستندوی دی. (د سبأ سورت: ۲۲ ایت)

او الله پاک هغه ذات دی چې دغه مخلوقات یې پیدا کړي او له نښتون څخه یې رامنځته کړي دي او د هغو شتون د الله پر شتون، ربوبیت او الوهیت دلالت کوي، الله تعالی فرمایلي: او د هغه له نښانو څخه دا دي چې تاسې یې له خاورې پیدا کړئ، بیا تاسې انسانان خورېږئ. او د هغه له نښانو دا دي چې تاسو لره یې له تاسو څخه جوړې (مېرمنې) پیدا کړې دي، تر څو له هغوی سره ډاډه تر لاسه کړئ، او ستاسو تر منځ یې مینه او محبت پیدا کړي، پرته له شکه په دغه کې د هغه قوم لپاره نښانې دي چې فکر کوي. او د هغه له نښانو د اسمانونو او ځمکې پیدایښت او ستاسو د ژبو او رنګونو توپیر دی، پرته له شکه په دغه کې د پوهانو لپاره نښانې دي. او د هغه له نښانو په شپه کې ستاسو خوب او په ورځ کې ستاسو له

لوري د هغه فضل (روزي) لټول دي، پرته له شکه په دغه کې د هغه قوم لپاره نښانې دي چې اوري. او د هغه له نښانو دا دي چې تاسې ته برېښنا د وېرې او طمعې لپاره ښيي او له اسمانه اوبه را نازلوي، چې ځمکه د هغې له مرګ وروسته پرې را ژوندۍ کوي، پرته له شکه په دغه کې د هغه قوم لپاره نښانې دي چې د عقل نه کار اخلي. او د هغه له نښانو دا دي چې په امر يې اسمان او زمکه ولاړ دي، بيا چې کله تاسو له زمکې راوبولي په يو غږ به راووځئ. او هغه لره دي هغه څوک چې په اسمانونو او ځمکه کې دي، ټول هغه لره غاړه اېښودونکي دي. او همغه ذات دی چې د پيدايښت پيل کوي بيا يې راګرځوي او هغه کار ورته ډېر اسانه دی. (د الروم سورت: ۲۰- ۲۷ ايتونه).

نمرود د خپل پالونکي له شتون څخه انکار وکړ؛ نو ابراهيم عليه السلام ورته وويل: لکه څنګه چې الله له هغه څخه خبر ورکړ:

ابراهيم وويل: پرته له شکه الله له ختيځه لمر راخېژوي، ته يې له لوېديځه راوخېژوه؛ نو هغه څوک هک پک شو چې کفر يې کړی و، او الله ظالم قوم ته لارښوونه نه کوي. (د البقره سورت: ۲۵۸ ايت)

او همدارنګه ابراهيم عليه السلام د خپل قوم پر خلاف پردې خبره استدلال وکړ چې الله هغه ذات دی چې لارښوونه يې ورته کړې،

خوراک او څښاک یې ورکړی او کله چې ناروغ شي روغتیا ورکوي، او همغه ذات دی چې مړ کوي یې او را ژوندی کوي یې، هغه وویل: **لکه څنګه چې الله له هغه څخه خبر ورکړی. هغه ذات چې پیدا کړی یې یم او لارښوونه مې کوي. او همغه ذات چې خوراک او څښاک را کوي. او کله چې ناروغ شم، نو هغه روغتیا را کوي. او هغه ذات چې مړ کوي مې بیا مې ژوندی کوي. (د الشعراء سورت: ۷۸– ۸۱ ایتونه)**

او الله له موسی علیه السلام څخه په خبر ورکولو سره وفرمایل: چې هغه فرعون ته په حجت وړاندې کولو سره وویل: **پرته له شکه د هغه پالونکی همغه دی. هغه ذات چې هر څه ته یې د ده (موافق) شکل ورکړی، بیا لارښوونه ورته کړې ده. (د طه سورت: ۵۰ ایت)**

او الله ټول هغه څه چې په اسمانونو او ځمکه کې دي د انسان لپاره تابع ګرځولي او پر نعمتونو یې چاپېر کړی دی، تر څو د الله عبادت وکړي او کفر ترې ونه کړي، الله تعالی فرمایلي: **آیا تاسې نه وینئ چې الله ستاسو لپاره په کار اچولي هغه څه چې په آسمانونو کې دي او هغه څه چې په ځمکه کې دي، او پوره کړي یې دي پر تاسو خپل پټ او ښکاره نعمتونه، او په خلکو کې ځینې هغه دي چې د الله په باره کې جګړه کوي، بې له علمه او بې له هدایته او بې له روښانه کتاب. (د لقمان سورت: ۲۰ ایت)**

او لکه څنګه چې الله د انسان لپاره ټول هغه څه چې په اسمانونو او ځمکه کې دي تابع کړي دي، پرته له شکه هغه يې پيداکړی دی او هغه لره يې غوږونه، سترګې او زړه چې اړتيا ورته لري چمتو کړي دي، تر څو داسې پوهه ترلاسه کړي چې ګټه ورته رسوي او خپل مولا او پيداکوونکي ته يې لارښوونه وکړي، الله تعالی فرمايلي: **او الله تاسو د خپلو ميندو له ګېډو داسې را اېستلي ياست چې پر هيڅ نه پوهېدلئ، او تاسو لره يې غوږونه، سترګې او زړونه درکړل، کېدای شي شکر وباسئ. (د النحل سورت: ۷۸ ايت).**

الله پاک ټول دغه کائنات پيدا کړل، انسان يې پيدا کړ او ټول هغه غړي او قواوې يې ورته چمتو کړې چې اړتيا ورته لري، بيا يې پر هر هغه څه مرسته وکړه چې د الله د عبادت په تر سره کولو او د ځمکې په ابادولو کې مرسته ورسره کوي، بيا يې ټول هغه څه ورلره تابع کړل چې په اسمانونو او ځمکه کې دي.

او الله له خپل لورې د دغو لويو مخلوقاتو پر پيداکولو د خپل ربوبيت لپاره دليل وړاندې کړ چې د هغه الوهيت ته مستلزم دی؛ نو الله پاک وفرمايل: **ووايه: څوک تاسې ته له اسمانه او ځمکې روزي درکوي، څوک د اورېدو او ليدو واک لري او څوک له مړه ژوندی را باسي او**

له ژوندي مړ را باسي او څوک د چارو تدبير نيسي، ژر به هغوی ووايي چې: الله، نو ووايه: بيا ايا تاسې نه وېرېږئ. (د يونس سورت: ۳۱ ايت)

او الله پاک فرمايلي: ووايه: تاسو ما ته د هغو (معبودانو) خبر راکړئ چې تاسې يې له الله نه غير رابلئ، تاسو ما ته راوښيئ دوی په ځمکه کې څه پيداکړي دي؟ يا دوی لره په (په پيداکولو د اسمانونو کې څه شراکت شته؟ تاسو ما ته له دغه (قرآن) نه مخکې کوم کتاب راوړئ، يا له علمه څه باقي علامه، که تاسې رېښتني ياستئ! (د الأحقاف سورت: ٤ ايت)

او الله تعالی فرمايلي: اسمانونه يې پرته له ستنو پيداکړي چې تاسې يې وينئ، او په ځمکه کې يې کلک ولاړ غرونه اچولي چې پرتاسې ونه خوځېږي او خواره کړي يې دي په دې (ځمکه کې) هر قسمه خوځنده (زنده سر)، او له اسمانه مو اوبه را اورولي، چې پکې مو هر ډول غوره شينکياوې را ټوکولي دي، دا د الله پيدايښت دی؛ نو را وښاياست چې له هغه (الله) پرته دوی څه پيداکړي دي، بلکې ظالمان په ښکاره ګمراهۍ کې دي. (د لقمان سورت: ۱۰- ۱۱ ايتونه)

او الله پاک فرمايلي: ايا دوی پرته له يو څه (خالق) څخه پيدا شوي (او) که هغوی په خپله پيدا کوونکي دي؟ ايا هغوی اسمانونه او ځمکه پيدا

کړي؟ بلکې هغوی باور نه کوي. که له هغوی سره ستا د پالونکي خزانې دي؟ یا هغوی څه واکداران دي؟ (د الطور سورت: ۳۵-۳۷ ایتونه).

شیخ سعدي وېلي: **او دا د هغوی پر خلاف په داسې څه استدلال و چې هغوی به یا حق ته تسلیمېدل او یا به د عقل او دین له غوښتنې څخه وتل.** د ابن سعدي تفسیر: ۸۱۶.

**الله د هر هغه څه پیداکوونکی دی چې په کائناتو کې یې مور وینو، یا یې نه وینو، او له هغه پرته ټول یې له مخلوقاتو څخه مخلوق دي او الله اسمانونه او ځمکه په شپږو ورځو کې پیداکړي.**

الله د هر هغه څه پیداکوونکی دی چې په کائناتو کې یې مور وینو، یا یې نه وینو، او له هغه پرته ټول یې له مخلوقاتو څخه مخلوق دي، الله تعالی فرمايلي: ووايه: د اسمانونو او ځمکې پالونکی څوك دی؟ ووايه: الله دی. ورته ووايه ښه نو ایا له هغه پرته مو ځانو ته داسې دوستان نیولي دي چې هغوی خپله د ځان لپاره د ګټې او تاوان واك نه لري، ووايه: آیا ړوند او سترګور (بینا) سره برابر دي؟ یا تیارې او رڼا سره برابرې دي؟ او کنه هغوی له الله سره داسې شریکان نیولي چې د هغه غوندې پیدایښت دوی هم کړی نو د پیدایښت خبره پر دوی ګډه وډه شوې، ووايه: الله د هر څه پیداکوونکی او همغه یو دی، ډېر غالب دی. (د الرعد سورت: ۱۶ ایت)

او الله تعالی فرمايلي: او پيداکوي هغه څه چې تاسو يې نه پيژنئ. (د النحل سورت: ۸ ايت)

او الله اسمانونه او ځمکه په شپږو ورځو کې پيدا کړل، الله تعالی فرمايي: هغه ذات چې اسمانونه او ځمکه يې په شپږو ورځو کې پيداکړي، بيا پر عرش باندې برقراره شو، پر هغه څه پوهيږي چې په ځمکه کې ننوځي او څه چې ترې راوځي، او څه چې له اسمانه را نازليږي او څه چې پکې خيژي، او هغه (الله د خپل شان لايق) ستاسو سره دی چيرې چې ياست، او د هغه څه ليدونکی دی چې تاسو يې کوئ. (د الحديد سورت: ٤ ايت)

او الله تعالی فرمايلي: او يقينا مونږ پيداکړي اسمانونه او ځمکه او هغه څه چې د دې دواړو په منځ کې دي، په شپږو ورځو کې، او مونږ ته هيڅ ستوماني نه ده رارسيدلې. (د ق سورت: ۳۸ ايت)

**او الله پاک لره نه په پاچايۍ، نه په پيدايښت، نه په تدبير او نه په عبادت کې شريک شته.**

او الله پاک هغه ذات دی چې د پاچايۍ څښتن دی، هغه لره نه په پيدايښت، نه په پاچايۍ او نه په تدبير کې کوم شريک شته، الله تعالی فرمايلي: ووايه: تاسو ما ته د هغو (معبودانو) خبر راکړئ چې تاسې يې د

الله نه غیر رابلئ، تاسو ما ته وښیئ چې دوی په ځمکه کې څه پیدا کړي دي؟ یا دوی لره په (پیدا کولو) د اسمانونو کې څه شراکت شته؟ تاسو ما ته له دغه (قرآن) نه مخکې کوم کتاب راوړئ، یا له علمه څه کومه نښه راته راوړئ که چیرې تاسي ریښتني یاستئ. (د الأحقاف سورت: ٤ ایت)

شیخ سعدي رحمه الله وېلي: معنا دا چې: ته ووایه دوی هغو خلکوته چې له الله سره یې داسې بتان او سیالان شریکان کړي دي چې نه د ګټې، نه د زیان، نه د مرګ، نه د ژوند او نه د بیا راپاڅولو واک لري، هغوی ته یې د بوتانو عاجزي بیان کړه او دا ورته بیان کړه چې دا بتان د بنده ګۍ کولو هیڅ حق هم نه لري: [راوښیئ چې هغوی له ځمکې څه پیدا کړي دي یا هغوی لره په اسمانونو کې کومه برخه شته؟ ایا هغوی د اسمانونو او ځمکې له اجرامو څه پیدا کړي؟ یا یې غرونه پیدا کړي؟ یا یې نهرونه روان کړي؟ یا یې څاروي خپاره کړي؟ یا یې ونې را شنې کړې؟ یا هغوی لره له دغه څخه د یو څه په پیدایښت کې کومه مرسته شته؟ له دغو څخه د هغوی په خپل اقرار هیڅ هم نشته چېرې به له هغوی پرته نور څه ووایي، نو دا یو عقلي قطعي دلیل چې له الله پرته د بل هر چا بنده ګي کول باطل دي.

بیا یې د نقلي دلیل نفي بیان کړه؛ نو ویې ویل: له دغه مخکې کوم داسې کتاب راوړئ چې شرک ته بلنه کوي، او یا د پوهې کوم اغېز چې له رسول څخه په

**ميراث پاتې وي چې پر دغه (شرک) امر کوي. ښکاره خبره ده چې هغوی د هيڅ رسول له لوري د داسې دليل پر راوړلو توان نه لري چې پر دغه دې دلالت وکړي، بلکې موږ يقين او باور لرو چې ټولو رسولانو د خپل پالونکي يووالي ته بلنه کوله او له هغه سره د شرک کولو نه يې منع کوله، او دا تر ټولو هغه لويه پوهه ده چې له هغوی رانقل شوې.** د ابن سعدي تفسير: ۷۷۹

او الله تعالی هغه دی چې د پاچايۍ څښتن دی، هغه لره په پاچايۍ کې کوم شريک نشته، الله تعالی فرمايلي: ووايه: **اې الله د پاچايۍ څښتنه! چاته چې وغواړې پاچايي ورکوې او چاته چې وغواړې پاچايي ترې اخلې، چاته چې وغواړې عزت ورکوې او چاته چې وغواړې ذلت ورکوې، ستا په لاس کې خير دی، پرته له شکه ته پر هر څه قدرت لرونکی يې. (د آل عمران سورت: ۲٦ ايت)**

او الله تعالی د دې خبرې په بيانولو سره چې بشپړه پاچايي هغه لره د قيامت په ورځ ده ويلي: **له هغې ورځې نه چې دوی به ښېخي ښکاره وي، له الله نه به د دوی هيڅ شي پټ نه وي، نن ورځ پاچايي د چا ده؟ خاص د الله (پاچايي ده) چې يو دی، ښه غالب دی. (د غافر سورت: ١٦ ايت).**

او الله تعالی لره په پاچايي، پيدايښت، تدبير او عبادت کې شريک نشته، الله تعالی فرمايلي: **او ووايه: ټولې ستاينې يوازې هغه الله لره**

دي چې نه يې زوی نيولی او نه هغه لره په پاچايۍ کې شريک شته او نه يې د بې وسۍ له امله څوک ملاتړ شته، او د هغه لويي بيانوه، بشپړه لويي. (د الإسراء سورت: ۱۱۱ ايت)

او الله تعالی فرمايلي: هغه ذات چې هغه لره د اسمانونو او ځمکي پاچايي ده، نه يې زوی نيولي، نه هغه لره په پاچايي کې کوم شريک شته او هر څه يې پيدا کړي، نو بشپړ درناوی يې وکړه. (د الفرقان سورت: ۲ ايت)

نوهغه مالک او له هغه پرته هرڅه د هغه مملوک دي، او هغه پيداکوونکی او له هغه پرته ټول د هغه مخلوق دي، او هغه داسې ذات دی چې د چارې تدبير نيسي، او څوک چې دا ډول وي؛ نو د هغه عبادت کول واجب دي او له هغه پرته د بل چا عبادت او بنده ګي کول د عقل کموالی دی او داسې شرک دی چې د دنيا او آخرت له منځه وړونکی دی، الله تعالی فرمايلي: او هغوی وويل: يهود يا نصارا شئ ترڅو لار ومومئ، ووايه، بلکې حق ته مايل د ابراهيم ملت شئ او هغه له مشرکانو څخه نه و. (د البقره سورت: ۱۳۵ ايت)

او الله تعالی فرمايلي: او له هغه چاڅخه په دين کې څوك غوره دی چې الله ته يې ځان تسليم کړی، حال داچې ښېګڼې والا دی او د حق پلوي ابراهيم په دين پسې روان وي او الله خو ابراهيم خپل دوست نيولی. (د النساء سورت: ۱۲۵ ايت)

او هغه پاک او حق ذات دا خبره بیان کړې چې څوک د ابراهیم خلیل له ملت پرته د بل څه پیروي وکړي، نو هغه ځان کم عقل کړ، الله تعالی فرمايلي: او څوک دی چې د ابراهیم له ملت څخه مخ اړوي، پرته له هغه کس څخه چې خپل ځان يې جاهل کړی وي، او یقینا مونږه هغه (ابراهیم) په دنیا کې غوره کړی دی، او بېشکه هغه په اخرت کې خامخا له صالحانو څخه دی. (د البقره سورت: ۱۳۰ ایت).

**او الله پاک نه څوک زېږولي او نه له چا زېږېدلی او نه هغه لره کوم سیال شته او نه کوم مثال.**

او الله پاک نه څوک زېږولي او نه له چا زېږېدلی او نه هغه لره کوم سیال شته او نه کوم مثال. الله تعالی فرمايلي: ووایه: هغه الله یو دی. الله بې نیازه دی. نه له هغه څوک زېږېدلي او نه له چا زېږېدلی. او نه هغه لره هیڅ سیال شته. (د الإخلاص سورت: ۱- ٤ ایتونه)

او الله تعالی فرمايلي: د اسمانونو، ځمکې او د هغه څه رب دی چې تر منځه يې دي؛ نو د همغه بنده ګي وکړه او په عبادت يې ټینګ اوسه ایا د هغه کوم همنامې درته معلوم دی؟ (د مریم سورت: ٦٥ ایت)

او الله پاک فرمايلي: د اسمانونو او ځمکې پیدا کونکی دی. تاسو ته يې له تاسو څخه جوړې پیدا کړې او د څارویو يې هم جوړې پیدا

کړي، تاسو په هغې کې (همداسې) خپروي، د هغه غونډې څه نشته او همغه ښه اورېدونکی ښه ليدونکی دی. (د الشوری سورت: ۱۱ ایت)

**او الله پاک په هيڅ شي کې حلول نه کوي او نه له خپل مخلوق څخه په هيڅ شي کې جسد کيږي.**

او الله پاک په هيڅ شي کې حلول نه کوي او نه له خپل مخلوق څخه په هيڅ شي کې جسد کيږي او نه له هيڅ شي سره يو کيږي، دا ځکه چې الله پيدا کوونکی دی او له هغه پرته نور مخلوق دي، هغه پاتې کېدونکی دی او له هغه پرته نور پناه کېدونکي دي او هر څه د هغه په واک کې دي او هغه يې څښتن دی؛ نو له خپل مخلوق څخه په هيڅ شي کې حلول نه کوي او نه کوم څه د هغه په ذات کې حلول کوي، او الله پاک له هر څه لوی او تر هرشی ستر دی، الله تعالی پر هغه چا په رد کولو سره وايي چې هغه ګومان کړی چې الله په مسيح کې حلول کړی.

هغه کسان هرومرو کافر شوي چې وايي: الله خو همدا د مريمې زوی مسيح دی! ورته ووايه: ښه نو څوك د الله يو څه ايسارولای شي که هغه وغواړی چې د مريمی زوی مسيح، مور يې او په ځمکه کې چې هر څوك دي ټول تباه کړي؟ او (خاص) الله لره د اسمانو، ځمکې او څه يې چې تر منځه دي د هغو پاچايي ده، څه چې غواړي پيدا کوي يې او الله په هرڅه ښه قادر دی. (د المائده سورت: ۱۷ ایت)

او الله تعالی فرمايلي: يوازې الله لره ختيځ او لوېديځ دي، نو هر لوري ته چې مخ کړئ همغلته د الله مخ دی، پرته له شکه الله پراخه لورېيني والا او ښه پوه دی. او هغوی وويل الله زوی نيولی، هغه (الله) لره پاکي ده، بلکې په اسمانونو او ځمکه کې چې دي يوازې هغه لره دي، ټول هغه ته غاړه اېښودونکي دي. پرته له نمونې د اسمانونو او ځمکې پيداکوونکی دی، کله چې د يو څه پرېکړه کوي، نو يوازې ورته وايي: شه، هغه کيږي. (د البقره سورت: ۱۱۵– ۱۱۷ ايتونه).

او الله تعالی فرمايلي: او هغوی وويل: رحمان زوی نيولی دی. يقينا تاسو ډېره لويه د ګناه خبره کړی ده. نږدې ده چې اسمانونه ترې وچوي، ځمکه څيرې شي او غرونه دړې وړې را پرېوزي. له دې امله چې د رحمان لپاره يې د زوی دعوه کړې ده. او د رحمان لپاره نه ښايي چې زوی ونيسي. څه چې په اسمانونو او ځمکه کې دي الله ته د بنده په توګه ورتلونکي دي. په رېښتيا هغوی يې را ګير کړي او ښه يې شمېرلي دي. او هغوی ټول هغه ته د قيامت په ورځ يو يو ورتلونکي دي. (د مريم سورت: ۸۸– ۹۵ ايتونه)

او الله تعالی فرمايلي: الله همغه دی چې له هغه پرته بل حقدار د بنده ګۍ نشته همېشه ژوندی دی، د ټول عالم انتظام کوونکی دی، نه پرکالي پرې راځي او نه خوب، څه چې په اسمانونو کې دي

او څه چې په ځمکه کې (ټول) هغه لره دي، څوک دي چې د هغه په وړاندې پرته له هغه د اجازې یې سپارش وکړی شي؟ پر هر هغه څه پوهیږي چې د هغوی مخې یا یې شاته دي، او هغوی د هغه د علم نه هیڅ شی هم نشي راګیرولی مګر چې د هغه ورته خوښه وي، د هغه کرسۍ اسمانونه او ځمکه راځای (راګیر) کړي، او د دواړو (ځمکې او اسمان) ساتنه یې نه ستومانه کوي او هغه لوی اوچت ذات دی. (د البقره سورت: ۲۵۵ ایت)

نو څوک چې دا ډول وي او دا ډول یې مخلوق وي، هغه به څنګه له هغوی څخه په یو کې حلول کړل شي؟ یا به هغه لره زوی ونیسي؟ او یا به ئې له ځانه سره د بنده ګۍ حقدار جوړ کړي؟

**الله تعالی پر خپلو بندګانو مهربانه او رحم کوونکی دی، ځکه یې رسولان ولیږل او کتابونه یې نازل کړل.**

الله تعالی همغه دی چې پر خپلو بندګانو مهربانه او رحم کوونکی دی، پر بندګانو یې له رحم څخه دا دي چې هغوی ته یې رسولان لیږلي او کتابونه یې ورته نازل کړي دي، تر څو یې د کفر او شرک له تیارو د توحید او لارښوونې رڼا ته را وباسي، الله تعالی فرمایلي: همغه ذات دی چې پر خپل بنده یې څرګند آیتونه نازلوي، تر څو مو له تیارو رڼا ته را وباسي، او پرته له شکه الله پر تاسو مهربانه رحم کوونکی دی. (د الحدید سورت: ۹ ایت)

او الله تعالی فرمايلي: **او ته مو يوازې ټول عالم ته د رحمت په توګه لیږلې يې. (د الانبياء سورت: ۱۰۷ ايت)**

او الله خپل نبي ته امر وکړ تر څو بندګان پردې خبر کړي چې هغه بخښونکی او مهربان دی، الله تعالی فرمايلي: **زما بندګان پردې خبر کړه چې زه بښونکی مهربان يم. (د الحجر سورت: ٤٩ ايت)**

او د هغه له مهربانۍ او رحم څخه دا دي چې له خپلو بندګانو ضرر لرې کوي او ښېګڼه پرې نازلوي، الله تعالی فرمايلي: **او که الله کوم ضرر درته رسوي، نو له هغه پرته بل لرې کوونکی يې نشته، او که د ښېګڼې اراده درته ولري، نو د هغه د پېرزوينې ايساروونکی نشته، له بندګانو چې چاته وغواړي ورته رسوي يې، او هغه بښونکی مهربان دی. (د يونس سورت: ۱۰۷ ايت)**

**الله هغه پالونکی مهربان دی، يوازې همغه دی چې د قيامت په ورځ به له خلکو سره حساب کوي کله چې هغوی ټول له قبرونو يې راپورته کړي، نو هر چا ته به يې د کړې ښېګڼې او بدۍ بدله ورکړي؛ نو چا چې نېکی کړې وي په داسې حال کې چې مؤمن وي، هغه لره به تلپاتې لورېينې وي، او چا چې کفر او ناوړه کارونه کړي وي، هغه لره به په آخرت کې لوی عذاب وي**

الله پالونکی مهربان دی، يوازې همغه دی چې د قيامت په ورځ به له خلکو سره حساب کوي کله چې هغوی ټول له قبرونو را پاڅوي، چې هر

چا ته به د خپل ښه او بد عمل بدله ورکوي، نو که چا نېک کارونه کړي وي په داسې حال کې چې مؤمن وي، هغه لره به تلپاتې نعمتونه وي، او چا چې کفر کړی وي او ناروا کارونه يې کړي دي، هغه لره به د قيامت په ورځ لوی عذاب وي، د الله پر خپل مخلوق له بشپړ عدل، حکمت او رحمت څخه دا دي چې دغه دنيا يې د عمل کور ګرځولې ده او آخرت يې دويم کور ګرځولی چې هلته به بدله، حساب او ثواب وي، تر څو نېک عمله د خپل نېک عمل بدله ترلاسه کړي، بدکاره ظالم او بغاوت کوونکی د خپل بغاوت او ظلم سزا وګالي، او د دې لپاره چې ځينې خلک دا کار لرې ګڼي، نو الله زيات داسې دليلونه راوړي چې پر دې خبره دلالت کوي چې بېرته را پورته کېدل حق دي هيڅ شک پکې نشته. الله تعالی فرمايلي: **او د هغه له نښانو څخه دا دي چې ته زمکه وينې چې وچه (شاړه) ده خو کله چې اوبه ورباندې واوروو، نو سره وخوځېږي او راوپړسيږي، په رېښتيا همغه ذات چې هغه يې راژوندۍ کړه هرومرو د مړو راژوندی کوونکی دی، بېشکه هغه پر هر څه ښه قادر دی. (د فصلت سورت: ۳۹ ايت)**

او الله تعالی فرمايلي: **اې خلکو! که د بيا ژوندون په اړه په شك کې ياست، نو (خبر شئ) موږ تاسو له خاورې پيدا کړي ياست، بيا له نطفې، بيا د وينې له ټوټې، بيا د غوښې له بوټۍ څخه چې پوره شکل لرونکې**

هم وي او نيمګړي شکل والا هم، د دې لپاره چې تاسو ته (حقيقت) بيان کړو. او هره نطفه چې موږ يې وغواړو، تر ټاکلې نېټې يې په رحمونو کې تم کوو، بيا مو د ماشوم په بڼه را وباسو، بيا (مو روزنه کوو) تر څو چې خپلې ځوانۍ ته ورسېږئ. او ځينې له تاسو څخه (ژر) وفات شي او ځينې مو تر ناکاره عمره وځنډول شي (ان) چې له پوهېدو وروسته بيا په هيڅ نه پوهيږي. او ته خو ځمکه وينې چې وچه شاړه ده، بيا چې کله اوبه وروباندې راتويې کړو نو وخوځيږي، را ډېره شي او له هر ډول تاندو ښېنګياوو راټوکوي. (د الحج سورت: ٥ ايت)

الله پاک په دغه ايت کې درې داسې عقلي دلايل بيان کړل چې پر بېرته را ژوندي کېدو دلالت کوي او هغه عبارت دي له:

١. دا چې الله لومړی انسان له خاورې پيداکړ، او چا چې له خاورې پيداکړی وي، نو هغه يې ژوندون ته پر بېرته راګرځولو هم ځواکمن دی کله چې هغه خاورې وي.

٢. دا چې چا له نطفې څخه انسان پيداکړی وي، هغه پر دې ځواکمن دی چې انسان د هغه له مړينې وروسته بېرته ژوند ته راوګرځوي.

٣. او دا چې چا ځمکه د هغې له شاړېدو وروسته را ژوندۍ کړې ده، د خلکو له مړينې وروسته د هغوی پر بېرته را ژوندي کولو هم ځواکمن دی، او په دغه ايت کې د قرآن پر اعجاز لوی دليل

دی، نو دغه آیت سره له دې چې اوږد هم ندی څه ډول پر یوه لویه مسئله دغه درې څرګند عقلي دلیلونه را جمع کړي دي.

او الله تعالی فرمايلي: هغه ورځ چې موږ اسمان داسې راونغاړو لکه د لیکل شویو پاڼو نغښتل، څنګه چې لومړی ځل پیدایښت مو پیل کړی و، همغسې به یې بیا راګرځوو، دا پر موږ ژمنه ده موږ خامخا د دې کارکوونکي یو. ((د الانبیاء سورت: ۱۰٤ ایت)

او الله تعالی فرمايلي: او زموږ لپاره بېلګه بیانوي او خپل پیدایښت یې هېر کړی، وايي څوك به دا هډوکي راژوندي کوي په داسې حال کې چې وراسته رژېدلي وي. ووایه: هغه ذات به یې راژوندي کوي کوم چې په لومړي ځل یې پیدا کړي او همغه پر هر ډول پیدایښت ښه پوه دی. (د یس سورت: ۷۸ ایت)

او الله تعالی فرمايلي: آیا تاسې د پیدایښت له پلوه سخت یاست او که آسمان چې جوړ کړی یې دی. د هغه چت یې اوچت کړی دی، نو بیا یې برابر جوړ کړی دی. او د هغه شپه یې تیاره کړې ده او د ده رڼا یې راوېستلې ده. او له هغه وروسته یې ځمکه غوړولې ده. د هغې اوبه او شینکیا یې ترې را اېستلي دي. او غرونه یې ټینګ محکم کړي دي. (د النازعات سورت: ۲۷- ۳۲ ایتونه).

او الله دا خبره بیان کړه چې د انسان پیداکول د اسمان، ځمکې او څه چې د هغو دواړو ترمنځه دي د هغو تر پیدايښت سخت نه دي، نو څوک چې د اسمانونو او ځمکې پر پیداکولو ځواکمن دی، هغه د انسان له دويم ځل را ګرځولو څخه بې وسه نه دی.

**الله پاک آدم له خاورې پیداکړ، او له هغه وروسته يې اولاد همداسې زياتېدلو، نو ټول خلک د خپل اصل له پلوه سره برابر دي، يو جنس پر بل جنس او نه يو قوم پر بل قوم غوراوی لري مګر د تقوا له مخې.**

الله تعالی آدم له خاورې پیداکړ، او له هغه وروسته يې اولاد همداسې زياتېدلو، نو ټول خلک د خپل اصل له پلوه سره برابر دي، نه يو جنس پر بل جنس او نه يو قوم پر قوم غوراوی لري مګر د تقوا له مخې.

الله تعالی فرمايلي: اې خلکو! تاسو مو له يو نارينه او ښځينه څخه پیداکړي ياست، بيا مو بېلابېل ملتونه او قبيلې ګرځولي ياست تر څو يوبل وپېژنئ، پرته له شکه د الله په وړاندې په تاسو کې عزتمن هغه دی چې زيات پرهېزګاره وي، پرته له شکه الله ښه پوه خبر لرونکی دی. (د الحجرات سورت: ۱۳ ايت)

او الله تعالی فرمايلي: الله تاسې (لومړی) له خاورې پیدا کړئ، بيا له يو څاڅکي منې، بيا يې جوړه جوړه کړئ او د هغه له پوهې پرته نه کومه

ښځینه بلاربیږي او نه یې زیږوي او نه د پاخه عمر والا عمر اوږدیږي او نه یې له عمره څه کمیږي مګر (دا هر څه) په کتاب کې (ثابت) دي، په رېښتیا دا (کارونه) پر الله اسانه دي. (د فاطر سورت: ۱۱ ایت)

او الله تعالی فرمایلي: همغه ذات دی چې تاسې یې له خاورې پیدا کړئ، بیا له یو څاڅکي (مني) بیا د وینې له ټوټې، بیا مو د ماشوم په توګه را وباسي، بیا مو (لویوي) تر څو خپلې ځوانۍ ته ورسیږئ بیا تر دې چې بوډاګان شئ. او له تاسې څخه ځوك مخکې مري او (تاسې پرېږدي) چې ټاکلې نېټې ته ورسیږئ او د دې لپاره چې له عقله کار واخلئ. (د غافر سورت: ٦٧ ایت) او الله تعالی د دې خبرې په بیانولو سره چې د مسیح پیدایښت په کن ي امر سره و، لکه د خاورې څخه د آدم پیدایښت چې په کوني امر سره و، الله تعالی فرمایلي: پرته له شکه د الله په وړاندې د عیسی بېلګه لکه د آدم غوندې ده، هغه یې له خاورې پیدا کړ، بیا یې ورته وویل: شه، نو هغه شو. (د آل عمران سورت: ٥٩ ایت) او په دویمه فقره کې دا خبره تېره شوه چې نبي صلی الله علیه وسلم دا خبره بیان کړه چې انسانان سره برابر دي، یو لره پر بل غوراوی یوازې د پرهیزګارۍ له امله وي.

**او هر بچی پر فطرت پیداکیږي.**

او هر بچی پر فطرت پیداکیږي الله تعالی فرمايلي: نو سم برابر سوچه د دين په لور ورمخه کړه، په همغه (اصلي) پيدايښت ټينګ اوسئ چې په هغه سره الله خلك پيدا کړي، د الله پيدا کړي جوړښت لره څه بدلون نشته، همدا سم برابر دين دی خو زياتره خلك نه پوهيږي.
حنيفيت د ابراهيم خليل عليه السلام ملت دی، الله تعالی فرمايلي:
بيا مو تاته وحي وکړه چې د ابراهيم د سوچه دين پيروي وکړه او هغه له مشرکانو څخه نه و. (د النحل سورت: ۱۲۳ ايت)

او رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: هيڅ بچی نه پيدا کيږي مګر پر فطرت، بيا يې مور او پلار يهوديان، يا نصرانيان او يا هم مجوسيان ګرځوي، لکه څنګه چې سالمه اوښه سالم بچی زيږوي آيا تاسې په هغې کې کوم عيب احساسوئ. بيا ابوهريره رضي الله عنه وايي: د الله هغه فطرت چې خلک يې پر هغو پيداکړي دي، د الله پيدايښت لره هيڅ بدلون نشته، دغه سم نيغ دين دی خو ډيری خلک نه پوهيږي. (د الروم سورت: ۳۰ ايت) صحيح البخاري، حديث شميره ٤٧٧٥.

او رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: خبر اوسئ ماته مې پالونکي امر کړی، چې تاسو ته هغه څه وښيم چې نه پرې پوهيږئ

او ماته یې زما په دغه ورځ ښوولي دي، هر هغه مال چې یو بنده ته مې ورکړی حلال دی او ما مې خپل بندګان پر سوچه حنیفي دین پیداکړل، او هغوی ته شیطانان راغلل، نو له خپل دین څخه یې واړول او هغه څه یې پرې حرام کړل چې ما ورته حلال کړي وو، او هغوی ته یې امر وکړ چې له ما سره هغه څه شریک کړي چې هیڅ دلیل مې نه و پرې نازل کړی. مسلم روایت کړی، حدیث شمېره ۲۸٦٥.

**هیڅ بشر داسې نه دی چې ګناهکار وزېږول شي او یا د بل چا د ګناه وارث شي.**

هیڅ بشر داسې نه دی چې ګناهکار وزېږول شي او یا د بل چا د ګناه وارث شي. او الله تعالی له آدم علیه السلام څخه خبر راکوي چې کله هغه د الهي امر مخالفت وکړ؛ یعني هغه او مېرمنې یې حواء له ونې خوراک وکړ، پرته له شکه هغه پښېمانه شو، توبه یې واپستله او له الله څخه یې بخښنه وغوښته، نو الله هغه ته په زړه کې داخبره ورواچوله چې ځینې پاکې کلمې ووايي، چې هغه وویلې، نو الله د هغوی دواړو توبه قبوله کړه، الله تعالی فرمایلي: او موږ وویل: اې آدمه! ته او مېرمن دې په جنت کې اوسېږئ او له کوم ځایه مو چې خوښه وي پرېمانه خورئ او دغې ونې ته مه نږدې کېږئ، چې له تیری کوونکو به شئ. خو شیطان

ترې وشړل، نو له هغه ځایه یې بهر کړل چې پکې (مېشت) وو، او (بیا) مونږ وویل: کوز شئ، ستاسو ځیني به د ځېنو نورو لپاره دښمنان وي، او ستاسو لپاره په ځمکه کې تر یو وخته پورې استوګنه او فایده اخیستل دي. بیا نو آدم علیه السلام له خپل پالونکي یو څو ټکي ترلاسه کړل چې توبه یې ورقبوله کړه، رېښتیا چې همدی مهربان ښه توبه منونکی دی. مونږ وویل ټول ترې کوزشئ خو که زما له خوا کومه لارښوونه درته راغله، نو چا چې زما د لارښوونې پیروي وکړه، پر هغو به نه کومه وېره وي او نه به خپه کیږي. (د البقره سورت: ۳۵- ۳۸ ایتونه).

او کله چې الله د آدم علیه السلام توبه قبوله کړه نو نور هغه ګناهګار پاتې نشو، له همدې امله اولاد ته یې ګناه په میراث پاتې نشوه، ځکه هغه په توبه اېستلو سره له منځه ولاړه او اصل هم همدا دی چې یو انسان د بل ګناه پر غاړه نه اخلي، الله تعالی فرمایلي: او هیڅ یو نفس ګناه نه کوي مګر د خپل ځان په ضرر یې کوي، او هیڅ بار وړونکی به د بل بار نه وړي. بیا مو خپل رب ته ورستنېدل دي، نو پر هغه څه به مو خبر کړي چې اختلاف مو پکې کاوه. (الانعام سورت: ۱٦٤ ایت)

او الله تعالی فرمایلي: چا چې نېغه لاره ونیوله، نو همدا خبره ده چې هغه د خپل ځان (د فایدې) لپاره نېغه لاره نیسي، او څوک

چې بې لارې شو، نو همدا خبره ده چې هغه د همدغه (نفس) په ضرر بې لارې کېږي، او هیڅ بار اوچتوونکی د بل بار نه اوچتوي، او مونږ کله هم عذاب ورکوونکي نه یو تر هغه پورې چې رسول ولېږو. (الاسراء سورت: ۱۵ ایت)

او الله تعالی فرمایلي: او هیڅ بار وړونکی به د بل (د ګناه) بار نه وړي. او کوم دروند باري که خپل بار ته بل څوك رابولي نو د هغه هیڅ شی به نه شي پورته کولی که څه هم خپلوان یې وي. رښتیا خبره داده چې ته یوازې هغه خلك وېرولی شې چې په غیبو له الله څخه وېرېږي او لمونځ قایموي، او چا چې ځان پاك کړ؛ نو د خپل ځان لپاره یې پاك کړ او یوازې الله ته ورتګ دی. (د فاطر سورت: ۱۸ ایت)

**او د خلکو له پیدایښت څخه موخه دا ده: چې یوازې د الله عبادت وکړي.**

او د خلکو له پیدایښت څخه موخه داده: چې یوازې د الله عبادت وکړي. الله تعالی فرمایلي: او ما پېریان او انسانان نه دي پیدا کړي مګر د دې لپاره چې دوی زما عبادت وکړي. (د الذاریات سورت: ٥٦ ایت).

**اسلام انسان ته عزت ورکړی -که نارینه دی او که ښځینه-، او د هغه د بشپړ حقوقو کفالت يې کړی، د ټولو اختياراتو، اعمالو او تصرفاتو مسئول يې ګرځولی او د هغه عمل چې ځان يا نورو ته ضرر رسوي مسئوليت يې ور په غاړه کړی دی.**

اسلام له انسان څخه د نارينه و او ښځينه و درناوی کړی، پس الله تعالی انسان پيدا کړ ترڅو په ځمکه کې ځای ناستی شي، الله تعالی فرمايلي: او درېه ياد کړه هغه وخت چې کله ستا رب پرېښتو ته وويل: پرته له شکه زه په ځمکه کې د ځای ناستي پيداکوونکی يم. (د البقره سورت: ۳۰ ايت)

او دغه درناوی د آدم ټولې اولادې ته شامل دی، الله تعالی فرمايلي: او په رېښتيا موږ بني آدم ته درناوی ورکړی، هغوی مو په وچه او درياب کې پورته کړي دي او پاک شيان مو په روزی ورکړي دي او هغوی ته مو په ډېرو هغو شيانو غوراوی ورکړی چې پيداکړي مو دي په غوراوي ورکولو سره. (د الاسراء سورت: ۷۰ آيت)

او الله تعالی فرمايلي: پرته له شکه موږ انسان په تر ټولو ښکلي شکل کې پيدا کړی دی. (د التين سورت: ٤ ايت).

او الله انسان له دې څخه منع کړی چې خپل ځان له الله پرته د بل معبود، پيروي شوي او اطاعت کړل شوي لپاره پيرو او تابع وګرځوي،

الله تعالی فرمايلي: او په خلکو کې ځينې هغه څوک دي چې له الله نه غير شريکان نيسي، له هغوی سره مينه کوي له الله سره د مينې په شان، او هغه کسان چې ايمان يې راوړی دی، له الله سره په مينه کې ډير سخت (او کلک) دي، او که چيرې هغه کسان چې ظلم يې کړی دی، دا ووينې، کله چې دوی عذاب ووينې، چې يقينا قوت ټول خاص د الله تعالی لپاره دی او دا چې يقينا الله ډير سخت عذاب ورکوونکی دی. کله چې هغه کسان چې اتباع يې کړی شوې وه، له هغو کسانو نه بېزاره شي چې اتباع يې کړې وه، او عذاب ووينې او ټولې اړيکې پرې وشلېږي. (د البقره سورت: ١٦٥- ١٦٦ ايتونه.

او الله تعالی د قيامت په ورځ په باطل سره د پيروانو او د هغوی د مشرانو د حال په بيانولو سره وفرمايل: لويې کوونکي به کمزورو ته ووايي چې آيا له هغه وروسته هم موږ له لارښوونې ايسار کړي وئ چې درته راغله؟ خو نه په اصل کې ( په خپله) تاسو مجرمان وئ. او (بيا به) کمزوري ګڼل شوي کسان لويې کوونکو ته ووايي چې نه په اصل کې همدا ستاسو د شپې او ورځې چلونه وو چې موږ ته مو امر کولو تر څو پر الله کفر وکړو او له هغه سره شريکان ونيسو. او کله چې عذاب ووينې نو هغوی (ټول) به په پټه (ډېره) پښېماني

وکړي. او کومو کسانو چې کفر کړی په غاړو کې به يې ځنځيرونه ورواچوو. ايا له هغو عملونو پرته چې هغوی به کول د بل څه بدله به ورکول کيږي؟. (د سبا سورت: ۳۲– ۳۳ ايتونه.)

او د قيامت په ورځ د الله تعالی له بشپړ عدالت څخه دا هم ده چې (باطل ته) دعوت کوونکو او لار ورکوونکو مشرانو ته به يې خپل ګناهونه او د هغو خلکو ګناهونه ور بار کړي چې پرته له پوهې يې لارورکې کړي دي، الله تعالی فرمايلي: د دې لپاره چې د قيامت په ورځ خپل بارونه پوره پورته کړي او هغه خلکو له بارونو څخه هم چې بغير له پوهې يې ګمراه کوي، خبردار شئ! بد دی هغه څيز چې دوی يې باروي. (د النحل سورت: ۲۵ ايت).

او اسلام د انسان لپاره په دنيا او آخرت کې د بشپړه حقوقو کفالت کړی دی، او تر ټولو لوی هغه حقوق چې اسلام يې کفالت کړی او د خلکو لپاره يې بيان کړي دي: د الله حق پر خلکو او د خلکو حق پر الله دی.

له معاذ رضي الله عنه څخه روايت دی هغه فرمايي: **زه د نبي صلی الله عليه وسلم سره شاته سپور وم چې ويې فرمايل: اې معاذه! ما وويل: حاضر يم او ستا خادم يم، بيا يې درې ځلې داسې وويل: آيا پوهيږې چې د الله حق پر بندګانو څه دی؟ ما وويل: نه، هغه وفرمايل: د الله**

**حق پر بندګانو دا دی چې د هغه عبادت وکړي او هیڅ شی ورسره شریک نه کړي، بیا یې یو ساعت مزل وکړ، بیا یې وویل: اې معاذه! ما ورته وویل: حاضر یم او خادم دې یم، هغه وفرمایل: ایا پوهېږې چې د بندګانو حق پر الله څه دی چې کله هغوی دا وکړي: هغه دا چې هغوی ته عذاب ورنه کړي.** صحیح بخاري، حدیث شمېره ٦٨٤٠

او اسلام د انسان لپاره د هغه د حق دین، اولاد، مال او عزت کفالت کړی دی. نبي صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: **پرته له شکه الله پر تاسو ستاسې وینې، مالونه او عزتونه داسې حرام کړي دي لکه د دغې ورځې په دغه میاشت او دغه ښار کې حراموالی. صحیح بخاري، حدیث شمېره ٦٥٠١ او رسول صلی الله علیه وسلم د دغه لوی تړون اعلان په حجة الوداع کې وکړ چې له یولک زیات صحابه پکې حاضر وو، او دغه خبره یې څو څو ځلې تکرار کړه او د حجة الوداع د نحر په ورځ یې ډېر ټینګار پرې وکړ.**

او اسلام انسان د خپلو ټولو اختیاراتو، اعمالو او تصرفاتو په اړه مسؤول ګرځولی، الله تعالی فرمایلي: **اوهر انسان لره مونږ هغه ته خپل عمل د هغه په غاړه کې لازم کړی دی، او د قیامت په ورځ به ده ته یو کتاب راوباسو چې ورسره به مخامخ شي، په داسې حال کې چې**

غوړېدلی به وي. ته خپل کتاب ولوله، نن ورځ ستا په خلاف هم ستا خپل نفس کافی دی، حساب کوونکی. (د الاسراء سورت: ۱۳ ایت)

معنا دا چې کوم ښه یا بد عمل یې کړی وي هغه به ورسره لازم وي بل چا ته به ترې تجاوز نه کوي، نو د بل چا پر عمل به حساب نه ورسره کیږي او نه به له بل چا سره د هغه پر عمل حساب کیږي. الله تعالی فرمايلي: اې انسانه! ته د خپل رب لور ته (ورتلو پورې) زحمت اېستونکی او بیا ورسره مخامخېدونکی یې. (د الانشقاق سورت: ٦ ایت)

او الله تعالی فرمايلي: چا چې ښه کار وکړ؛ نو د ځان لپاره یې دی، او چا چې بد کار وکړ؛ نو پر همغه یې وبال دی، او ستا پالونکی پر بندګانو ظلم کوونکی نه دی. (د فصلت سورت: ٤٦ ایت)

او اسلام پر انسان د هر هغې کړنې مسؤولیت ور اچوي چې خپل ځان یا نورو ته ضرر رسوي، الله تعالی فرمايلي: او څوک چې ګناه ترسره کړي؛ نو د ځان پرخلاف یې ترسره کړې ده، او الله ښه پوه حکمت والا دی. (د النساء سورت: ۱۱۱ ایت)

او الله تعالی فرمايلي: له همدې امله مو په بني اسرائیلو فرض کړي وو چې که چا بل داسې څوک ووژل چې نه یې قتل کړی و او نه په ځمکه کې فساد، نو دا داسې دی لکه ټول انسانان یې چې یې وژلي

وي او څوک چې د يو چا د ژوند لامل شي دا داسې دی لکه ټول انسانان يې چې ژوندي کړي وي. (د المائده سورت: ۳۲ ايت)

او رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: هر څوک چې په ظلم وژل کيږي د آدم د لومړني زوی پر ذمه يې هم ګناه وي، ځکه هغه لومړنی هغه څوک و چې د قتل د لارې بنسټ يې کېښود. صحيح مسلم، حديث شميره ۵۱۵۰

**اسلام نارينه او ښځينه د عمل، مسؤوليت، بدلې او ثواب له پلوه سره برابر ګرځولي دي.**

اسلام نارينه او ښځينه د عمل، مسؤوليت، بدلې او ثواب له پلوه سره برابر ګرځولي دي. الله تعالی فرمايلي: او هر څوک چې ښه کارونه کوي هغه که نارينه وي او که ښځينه په داسې حال کې چې مومن وي، نو همدوی به جنت ته ننوځي او د خرما د زړي د نري پوستکي په اندازه به ظلم نه ورسره کيږي. (د النساء سورت: ۱۲٤ ايت)

او الله تعالی فرمايلي: څوک چې نېک عمل وکړي هغه بيا که نارينه وي او که ښځينه په داسې حال کې چې مؤمن وي، هرومرو به يې په غوره ژوند سره را ژوندي کړو، او هرومرو به يې د غوره هغو کارونو بدله ورکړو چې کول يې. (د النحل سورت: ۹۷ ايت)

او الله تعالی فرمايلي: څوک چې بد کار وکړي يوازې د هغو غوندې بدله به ورکړل شي، او څوک چې ښه کار وکړي هغه بيا که نارينه وي او که ښځينه په داسې حال کې چې مؤمن وي؛ نو همدوی به جنت ته ننوځي په هغو کې به پرته له حساب روزي ورکول کيږي. (د غافر سورت: ٤٠ ايت)

او الله تعالی فرمايلي: بېشکه مسلمان نارينه او مسلمان ښځينه وو ته، مؤمن نارينه او مؤمنو ښځينه وو ته، پيروي کوونکو نارينه او پيروي کوونکو ښځينه وو ته، رښتيني نارينه او رښتينې ښځينه وو ته، صبر کوونکو نارينه او صبر کوونکو ښځينه وو ته، عاجزي کوونکو نارينه او عاجزي کوونکو ښځينه وو ته خيرات کوونکو نارينه او خيرات کوونکو ښځينه وو ته، روژه نيوونکو نارينه او روژه نيوونکو ښځينه وو ته، د خپلو عورتونو ساتونکو نارينه او ساتونکو ښځينه وو ته، د الله ډېر يادوونکو نارينه او يادوونکو ښځينه وو ته، دوی ټولو ته الله بښنه او ستر اجر چمتو کړی دی. (د الاحزاب سورت: ٣٥ ايت)

**اسلام ښځې ته درناوی ورکړی او ښځې يې د نارينه وو سيالانې وګرځولې او پر سړي يې له توان سره نفقه لازمه کړه؛ نو د لور نفقه يې پر پلار او د مور پر بالغ توان لرونکي زوی او مېرمنې پر مېړه واجبه کړه.**

اسلام ښځې د نارينه وو برابرې وګرځولې.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي: **پرته له شکه ښځې د نارينه برابرې دي.** ترمذی روايت کړی، شمېره ۱۱۳

او ښځې ته د اسلام له درناوي څخه دا دي چې اسلام د مور نفقه پر زوی واجبه کړې ده کله چې هغه توان ولري. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي: **ورکوونکی پورته لاس غوره دی، او په ورکړه کې له مور، پلار، خور، ورور، نېږدې او نېږدې څخه پيل کوه.** امام احمد روايت کړی. او ژر به په ۲۹ مه فقره کې د الله په امر سره د مور او پلار د مرتبې بيان راشي.

او ښځې ته د اسلام له درناوي څخه دا دي چې پر مېړه يې د مېرمنې نفقه واجبه کړې ده که چېرې هغه توان ولري. الله تعالی فرمايلي: **په کار ده چې شتمن له خپلې شتمنۍ لګښت وکړي او پر چا چې روزي تنګه شوې وي نو څه چې الله ورکړي وي له همغو دې خرچه کوي. الله څوك پر بل شي نه مکلف کوي پرته له هغه چې ورکړي يې وي، زر دی چې الله به له تنګستيا وروسته اسانې راولي. (د الطلاق سورت: ۷ ايت)**

يو سړي له نبي صلی الله علیه وسلم څخه پوښتنه وکړه: **د ښځې پر مېړه څه حق دی؟ هغه وفرمايل: خوراک به ورکوي کله چې په خپله خوراک کوي، جامې به ورکوي کله چې په خپله جامې**

**اغوندي، پر مخ به يې نه وهي او نه به يې شكل ورخرابوي (بد رد به ورته نه وايي).** امام احمد روايت كړى.

**رسول الله صلى الله عليه وسلم د ښځو پر مېړونو د ځينو حقوقو په بيانولو سره ويلي: او د هغوى پر تاسو په ښه ډول د هغوى روزي او د هغوى جامې دي.** صحيح مسلم روايت كړى.

**او رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: د سړي د ګناه لپاره دا بسنه كوي چې هغه څوك ضايع كړي چې نفقه يې پرې لازمه وي.** امام احمد روايت كړى.

او خطابي ويلي: **د هغه دا وينا چې "من يقوت" له دې څخه هغه څوك مراد دي چې نفقه يې پرې لازمه وي، معنا دا چې ګواكې دا يې لګښت كوونكي ته وويل: چې (د خپل اهل پر ځاى) په هغه څه لګښت مه كوه چې كوم خير پكې نه وي ځكه ته به پر به بل څه په لګښت كولو كې اجر غواړې، خو هغه به درته ګناه وګرځي كله چې ته خپل اهل ضايع كوې.**

او ښځې ته د اسلام له درناوي څخه دا دي چې اسلام د لور نفقه د هغې پر پلار واجبه كړې ده.

الله تعالى فرمايلي: **او مېندې به خپلو اولادونو ته بشپړ دوه كاله شېدې وركوي، دا حكم د هغه چا لپاره دى چې پوره شېدې**

ورکول وغواړي، او بچی چې د چا لپاره وي پر هغوی په ښه توګه د میندو نفقه او جامې دي. (د البقره سورت: ۲۳۳ ایت)

نو الله دا خبره بیان کړه چې د کوم پلار لپاره چې بچی زیږول کیږي پر هغه په ښه توګه یې خوراک او جامې لازمې دي، د الله تعالی د دغې وینا له مخې: که هغوی ستاسو لپاره شیدې ورکړې؛ نو هغوی ته یې مزدوري ورکړئ. (د الطلاق سورت: ٦ ایت)

نو الله د بچي د شیدې ورکولو مزدوري پر پلار واجبه کړه، چې دا خبره پر دې دلالت کوي چې د بچي نفقه پر پلار ده او بچی نارینه او ښځینه دواړو ته شامل دی، او په راتلونکي حدیث کې پر دې دلالت دی چې د مېرمنې او د هغې د اولادونو نفقه پر پلار واجبه ده.

له عائشې رضي الله عنها څخه روایت دی: چې هندې نبي صلی الله علیه وسلم ته وویل: چې ابوسفیان یو بخیل سړی دی نو زه د هغه له مال څخه د یو څه اخیستلو ته اړتیا لرم، هغه وویل: دومره واخله چې په ښه توګه ستا او بچي لپاره دې بسنه کوي. بخاري روایت کړی.

او نبي کریم صلی الله علیه وسلم پر لورګانو او خویندو د لګښت کولو فضیلت بیان کړ؛ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: چا چې د دوو یا دریو لورګانو، یا دوو خویندو او یا هم دریو خویندو پالنه

وکړه، تر دې چې له هغوی بېل شو او یا ترې مړ شو، نو زه او هغه به ( په جنت کې) د دغو دوو ګوتو غوندې نېږدې وو او د شهادت او په منځنۍ ګوتو یې اشاره وکړه. السلسلة الصحيحة، شمېره ۲۹٦.

**مرګ د تل لپاره له منځه تلل نه دي بلکې هغه د عمل له کوره د بدلې کور ته تګ دی، مرګ جسد او روح دواړو ته رسیږي، د روح مرګ له بدن څخه بېلوالی دی، بیا د قیامت په ورځ له را پاڅېدلو وروسته بېرته ورته راستنیږي، او له مرګ وروسته روح بل هیڅ جسد ته نه انتقالیږي او نه په بل جسد کې ننوځي.**

مرګ د تل لپاره له منځه تلل نه دي، الله تعالی فرمایلي: ووایه: **هغه پرېښته مو مړه کوي چې دربانديې ګومارل شوې ده» بیا به خپل پالونکي ته ورګرځول کېږئ. (د السجده سورت: ۱۱ ایت)**

مرګ جسد او روح دواړو ته رسیږي، د روح مرګ له بدن څخه بېلوالی دی، بیا د قیامت په ورځ له را پاڅېدلو وروسته بېرته ورته راګرځي، الله تعالی فرمایلي: **(همغه) الله د مرګ په وخت کې ساګاني اخلي او د کومو چې مرګ نه وي راغلی په خوب کې (یې اخلي) بیا چې په هر چا د مرګ پرېکړه شوې وي هغه ایساروي او نورې تر یوې ټاکلې نېټې بېرته رالیږي. په دې کې په رېښتیا د**

هغو خلکو لپاره ډېرې نښانې دي چې فکر کوي. (د الزمر سورت: ٤٢ ایت)

او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي: پرته له شکه روح چې کله قبض کړل شي سترګې ور پسې ختلې وي. مسلم روايت کړی شمېره ٩٢٠.

او له مرګ وروسته انسان د عمل له کوره د بدلې کور ته انتقاليږي، الله تعالی فرمايلي: د همغه لوري ته ستاسو ټولو ورستنېدل دي، د الله ژمنه رېښتینې ده بېشکه همغه پیدایښت پیل کوي بیا یې همغه دويم ځل پیدا کوي تر څو هغو خلکو ته چې ایمان یې راوړی او سم کارونه یې کړي په عدالت سره بدله ورکړي. او چا چې کفر کړی هغوی لره به د خوټېدلو اوبو څښاك او دردوونکی عذاب وي، په دې چې هغوی به کفر کولو. (د یونس سورت: ٤ ایت)

او له مرګ وروسته روح بل جسد ته نه انتقاليږي او نه په بل جسد کې ننوځي، نو د استنساخ پر دعوا نه عقل او نه حس دلالت کوي او نه کوم نقل شتون لري چې له نبیانو څخه د دغې عقیدې شاهدي ورکړي.

**اسلام ایمان ته بلنه کوي د ایمان لویو اصولو ته چې هغه پر الله او د هغه پر پرښتو ایمان دی، پر الهي کتابونو لکه د تورات، انجیل او زبور له تحریف مخکې پر هغو ایمان، پر قرآن ایمان، پر ټولو نبیانو او رسولانو علیهم السلام ایمان، او د هغوی د لړی پر پای ته رسوونکي ایمان چې هغه د الله استازی محمد د نبیانو او رسولانو ختم کوونکی دی. د آخرت په ورځ ایمان، او موږ پوهېږو چې که د دنیا ژوند د هرڅه پای وي، نو ژوندون او شتون به له هر اړخه بې گټې و. او په قضاء او قدر ایمان راوړل.**

اسلام ایمان ته بلنه کوي د ایمان هغو لویو اصولو ته چې ټولو نبیانو او رسولانو علیهم السلام بلنه ورته کوله او هغه دادي:

**لومړی:** پردې ایمان چې الله پالونکی، پیدا کوونکی، روزي ورکوونکی د دغې نړۍ تدبیر نیوونکی دی او دا چې یوازې هغه د عبادت وړ دی او له هغه پرته د بل چا عبادت باطل دی او له هغه پرته بل معبود باطل دی، نو له هغه پرته نه څوک د عبادت وړ دي او نه عبادت ورته صحیح دی.

او د دغې مسئلې دلایل په اتمه فقره کې تېر شول.

او الله پاک دغه لوی اصول په زیاتو آیتونو کې بیان کړي چې په قرآن عظیم الشان کې خواره واره دي چې له هغو څخه د الله تعالی دا وینا ده:

رسول پر هغه څه ایمان راوړی چې د خپل پالونکي له لوري ورته نازل

شوي او مؤمنانو هم، ټولو ایمان راوړی پر الله، پرېښتو یې، کتابونو یې او رسولانو یې (هغوی وایي چې) له رسولانو یې د یوه تر منځ هم توپیر نه کوو او وایي: اورېدلي او منلي مو دي، مونږ ستا نه بخښنه (غواړو) زمونږ ربه! او خاص ستا په لور (ستنېدل) دي. (د البقره سورت: ۲۸۵ ایت)

او الله تعالی فرمایلي: (یوازې) دا نیکي نه ده چې مخونه مو ختیځ او (یا) لوېدیځ ته وګرځوئ بلکې نیکی دا ده چې څوك پر الله، وروستۍ ورځ، پرېښتو، کتاب او نبیانو ایمان راوړي او (خپل) مال سره له مینې (اړتیا) خپلوانو، یتیمانو، بې وزلو، لاروي مسافرو) او سوالګروته ورکوي او په مرییانو) ازادولو کې یې (لګوي) او بشپړلمونځ کوي، زکات ورکوي، چې کله ژمنه وکړي نو په خپلو ژمنو درېدونکي وي، او په کړاوونو، رنځونو او د جګړې پر مهال صبر کوونکي وي، دا خلك همدوی رېښتیا ویلي او همدوی ځان ساتونکي دي. (د البقره سورت: ۱۷۷ ایت)

او الله تعالی په دغو اصولو ایمان ته بلنه ورکړې او دا خبره یې بیان کړې چې څوک کفر پرې وکړي؛ نو هغه په لرې لاروړکۍ سره لاروړکی شوی دی، الله تعالی فرمایي: اې هغو کسانوچې ایمان مو راوړی! پر الله د هغه پر رسولانو او پر هغه کتاب ایمان راوړئ چې پر خپل رسول یې نازل کړی دی او هغه کتاب چې له هغه مخکې یې

نازل کړی دی، او څوک چې پر الله د هغه پر پرېښتو، کتابونو، رسولانو يې او وروستۍ ورځ کفر وکړي؛ نو هغه په لرې لاروړکی سره لاروړکی شوی دی. (د النساء سورت:۱۳٦ آيت).

او په حديث کې له عمر بن خطاب رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايي: يوه ورځ موږ له رسول الله صلی الله عليه وسلم سره وو، چې ناڅاپه يو سړی راښکاره شو؛ تکې سپينې يې جامې وې او تک تور يې وېښتان و، پر هغه د سفر کومه نښه نه ښکارېده او له موږ هيچا هغه نه پېژندلو، تر دې چې نبي صلی الله عليه وسلم ته داسې کېښناست چې خپل زنګنونه يې د هغه له زنګنونو سره ولګول او لاسونه يې پر ورنو کېښودل او ويې ويل: اې محمده! له اسلامه خبر راکړه، رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: اسلام دا دی چې ته شاهدي ورکړې چې له الله پرته بل حق معبود نشته او دا چې محمد صلی الله عليه وسلم د الله رسول دی، بشپړ لمونځ وکړې، زکات ورکړې، د رمضان مياشتې روژه ونيسې او که د لارې توان ولرې د بيت الله حج ادا کړې: هغه وويل: رښتيا دې وويل: عمررضي الله عنه وايي: موږ حيران شو، چې پوښتنه هم ترې کوي او تصديق يې هم کوي، بيا يې وويل: له ايمانه خبر راکړه: هغه وفرمايل: دا چې پر الله، د هغه پر پرېښتو، کتابونو، رسولانو

**يې، د آخرت په ورځ ايمان ولرې او د خير او شر پر تقدير باور ولرې، هغه وويل: رېښتيا دې وويل: بيا يې وويل: له احسانه خبر راکړه، هغه وفرمايل: دا چې د الله داسې عبادت وکړې لکه ته چې هغه وينې که چېرې ته هغه نه وينې؛ نو هغه خو تا ويني.** صحيح مسلم روايت کړی ٨ په دغه حديث کې جبرئيل عليه السلام د الله رسول محمد صلى الله عليه وسلم ته راغی، له هغه يې د دين د مرتبو په اړه پوښتنه وکړه: چې هغه اسلام، ايمان او احسان دي، د الله رسول محمد صلى الله عليه وسلم هغه ته ځواب ورکړ او بيا رسول صلى الله عليه وسلم خپل صحابه رضي الله عنهم خبر کړل چې دا جبرئيل و، هغوی ته د دې لپاره راغلی و چې هغوی ته يې دين ورو ښيي، نو دغه اسلام يو الهي پيغام دی چې جبرئيل عليه السلام نقل کړی او د الله رسول محمد صلى الله عليه وسلم خلکو ته رسولی او د هغه صحابه وو يې ساتنه کړې او له هغه وروسته يې خلکو ته رسولی دی.

**دويم:** پر پرېښتو ايمان لرل چې هغوی يو غيبي (په سترګو نه لېدونکی) مخلوق دي، الله پيدا کړې دي او په ځانګړې حالت يې ګرځولې دي او پر لويو کارونو يې مکلفې کړې دي او د هغوی له لويو کارونو څخه رسولانو او نبيانو عليهم السلام ته د الهي پيغامونو راوړل هم دي او تر

تولو لویه پرېښته جبرئیل علیه السلام دی او رسولانو علیهم السلام ته د جبرئیل علیه السلام په مرسته د وحي پر نزول د الله تعالی دغه وینا دلالت کوي. له خپلو بندګانو چاته چې وغواړي دغه روح د پرېښتو په مرسته په خپل حکم پرې نازلوي چې (خلك) پوه کړئ چې له ما پرته بل حق معبود نشته نو (يوازې) له ما وویرېږئ. (د النحل سورت: ۲ ایت)

او الله تعالی فرمايلي: او پرته له شکه هغه د رب العالمين له لوري نازل کړل شوی دی. دا جبريل امين راکوز کړی دی. ستا پر زړه (نازل شو)، د دې لپاره چې ته له وېرووونکو واوسې. په څرګنده عربي ژبه. او هغه هرومرو د لومړنيو خلکو په کتابونو کې هم شته. (د الشعراء سورت: ۱۹۲– ۱۹٦ ایتونه)

**درېیم:** پر الهي کتابونو، لکه تورات، انجيل او زبور مخکې د هغو له تحريف څخه ايمان راوړل او پر قرآن ايمان راوړل، الله تعالی فرمايلي:

اې هغو کسانوچې ايمان مو راوړی! پر الله د هغه پر رسولانو او پر هغه کتاب ايمان راوړئ چې پر خپل رسول يې نازل کړی دی او هغه کتاب چې له هغه مخکې يې نازل کړی دی، او څوک چې پر الله د هغه پر پرېښتو، کتابونو، رسولانو يې او وروستۍ ورځ کفر وکړي؛ نو هغه په لرې لاروركۍ سره لاروركی دی. (د النساء سورت: ۱۳٦ ایت).

او الله تعالی فرمايلي: په حقه يې پر تا داسې کتاب نازل کړ چې د هغه څه تصديقوونکی دی چې ترې مخکې و او تورات او انجيل يې نازل کړل. د مخکېنيو خلکو د لارښوونې لپاره او فرقان يې رانازل کړ، چا چې د الله په ايتونو کفر کړی، د هغوی لپاره هرومرو يو سخت عذاب دی، او الله برلاسی غچ اخېستو والا دی. (د آل عمران سورت: ۳- ٤ ايتونه)

او الله تعالی فرمايلي: رسول پر هغه څه ايمان راوړی چې د خپل رب له لورې ورته نازل شوي او مؤمنانو هم، ټولو ايمان راوړی پر الله، پرېښتو يې، کتابونو يې او رسولانو يې (هغوی وايي چې) له رسولانو يې د يوه ترمنځ هم توپيرنه کوو او وايي: اورېدلي او منلي مو دي بخښنه (غواړو) ستا نه زموږ ربه! او ستا په لور (ستنېدل) دي. (د البقره سورت: ۲۸۵ ايت)

او الله تعالی فرمايلي: ووايه: موږ پر الله او هغه څه ايمان راوړی چې پر موږ نازل کړل شوي او پر هغه څه چې پر ابراهيم، اسماعيل، اسحاق، يعقوب او د هغوی پر اولادونو نازل کړل شوي دي، او څه چې موسی، عيسی او نبيانو ته د هغوی د پالونکي له لوري ورکړل شوي دي، موږ له هغوی څخه د هيچا ترمنځ توپير نه کوو او موږ هغه لره غاړه اېښودونکي يو. (د آل عمران سورت: ۸٤ ايت)

**څلورم:** پر ټولو نبیانو او رسولانو علیهم السلام ایمان راوړل، نو پر ټولو نبیانو او رسولانو علیهم السلام ایمان راوړل واجب دي او پردې خبره باور کول چې هغوی ټول د الله له لوري رسولان دي چې خپلو امتونو ته د الله پیغامونه د هغه دین او شریعت رسوي.

الله تعالی فرمایلي: وواياست: موږ پر الله او هغه څه ایمان راوړی چې موږ ته نازل کړل شوي او پر هغه څه چې ابراهیم، اسماعیل، اسحاق، یعقوب او د هغوی اولادونو ته نازل کړل شوي دي او څه چې موسی، عیسی او نبیانو ته د هغوی د رب له لوري ورکړل شوي دي، موږ له هغوی څخه د هیچا ترمنځ توپیر نه کوو او موږ هغه ته غاړه ایښودونکي یو. (د البقره سورت: ۱۳٦ ایت)

او الله تعالی فرمایلي: رسول پر هغه څه ایمان راوړی چې هغه ته د خپل رب له طرفه نازل کړل شوی دی او مومنانو هم، ټولو ایمان راوړی دی په الله باندې او د هغه پر ملایکو او د هغه پر کتابونو او د هغه په رسولانو باندې (او وایي) مونږه د هغه (الله) په رسولانو کې د هیچا په مینځ کې تفریق نه کوو او وایي: مونږ واورېدل او مونږ خبره ومنله (مونږ) ستا (نه) بخښنه (غواړو) ای زمونږه ربه! او خاص تا ته بېرته درتګ دی. (د البقره سورت: ۲۸۵ ایت)

او الله تعالی فرمايلي: ووايه: موږ پر الله او هغه څه ايمان راوړی چې پر موږ نازل کړل شوي او پر هغه څه چې پر ابراهيم، اسماعيل، اسحاق، يعقوب او د هغوی پر اولادونو نازل کړل شوي دي، او څه چې موسی، عيسی او نبيانو ته د هغوی د رب له لوري ورکړل شوي دي، موږ له هغوی څخه د هيچا تر منځ توپير نه کوو او موږ هغه لره غاړه ايښودونکي يو. (د آل عمران سورت: ٨٤ ايت)

او د هغوی پر ختميدونکي(وروستي) ايمان راوړل چې هغه د الله رسول محمد صلی الله عليه وسلم د نبيانو او رسولانو د لړۍ پای ته رسوونکی دی، الله تعالی فرمايلي: او کله چې الله له نبيانو ژمنه واخيسته چې کله مې کتاب او حکمت درکړ، بيا که کوم داسې رسول درشي چې تاسو سره د شته کتاب تصديقوونکی وي نو هرومرو به ايمان پرې راوړئ او ملاتړ به يې کوئ ! ( بيايې) وفرمايل: ايا په دې اقرارکوئ او زما ټينګه ژمنه مو واخيسته، هغوی وويل اقرار کوو، وي فرمايل: نو شاهدان اوسئ او زه هم درسره له شاهدانو يم. (د آل عمران سورت: ٨١ ايت)

نو اسلام پر ټولو نبيانو او رسولانو عمومي ايمان راوړل واجبوي او د هغوی پر وروستي محمد صلی الله عليه وسلم ايمان راوړل واجبوي. الله

تعالی فرمایلي: **ووایه: اې اهل کتابو! تر هغه به تاسو په هیڅ شي (حساب) نه یئ، تر څو تورات، انجیل، او هغه څه چې تاسو ته د خپل رب له طرفه درنازل شوي، قایم نه کړئ. (د المائده سورت: ٦٨ ایت)**

او الله تعالی فرمایلي: **ووایه: اې اهل کتابو! هغه څه ته راشئ چې زموږ او ستاسو ترمنځ برابر دي، دا چې له الله پرته د بل چا عبادت به نه کوو، نه به څه شی ورسره شریکوو او نه به له الله پرته څیني زموږ څیني نور د پالونکو په توګه نیسو، نو که هغوی وګرځېدل بیا ورته ووایئ تاسو شاهدان اوسئ چې موږ مسلمانان یو. (د آل عمران سورت: ٦٤ ایت).**

**او څوک چې پر یو نبي کفر وکړي؛ نو هغه پر ټولو نبیانو او رسولانو علیهم السلام کفر کړی دی، څکه خو الله د نوح علیه السلام د قوم پر خلاف له خپلې پرېکړې په خبر ورکولو سره فرمايي: د نوح قوم رسولان درواغجن وګڼل. (د الشعراء سورت: ١٠٥ ایت)**

او ښکاره خبره ده چې له نوح علیه السلام مخکې کوم رسول نه و تېرشوی، خو سره له دې چې قوم یې هغه درواغجن وګڼلو؛ نو د هغوی له لوري د هغه درواغجن ګڼل د ټولو نبیانو او رسولانو درواغجن ګڼل و، څکه د هغوی بلنه یوه وه او موخه یې یوه وه.

**پنځم:** پر وروستۍ ورځ ایمان لرل چې هغه د قیامت ورځ ده او د دغې دنیا د ژوند په پای کې به الله اسرافیل پرېښتې ته امر وکړي؛ نو هغه به په چېغه پوکی وکړي، داسې چېغه به ووهي چې هر هغه څه به مړه شي چې الله يې غواړي، الله تعالی فرمايلي: او شپېلۍ به پو کړی شي نو څوك چې په اسمانونو او څوك چې په ځمکه کې دي، ټول به بې هوښه شي پرته له هغه چې الله يې وغواړي، بيا به بل ځل پو کړی شي نو يو دم به (ټول) ولاړ کتل پيل کړي. (د الزمر سورت: ٦٨ ايت)

او کله چې ټول هغه خلک چې په اسمانونو او ځوک چې په ځمکه کې دي تباه شي پرته له هغه چې الله د هغو تباه کېدل نه غواړي، نو اسمانونه او ځمکه به را ونغښتل شي، لکه الله تعالی چې وايي: په کومه ورځ چې موږ اسمان داسې راونغاړو لکه د ليکل شويو پاڼو نغښتل، څنګه چې لومړی ځل پيدايښت مو پيل کړی و، همغسې به يې بيا راګرځوو، دا په موږ ژمنه ده موږ هرومرو د دې کارکوونکي يو. (د الأنبياء سورت: ١٠٤ ايت)

او الله تعالی فرمايلي: او هغوی د الله هغه ډول درناوی ونه کړ څنګه چې ښايي، حال دا چې ځمکه به ټوله د قيامت په ورځ د هغه په موټي کې او اسمانونه به نغښتلي د هغه په ښي لاس کې وي،

هغه لره پاکي ده او له هغه څه ډېر لوړ دی چې هغوی يې (ورسره) شريکوي. (د الزمر سورت: ٦٧ ايت)

او رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: الله عزوجل به د قيامت په ورځ اسمانونه را ونغاړي، بيا به يې په ښي لاس کې را واخلي بيا به ووايي: زه پاچا يم، چېرې دي برلاسي ځواکمن؟ چېرې دي لويي کوونکي؟ بيا به ځمکې په چپ لاس کې را ونغاړي بيا به ووايي: زه پاچا يم، چېرې دي برلاسي ځواکمن؟ چېرې دي لويي کوونکي؟ مسلم روايت کړی.

بيا به الله پرېښتې ته امر وکړي؛ نو هغه به د بيا ځل لپاره پوکی وکړي، نو هغوی (ټول) به ولاړ کتل پيل کړي. الله تعالی فرمايلي: بيا به بل ځل پو کړی شي نو يو دم به (ټول) ولاړ کتل پيل کړي. (د الزمر سورت: ٦٨ ايت) نو پس هر کله چې الله خلک د حساب لپاره بېرته ژوندي راپورته کړي. الله تعالی فرمايلي: هغه ورځ چې زمکه ترې وچوي منډې به وهي. دا راغونډول پر موږ اسانه دي. (د ق سورت: ٤٤ ايت)

او الله تعالی فرمايلي: هغه ورځ چې هغوی (ټول) به راڅرګندېدونکي وي، د هغوی هيڅ شی به پر الله پټ نه وي، نن پاچايي د چا ده؟ يوازې يو برلاسي الله لره. (د غافر سورت: ١٦ ايت)

په دغه ورځ به الله له ټولو خلکو سره حساب کوي، د هر مظلوم لپاره به له ظالم څخه غچ اخلي او هر انسان ته به د هغه څه بدله ورکوي چې کړي يې دي.

الله تعالی فرمايلي: **نن به هر چاته په خپلو کړو وړو بدله ورکول کيږي، نن ظلم نشته. بېشکه الله ډېر ژر ژر حساب کوونکی دی. (د غافر سورت: ۱۷ ايت)**

او الله تعالی فرمايلي: **پرته له شکه الله د ذرې په اندازه ظلم نه کوي او که هغه ښېګڼه وي نو دوه برابره کوي يې او له خپل لوري لا ستر اجرهم ورکوي. (د النساء سورت: ٤٠ ايت)**

او الله تعالی فرمايلي: **څوک چې د يوې ذرې په اندازه ښېګڼه وکړي بدله به يې ووينې. او څوک چې د يوې ذرې په اندازه بدي وکړي وبه يې ويني. (د الزلزله سورت: ۷– ۸ ايتونه)**

او الله تعالی فرمايلي: **او موږ به د قيامت ورځې ته د انصاف تلې ږدو نو بيا به په هيچا هيڅ ظلم ونه شي که (څه هم يو عمل) د اوري داني په اندازه وي، موږ به يې راوړو او د حساب کولو لپاره موږ بس يو. (الانبياء سورت، ٤٧ ايت)**

او له را پاڅېدلو او حساب وروسته به بدله وي، نو چا چې غوره کار کړی وي، د هغه لپاره به تلپاتې داسې نعمتونه وي چې نه به

ختمېږي، او چا چې شر او کفر کړی وي د هغه لپاره به عذاب وي، الله تعالی فرمايلي: **پاچايي به په هغه ورځ يوازې الله لره وي، همغه به يې تر منځ پرېکړه کوي، نو چا چې ايمان راوړی او سم کارونه يې کړي هغوی به له نعمتونو ډکو جنتونو کې وي. او هغه کسان چې کفر يې کړی او زموږ ايتونه يې دروا‌غ ګڼلي نو د هغوی لپاره به سپکوونکی عذاب وي. (د الحج سورت ٥٦- ٥٧ ايتونه)**

او موږ پوهېږو چې که د دنيا ژوند وروستی حالت وای، نو ژوند او شتون به له هر اړخه بې ګټې وای، الله تعالی فرمايلي: **آيا تاسې ګومان کوئ چې موږ هسې چټي پيداکړي ياست، او تاسو به موږ ته نه راګرځول کېږئ. (المؤمنون سورت: ١١٥ آيت)**

**شپږم:** په قضاء او تقدير ايمان لرل او پردې خبره ايمان لرل واجب دي چې الله پر هغه څه پوه دی چې مخکې تېر شوي او څه چې کيږي او څه چې وروسته په دغو کائناتو کې کېدونکي دي، او دا چې الله دا هر څه د آسمانونو او ځمکې له پيدايښت څخه وړاندې ليکلي دي، الله تعالی فرمايلي: **له همغه سره د غيبو ټولې چابياني دي چې له هغه پرته بل څوك نه پرې پوهيږي، په وچه او لمده کې چې هرڅه دي ورباندې پوهيږي، داسې کومه پاڼه نه رالويږي چې هغه پرې پوه نه**

وي او نه به د ځمکې په تیارو کې څه دانه وي (چې الله ته معلومه نه وي)، لامده او وچ ټول په یو روښانه کتاب کې (لیکل شوي) دي. (الانعام سورت، ٥٩ ایت)

او الله پر هرڅه د پوهې له پلوه را چاپېر دی، الله تعالی فرمايلي: الله هغه ذات دی چې اوه اسمانونه او د هغو غوندې ځمکې یې پیداکړې دي، د هغو ترمنځ امر را نازلیږي، ترڅو پوه شئ چې پرته له شکه الله پر هر څه ځواکمن دی او دا چې الله د پوهې له پلوه پر هرڅه چاپېر دی. ( د الطلاق سورت: ١٢ ایت)

او دا چې په دغو کائناتو کې هیڅ هم نه واقع کیږي مګر هغه چې الله یې اراده کړې وي، غوښتي یې وي، پیداکړي یې وي او اسباب یې ورته اسانه کړي وي، الله تعالی فرمايلي: هغه ذات چې هغه لره د اسمانونو او ځمکې پاچايي ده، نه یې زوی نیولی، نه هغه لره په پادشاهۍ کې کوم شریک شته او هرڅه یې پیدا کړي، نو بشپړ درناوی یې وکړه. (د الفرقان سورت: ٢ ایت)

او هغه لره په دغه کې داسې لوی حکمت دی چې خلک پرې نه شي را چاپېریدلای، الله تعالی فرمايلي: (دغه) ډېر کامل حکمت دی، پس (دوی ته) ویروونکي ګټه نه رسوي. (د القمر سورت: ٥ ایت).

او الله تعالی فرمایلي: او همغه ذات دی چې د پیدایښت پیل کوي او بیا یې (هم) راګرځوي او دا لا ورته اسانه ده او په اسمانونو او ځمکه کې د هغه صفت تر ټولو لوړ دی او همغه حکمت والا برلاسی دی. (د الروم سورت: ۲۷ ایت).

او الله تعالی د ځان صفت په حکمت سره بیان کړ او ځان یې په حکیم سره ونومولو، الله تعالی فرمایلي: الله تعالی ګواهي ورکړې د دې خبرې چې یقینا نشته بل حقدار د بنده ګۍ په حقه سره مګر همدا دی او ملایکو او د علم خاوندانو (هم) چې (الله) پر عدالت ولاړ دی، بل حقدار د بنده ګي نشته په حقه سره مګر همدی دی چې ډېر غالب ښه حکمت والا دی (د آل عمران سورت: ۱۸ ایت)

او الله تعالی له عیسی علیه السلام څخه په خبر ورکولو سره فرمایي په داسې حال کې به هغه د قیامت په ورځ الله ته په خطاب سره وایي: که چېرې ته عذاب ورکړې؛ نو هغوی ستا بندګان دي، او که بخښنه ورته وکړې؛ نو پرته له شکه ته برلاسی حکمت والا یې. (د المائده سورت: ۱۱۸)

او الله تعالی موسی علیه السلام ته وفرمایل کله یې چې اواز ورته وکړ په داسې حال کې چې هغه د طور له غره سره و: اې موسی پرته له شکه زه الله برلاسی حکمت والا یم. (د النمل سورت: ۹ ایت)

او د قرآن عظیم صفت یې په حکمت سره بیان کړ، الله تعالی فرمايي: الر (دا) یو داسې کتاب دی چې ایتونه یې محکم کړی شوي بیا په تفصیل بیان شوي د یو حکیم او با خبر ذات له لوري. (د هود سورت: ۱ ایت)

او الله تعالی فرمايلي: دا هغه د حکمت خبرې دي چې ستا د رب له خوار درته وحي کړی شوي دي. او (پام کوه) الله سره کوم بل معبود مه نیسه، کنه بیا به جهنم کې پر او دیکه شوی غورځول کیږې. ( د الاسراء سورت: ۳۹ ایت)

**انبیاء علیهم السلام په هغه څه کې معصوم دي چې د الله له لوري یې رسوي او له هر هغه څه څخه معصوم دي چې له عقل سره په ټکر کې وي او یا یې سالم اخلاق ردوي، او نبیان د الله بندګانو ته د امرونو په رسولو مکلف دي، او نبیان د ربوبیت او الوهیت له ځانګړنو څخه هیڅ ځانګړنه نلري، بلکې هغوی د ټولو انسانانو غوندې انسانان دي چې الله تعالی هغوی ته خپل پیغامونه وحي کوي.**

او انبیاء علیهم السلام په هغه څه کې معصوم دي چې د الله له لوري یې رسوي، ځکه الله په خپل مخلوق کې له غوره خلکو څخه انتخاب کړي دي، تر څو د هغه پیغامونه ورسوي، الله تعالی فرمايلي: الله له پرېښتو استازي غوره کوي او له خلکو، پرته له شکه الله ښه

اوربېدونکی لیدونکی دی. (د الحج سورت: ۷۵ ایت) او الله تعالی فرمايلي: پرته له شکه الله آدم، نوح، د ابراهیم کورنۍ او د عمران کورنۍ پر ټولو خلکو غوره کړي دي. (د آل عمران سورت: ۳۳ ایت)

او الله تعالی فرمايلي: وويل (الله): ای موسی! بېشکه ما تا ته په ټولو خلکو باندې په خپلو پيغامونو او په خپل کلام سره غوره والی درکړی دی، نو ته هغه څه ونيسه چې ما تا ته درکړي دي، او له شکر کوونکو څخه شه. (د الأعراف سورت: ۱٤٤ ايت)

او رسولان عليهم السلام پوهيږي چې پر هغوی څه نازليږي هغه الهي وحي ده او هغوی پرېښتې ويني چې وحي را نازلوي، الله تعالی فرمايلي: هغه پر پټو پوه دی نو په خپلو پټو هيڅوك نه خبروي. پرته له هغه استازي چې هغه يې (د پټو څه پوهې لپاره) غوره کړی وي، نو د هغه مخته او وروسته ساتونکي روانوي. تر څو معلومه کړي چې د هغه پيغامونه يې (سم) رسولي دي او الله د هغوی له هر څه را چاپېر دی او هر شی يې په شمېر شمېرلي ساتلي دي. (د الجن سورت: ۲٦- ۲۸ ايتونه)

او الله هغوی ته د خپلو پيغامونو د رسولو امر کړی، الله تعالی فرمايلي: اې رسوله! څه دې چې درته د رب له لوري درنازل شوي هغه (خلکوته) ورسوه او که داسې دې ونه کړل؛ نو د هغه پيغام دې سم

نه دی رسولی او د خلکو له شره به دې الله ساتي. بېشکه الله کافر قوم ته لارښوونه نه کوي. (د المائده سورت: ٦٧ ایت)

او الله تعالی فرمایلي: (دا ټول) رسولان زیري ورکوونکي او ویروونکي (لیږل شوي وو) ترڅو له رسولانو وروسته خلکوته د الله په وړاندې کوم دلیل پاتې نه شي، او الله برلاسی حکمت والا دی. (د النساء سورت: ١٦٥ ایت)

او رسولان علیهم الصلاة والسلام ترټولو زیات له الله څخه ویریږي او له هغه ډاریږي، نو د هغه په پیغامونو کې نه څه زیاتوي او نه ترې څه کموي، الله تعالی فرمایلي: او که چیرې هغه له ځانه موږ پسې څه خبرې جوړې کړې وای. هرومرو به مو هغه په ښي لاس رانیولی و، بیا به مو د هغه د زړه رګ ترې غوڅ کړی وای. نو بیا به له تاسې هیڅوك له دې کاره زموږ ایسارووونکي نه و. (د الحاقه سورت: ٤٤- ٤٧ ایتونه) ابن کثیر رحمه الله وېلي: الله تعالی وایي: **(که هغه پر موږ له ځانه خبرې جوړې کړې وای) معنا دا چې که محمد صلی الله علیه وسلم دا کار کړی وای، که چیرې داسې وای لکه هغوی چې ګومان کوي چې هغه پر موږ درواغ تړونکی دی؛ نو په پیغام کې یې څه زیاتوالی او یا له هغه کموالی راوړی وای، او یا یې له ځانه یوڅه ویلي وای چې موږ ته یې نسبت کړی و، -خو**

داسې نه ده-، او مور به هم هغه ته په سزا ورکولو کې بیره کړې وای، ځکه خو یې وویل: (هرومرو به مو هغه په ښي لاس رانیولی وای) ویل کیږي: معنا دا چې له هغه به مو په ښي لاس غچ اخیستی وای، ځکه هغه (ښی لاس) په را نیولو کې ډېر سخت وي، او چا ویلي: هغه به مو هرومرو له ښي لاس رانیولی وای. او الله تعالی فرمايلي: او کله چې الله وویل: اې عیسی د مریمې زویه! ایا تا خلکوته ویلي و چې له الله پرته ما او زما مور معبودان ونیسئ؟ (عیسی) ووېل: تا لره پاکي ده! زما خو دا کار نه و چې داسې څه مې ویلي وای کوم چې ماته حق نه و که ما څه ویلي وای نو ته هرومرو ورباندې پوه یې، ته په هغه څه ښه پوهېږې چې زما په زړه کې دي او زه په هغه نه پوهېږم چې ستا په نفس کې دي، بېشکه همدا ته پر پټو ښه پوه یې، بل څه مې نه دي ورته ویلي پرته له هغه چې تایې را ته امرکړی و، دا چې یوازې د الله چې زما او ستاسو پالونکی دی بنده ګي وکړئ. او زه تر هغه پرې څارونکی وم چې په هغوی کې وم خو کله دې چې در واخیستم نو ته په خپله ورباندې څارونکی وې او همدا ته په هر څه څارونکی یې. (د المائده سورت: ۱۱۶- ۱۱۷ ایتونه)

او د الله پر خپلو نبیانو او رسولانو علیهم الصلاة والسلام له پېرزوینې څخه دا ده چې الله هغوی د خپل پیغام په رسولو کې

ټينګوي، الله تعالی فرمايلي: **هغه وويل: پرته له شکه زه پر الله شاهدي ورکوم او تاسو شاهدي ورکړئ، پرته له شکه زه له هغه څه بېزار يم چې تاسو يې ورسره شريکوئ، له هغه پرته تاسو ټول زما پر خلاف چل وکړئ بيا وخت مه راکوئ. پرته له شکه ما پر الله توکل کړی چې زما او ستاسو رب دی، هيڅ داسې خوځېدونکی نشته چې هغه يې د تندي د ويښتانو رانيوونکی نه وي، بېشکه زما پالونکی پر سمه لار دی. (د هود سورت: ٥٤- ٥٦ ايتونه)**

او الله تعالی فرمايلي: **او نېږدې و چې هغوی دې په فتنه کې واچوي، له هغې وحيې دې واړوي چې موږ درلېږلې، تر څو په موږ پورې بل څه وتړې او بيا به يې نو هرومرو په دوستۍ نيولی وې. او که ته مو ټينګ کړی نه وای نو نېږدې و چې د هغوی لور ته لږ ورکوږ شوی وای. بيا به مو هرومرو په ژوند کې هم دوه برابره عذاب درڅکلی و او په مړينه (آخرت) کې هم دوه برابره، بيا به دې زموږ پر خلاف کوم مرستندوی نه و موندلی. (د الإسراء سورت: ٧٣- ٧٥ ايتونه)**

دغه او له دغو مخکېني ايتونه پردې شاهد او دليل دي چې قرآن د کائناتو د پالونکي له لوري نازل کړل شوی دی، ځکه که چېرې هغه د رسول محمد صلی الله عليه وسلم له لوري وای؛ نو پر داسې خبرو به مشتمل نه و چې هغه ته متوجه دي.

او الله پاک خپل رسولان له خلکو ساتي، الله تعالی فرمايلي: اې رسوله! څه دې چې د پالونکي له لوري درنازل شوي هغه (خلکوته) ورسوه او که داسې دې ونه کړل؛ نو د هغه پيغام دې سم نه دی رسولی. او د خلکو له شره به دې الله ساتي. بېشکه الله کافر قوم ته لارښوونه نه کوي. (د المائده سورت: ٦٧ ايت)

او الله تعالی فرمايلي: او د نوح خبر پرې ولوله! کله يې چې خپل قوم ته وويل: اې زما قومه! که په تاسو کې زما اوسېدل او د الله په آيتونو نصيحت درته کول، پر تاسو درانه شوي وي نو ما پر الله بروسه کړې، او تاسو هم خپل کار او شريکان راغونډ کړئ، بيا دې خپل دغه کار له تاسو پټ نه وي بيا چې هر څنګه ضرر وي، ماته يې را ورسوئ او (هيڅ) مهلت مه راکوئ. (د يونس سورت: ٧١ ايت).

او الله تعالی د موسی عليه السلام له وينا څخه په خبر ورکولو فرمايلي: هغوی دواړو وويل: اې زموږ پالونکيه! موږ وېرېږو چې هغه به پر موږ بيره وکړي (په سزا کې) يا به نور هم سرکښه شي، ويې فرمايل: مه وېرېږئ، زه درسره يم، اورم او وينم. (د طه سورت: ٤٥- ٤٦ ايتونه)

نو الله تعالی دا خبره بيان کړه چې هغه د خپلو رسولانو عليهم السلام د هغوی له دښمنانو څخه ساتونکی دی، چې هغوی ته کوم

زیان نه شي رسولای، او الله خبر ورکړ چې هغه د خپلې وحې ساتنه کوي چې نه څه پکې زیاتېدلای شي او نه څه ترې کمېدلای شي.

الله تعالی فرمايلي: **پرته له شکه موږ ذکر (قرآن) نازل کړی او موږ يې هرومرو ساتونکي يو. (د الحجر سورت: ۹ ايت)**

او نبيان عليهم السلام له هر هغه څه څخه معصوم او خوندي دي چې له عقل او اخلاقو سره ټکر وي، الله تعالی د خپل نبي محمد صلی الله عليه وسلم د پاکۍ په بيانولو سره فرمايلي: **او پرته له شکه ته پر لويو اخلاقو يې. (د القلم سورت: ٤ ايت)**

او د هغه په اړه همدارنګه وايي: **او ستاسو ملګری لېونی نه دی. (د التکوير سورت: ۲۲ ايت)**

او دا ځکه چې تر څو هغوی په سمه توګه پيغام ورسولای شي، او نبيان عليهم السلام د الله بندګانو ته د هغه د امرونو په رسولو مکلف دي، هغوی لره د ربوبيت او الوهيت له ځانګړنو هيڅ هم ثابت نه دي، بلکې هغوی د ټولو انسانانو غوندې انسانان دي، الله هغوی ته خپل پيغامونه وحې کوي، الله تعالی فرمايلي: **رسولانو يې ورته وويل: موږ ستاسو غوندې له بشر پرته بل څه نه يو، خو الله چې له خپلو بندګانو هر چاته وغواړي احسان پرې کوي او دا مو هم په**

واك كې نشته چې د الله له حكم پرته كوم سند درته راوړو او پر همغه الله دې مؤمنان بروسه وكړي.  (د إبراهيم سورت: ۱۱ ايت)

او الله خپل رسول محمد صلى الله عليه وسلم ته په امر كولو سره وفرمايل چې خپل قوم ته ووايي: ورته ووايه: پرته له شكه زه خو يوازې ستاسو غوندې يو انسان يم، ماته وحي شوې چې بېشكه ستاسو معبود همغه يو الله دى، نو هر څوك چې له خپل پالونكي سره د ملاقات هيله لري هغه دې سم كارونه وكړي او د خپل پالونكي په عبادت كې دې بل هيڅوك نه شريكوي. ( د الكهف سورت: ۱۱۰ آيت)

**او اسلام يوازې د الله عبادت ته د لويو عبادتونو په اصولو سره بلنه كوي**

چې هغه: داسې لمونځ دى چې ولاړه، ركوع، سجده، د الله ياد، د هغه ستاينه او دعاء ده چې يو څوك يې هره ورځ پنځه ځلې كوي، چې په هغو كې ټول توپيرونه له منځه ځي، شتمن، بې وزله، مشر او كشر د لمانځه په يو صف (كتار) كې وي، زكات: چې د مال لږه برخه ده كومه چې له شرطونو او هغو اندازو سره چې الله د شتمنو په مالونو كې واجبه كړې چې په كال كې يوځل بې وزلو او نورو خلكو ته وركول كيږي، روژه چې هغه: له ماتوونكو شيانو څخه د رمضان مياشتې په ورځ كې بنديدل دي، چې په نفس كې اراده او صبر زياتوي، حج چې

هغه: په ټول عمر کې يوځل په مکه مکرمه کې د بيت الله قصد کول دي پر هغه چا چې وس او توان يې لري او په دغه حج کې ټول د خپل پيداکوونکي لوري ته په متوجه کېدلو سره برابريږي او توپيرونه او نسبتونه له منځه پکې ځي.

اسلام د الله عبادت ته په لويو عبادتونو او نورو عبادتونو سره بلنه کوي او دغه لوی عبادتونه الله پر ټولو نبيانو او رسولانو عليهم الصلاة السلام واجب کړي دي او ترټولو عبادتونو لوی يې دادي:

**لومړی:** لمونځ دی چې الله پر مسلمانانو فرض کړی لکه څنګه يې چې پر ټولو نبيانو او رسولانو عليهم الصلاة والسلام فرض کړی و، او الله خپل دوست نبي ابراهيم عليه السلام ته امر وکړ چې د هغه کور د طواف کوونکو، لمونځ کوونکو، رکوع کوونکو او سجده کوونکو لپاره پاک کړي، الله تعالی فرمايلي:

او کله چې مو دا کور (کعبه) خلکوته د ثواب او امن ځای وګرځولو (نو تاسو) د ابراهيم د دريدلو ځای د لمانځه لپاره ونيسئ، او ابراهيم او اسماعيل ته مو دا حکم کړی و چې زما کور طواف کوونکو، اعتکاف کوونکو او رکوع کوونکو سجده کوونکو لپاره پاك کړئ. (د البقره سورت: ۱۲۵ ايت)

او الله پر موسی په لومړي اواز کې چې موسی علیه السلام ته یې وکړ (لمونځ) واجب کړ، الله تعالی فرمایلي: **پرته له شکه زه ستا پالونکی یم؛ نو څپلی دې وباسه، پرته له شکه ته د طوی په سپېڅلي ناو (دره) کې یې. او ته مې غوره کړی یې نو چې څه درته وحې کیږي هغو ته غوږ کېږده. پرته له شکه زه الله یم له ما پرته بل الله نشته؛ نو عبادت مې کوه او زما د یاد لپاره بشپړ لمونځ کوه. (د طه سورت: ۱۲- ۱٤ ایتونه)**

او مسیح عیسی علیه السلام دا خبر ورکړ چې الله هغه ته د لمانځه او زکات امر کړی دی؛ نو ویې ویل لکه څنګه الله تعالی خبر ورکړی. **او زه یې مبارک ګرځولی یم هر چېرته چې یم او د لمانځه او زکات ټینګار یې راباندې کړی تر څو چې ژوندی یم. (د مریم سورت: ۳۱ ایت)**

او په اسلام کې لمونځ: ولاړې، رکوع، سجدې، د الله یاد، د هغه ستاینې او دعاء ته ویل کیږي چې هر څوک یې په ورځ کې پنځه ځلې کوي، الله تعالی فرمایلي: **د ټولو لمونځونو او هغه منځني لمونځ ښه ساتنه کوئ او الله ته غاړه اېښودونکي دریږئ. (د البقره سورت: ۲۳۸ ایت)**

او الله تعالی فرمایلي دي: **لمونځ کوه د لمر له زواله د شپې تر تیارې پورې او د سهار قرائت هم کوه، بېشکه د سهار د قرائت شاهدي ورکول کیږي. (د الإسراء سورت: ۷۸ ایت)**

او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: هر چېرې رکوع ده په هغې کې د الله رب العزت لويي بیانوئ، په سجده کې په دعاء کې ښه کوښښ کوئ او دا ډېره وړ ده چې هغه دعا مو قبلوه کړل شي.
صحيح مسلم روايت کړی.

**دویم:** زکات دی چې الله پر مسلمانانو فرض کړی لکه پر پخوانيو نبیانو او رسولانو علیهم الصلاة والسلام يې چې فرض کړی و، او زکات د مال داسې لږه برخه ده چې شرطونه او اندازې يې الله ټاکلې دي د شتمنو په مال کې واجب دی، بې وزلو او نورو خلکو ته په کال کې يوځل ورکول کیږي. الله تعالی فرمایلي: د هغوی له مالونو صدقه واخله چې په دې سره يې پاك او اصلاح کړې او هغوی ته د رحمت دعا وکړه، بېشکه ستا دعا د هغوی لپاره ډاډګېرنه ده او الله پوه اورېدونکی دی. (د التوبه سورت: ۱۰۳ ایت)

کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم معاذ رضي الله عنه یمن ته ولیږلو ورته يې وویل: پرته له شکه ته د اهل کتابو يو قوم ته ورتلونکی يې؛ نو هغوی ته بلنه ورکړه تر څو دا شاهدي ورکړي چې له الله پرته بل حقدار د بنده ګۍ نشته او زه د الله رسول یم، که چیرته يې په دغه خبره کې ستا پیروي وکړه، بیا يې خبر کړه چې الله پر

هغوی په یوه شپه او ورځ کې پنځه لمنځونه فرض کړي دي، که یې په دغه خبره کې هم ستا پیروي وکړه، بیا یې خبر کړه چې الله عزوجل پر هغوی د هغوی په مالونو کې صدقه فرض کړې ده چې له شتمنو به یې اخیستل کیږي او بې وزلو ته به یې ورکول کیږي، که یې په دې کې هم ستا پیروي وکړه؛ نو بیا یې د غوره مالونو له اخیستلو ډډه کوه او د مظلوم له ښیرا څخه ویرېږه، ځکه د هغه د ښیرا او الله تر منځ پرده نشته. ترمذي روایت کړی، د حدیث شمېره ده ٦٢٥.

**دریم:** روژه چې الله تعالی پر مسلمانانو فرض کړې لکه څنګه یې چې پر پخوانیو نبیانو او رسولانو علیهم الصلاة والسلام فرض کړې وه، الله تعالی فرمایلي: اې هغو کسانو چې ایمان مو راوړی! پرتاسو روژه فرض کړل شوې لکه څنګه چې پر هغو خلکو فرض کړل شوې وه چې له تاسو مخکې وو، تر څو تاسو ځانونه وساتئ. (د البقره سورت: ۱۸۳ ایت)

او هغه: د رمضان میاشتې په ورځ کې له روژه ماتوونکو شیانو څخه ځان ساتل دي او روژه په نفس کې اراده او صبر روزي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: الله عزوجل فرمایي: روژه زما لپاره ده او زه به یې بدله ورکوم، زما لپاره خپل خوراک، څښاک او شهوت پرېږدي، روژه ډال دی، د روژه نیوونکي لپاره

دوي خوشحالۍ دي: يوه خوشحالي کله چې روژه ماتوي او بله خوشحالي کله چې له خپل رب سره مخامخ کيږي. د صحيح بخاري روايت کړی، حديث شمېره ۷٤۹۲

**ځلورم:** حج دی چې الله پر مسلمانانو فرض کړی دی لکه څنګه يې چې پر مخکېنيو نبيانو او رسولانو عليهم الصلاة والسلام فرض کړی و، او خپل دوست نبي ابراهيم عليه السلام ته يې امر وکړ چې د حج په اړه اواز وکړي، الله تعالی فرمايلي: او په خلکو کې د حج اعلان وکړه چې له هري لري لارې څخه پلي او په هر (ډول) ډنګر اوښ سپاره درته راشي. (د الحج سورت: ۲۷ ايت)

او الله هغه ته امر وکړ چې دغه ځوانی کور د حاجيانو لپاره ښه پاک کړي، نو الله تعالی فرمايلي: او کله چې موږ ابراهيم ته د بيت الله ځای وټاکلو چې له ماسره هيڅ شی مه شريکوه او زما کور د طواف کوونکو، قيام کوونکو، رکوع او سجده کوونکو لپاره پاك کړه. (د الحج سورت: ۲۶ ايت)

او حج په مکه مکرمه کې د معلومو اعمالو لپاره په ټول عمر کې يوځل پر وس او توان لرونکي شخص د بيت الله قصد کول دي، الله تعالی فرمايلي: او د الله لپاره پر خلکو د بيت الله حج کول دي

ځوک يې چې د لارې توان ولري، او ځوک چې کفر وکړي؛ نو الله له ټولو مخلوقاتو څخه بې پروا دی. (د آل عمران سورت: ۹۷ ايت)

او په حج کې حاجيان مسلمانان په يوځای کې را غونډيږي د خپل پيداکوونکي په عبادت کې اخلاص کوونکي وي، او ټول حاجيان په داسې طريقه د حج مناسک ادا کوي چې د ټولنې، فرهنګ او اقتصادي وضعيت توپيرونه پکې له منځه ځي.

**او د اسلامي عباداتو تر ټولو لويه ځانګړنه داده چې طريقه، وختونه او شرطونه يې الله تعالی ټاکلي دي او رسول صلی الله عليه وسلم رسولي، او تر نن ورځې پورې هيڅ انسان د زياتوالي او کموالي لاسوهنه پکې نه ده کړې، او ټولو نبيانو عليهم السلام دغو لويو عبادتونو ته بلنه کوله.**

او د اسلامي عباداتو تر ټولو لويه ځانګړنه داده چې طريقه، وختونه او شرطونه يې الله تعالی ټاکلي دي او رسول صلی الله عليه وسلم رسولي، او تر نن ورځې هيڅ انسان د زياتوالي او کموالي لاسوهنه پکې نه ده کړې، او ټولو نبيانو عليهم السلام دغو لويو عبادتونو ته بلنه کوله.

الله تعالی فرمايلي: نن مو ستاسو لپاره ستاسو دين پوره کړ او پر تاسو مو خپله پيرزوينه بشپړه کړه او ستاسو لپاره مو اسلام د دين په توګه خوښ کړی دی. (د المائده سورت: ۳ ايت)

او الله تعالی فرمايلي: هغه څه ټينګ ونيسه چې وحي يې درته کيږي، پرته له شکه ته پر نېغه لار يې. (د الزخرف سورت: ٤٣ ايت)

او الله تعالی د لمانځه په اړه ويلي: نو کله چې لمونځ ختم کړئ، بيا په ولاړه، ناسته او په ملاسته الله يادوئ، او کله چې ډاډه شوئ؛ نو بيا بشپړ لمونځ کوئ، پرته له شکه لمونځ په ټاکلو وختونو کې پر مؤمنانو فرض دی. (د النساء سورت: ١٠٣ ايت)

او الله تعالی د زکات ورکولو په اړه ويلي: پرته له شکه خيراتونه خو يوازې د فقيرانو، بې وزلو، په هغو (کې) د کارکوونکو، هغوی چې په زړونو کې يې الفت اچولی شي، مرييانو ازادولو، پور وړو، د الله په لار کې او مسافرو لپاره دي دا د الله له لورې يوه فريضه ده او الله ډېر پوه حکمت والا دی. (د التوبه سورت: ٦٠ ايت)

او الله تعالی د روژې په اړه ويلي: د رمضان مياشت خو همغه ده چې قرآن پکې نازل شوی د خلکو لپاره لار ښود، د هدايت څرګندې نښې او د حق او باطل بېلوونکی (کتاب) نو له تاسو چې څوک دا مياشت بياموي، هغه دې روژه ونيسي، او څوک چې ناروغ يا په سفر وي نو پر هغه له نورو ورځو څخه شمېر پوره کول دي. الله خو تاسو ته اسانی غواړي، سختي خو درته نه غواړي. دا

د دې لپاره چې تاسو همغه شمېر پوره کړئ (په قضا راوړلو سره) او الله په لويۍ يادکړئ چې لارښوونه يې درته کړې او کېدای شي شکر وباسئ. (د البقره سورت: ۱۸۵ ايت)

او الله تعالی د حج په اړه وېلي: د حج څو معلومې مياشتې دي، نو چا چې په هغو کې حج ( پر ځان) فرض کړ نو بيا په حج کې نه کوروالی شته، نه ګناهونه او نه جنګ جګړه، او کومه ښېګڼه چې کوئ الله ورباندې پوهېږي او توښه در سره واخلئ او بېشکه غوره توښه ځان ساتل (له سواله) دي او له ما څخه وويرېږئ اې د عقل څښتنانو! (د البقره سورت: ۱۹۷ ايت)

او ټولو نبيانو عليهم السلام دغو ټولو لويو عبادتونو ته بلنه کوله.

**د اسلام رسول محمد چې د عبدالله زوی، د اسماعيل بن ابراهيم عليهم السلام له اولادې څخه دی په مکه کې په ۵۷۱ م کې زېږدېلی او هملته نبوت ورکړل شوی.**

مدينې ته يې هجرت کړی او له قوم سره يې د بوت لمانځنې په کړنو کې ګډون نه دی کړی خو په لويو کارونو کې يې ورسره ګډون کولو او له پيغمبرۍ مخکې يې هم غوره اخلاق لرل او د هغه رب يې په لويو اخلاقو ستاينه کړې ده چې فرمايلي يې دي. او پرته له شکه ته پر لويو اخلاقو يې. (د القلم سورت: ٤ ايت)

چې قوم یې امین ورته ویلو، کله چې څلوېښت کلن شو نبوت ورکړل شو او الله په لویونښانو (معجزو) د هغه تایید وکړ، چې تر ټولو لویه معجزه یې قرآن کریم دی، او هغه د ټولو نبیانو له معجزو لویه او تر نن پورې پاتې معجزه ده، کله چې الله د هغه دین بشپړ کړ او رسول صلی الله علیه وسلم په پوره توګه ورسولو، نو نبي صلی الله علیه وسلم د درې شپېتو کلونو په عمر کې وفات شو او په مدینه کې خاورو ته وسپارل شو، رسول محمد صلی الله علیه وسلم د نبیانو او رسولانو ختموونکی دی، الله له لارښوونې او حق دین سره لېږلی دی، ترڅو خلک د ناپوهۍ، کفر او بوت لمانځنې له تیارو د توحید او پوهې رڼا ته را وباسي او الله د هغه لپاره دا شاهدي ورکړه چې هغه د الله په امر را لېږل شوی بلونکی دی.

او کله چې څلوېښت کلن شو نبوت ورکړل شو او الله په لویونښانو (معجزو) د هغه تایید وکړ، چې تر ټولو لویه یې قرآن کریم دی. د هغه رسول صلی الله علیه وسلم فرمایلي: له نبیانو هیڅ نبي نشته مګر دا چې هغه څه ورکړل شوي دي چې د هغو په اندازه خلکو ایمان پرې راوړی، خو ماته داسې وحي راکړل شوې ده چې الله یې راته وحي کوي؛ نو زه هیله لرم چې د قیامت په ورځ تر ټولو زما پیروان زیات وي. صحیح بخاري.

او قرآن عظیم د الله له لورې خپل رسول صلی الله علیه وسلم ته وحې ده، الله د هغه په اړه فرمايلي: **دغه کتاب چې هيڅ شک پکې نشته د ځان ساتونکو لپاره لارښوونه ده. (د البقره سورت: ۲ ايت)**

او الله تعالی په دې اړه فرمايلي: **ايا په قران کې فکر نه کوئ، که چېرې له الله پرته د بل چا له لورې وای؛ نو هغوی به زيات اختلاف پکې موندلی وای. (د النساء سورت: ۸۲ ايت)**

او الله پېريان او انسانان وننګول چې د هغه غوندې څه دې راوړي، الله تعالی فرمايلي: **ووايه: که انسانان او پېريان سره يوځای شي چې د دغه قرآن غوندې څه راوړي، د هغه غوندې به را نشي وړی، که څه هم ځيني د ځينو ملاتړ شي. (د الإسراء سورت: ۸۸ ايت)**

او الله هغوی وننګول چې د هغو غوندې لس سورتونه دې راوړي، الله تعالی وفرمايل: **که هغوی وايي چې دا يې له ځانه پسې تړلي دي؛ نو د هغو غوندې لس له ځانه جوړ کړل شوي سورتونه دې راوړي او له الله پرته څوک مو چې په وس وي راوبي بولئ که تاسې رښتيني ياست. (د هود سورت: ۱۳ ايت)**

بلکې الله د هغه غوندې د يو سورت په راوړلو سره وننګول، الله تعالی وفرمايل: **او که تاسو له هغه څه څخه په شک کې واست چې موږ پر**

خپل بنده نازل کړي دي؛ نو د هغه غونډې يو سورت راوړئ او له الله پرته شاهدان مو راوبولئ که رښتيني ياست. (د البقره سورت: ۲۳ ايت)

او قرآن عظيم د نبيانو له معجزو څخه يوازېنۍ هغه معجزه ده چې تر ننه پورې پاتې ده، کله چې الله د رسول الله صلى الله عليه وسلم لپاره دين بشپړ کړ او هغه په پوره طرېقې سره ورسوو؛ نو هغه د درې شپېته کلونو په عمر کې وفات شو او مدينه منوره کې دفن کړل شو.

او د الله رسول محمد صلى الله عليه وسلم د نبيانو او رسولانو د لړۍ پای ته رسوونکی دی لکه الله تعالى چې وېلي: محمد ستاسو له نارينه وو څخه د چا پلار نه دی، بلکې د الله استازی او د نبيانو ختموونکی(د لړۍ پای ته رسوونکی) دی، او الله پر هر څه ښه پوه دی. ( د الأحزاب سورت: ٤٠ ايت)

له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: پرته له شکه زما او له ما مخکې د نبيانو مثال داسې دی لکه يو سړی چې کور جوړ کړي؛ نو ښکلې او ښايسته يې کړي مګر په يو کونج کې د يوې خښتې ځای پاتې وي، خلک پرې را تاوېږي او ډېر يې خوښوي او وايي: ولې دغه خښته نه ده اېښودل شوې؟ ويې ويل: زه هغه خښته يم او زه د نبيانو ختموونکی( د لړۍ پای ته رسوونکی) يم. صحيح بخاري.

او په انجیل کې مسیح علیه السلام د رسول محمد صلی الله علیه وسلم په اړه د زیري ورکوونکي په توګه فرمایلي دي.

هغه ډبره چې معمارانو رد کړه هغه د کونج سر وګرځېده ایا په کتابونو کې مو نه دي لوستي: هغوی ته یسوع د خپل پالونکي له لوري وویل: دغه زموږ په سترګو کې حیرانوونکې وه. او د نن ورځې د موجود تورات په سفر کې موسی علیه السلام ته د الله وینا راغلې: هغوی ته یې د وروڼو له منځه ستا غوندې یو نبي دروم او خپل کلام د هغه په خوله کې اچوم؛ نو پر ټولو هغه څه به خبرې ورسره کوي چې زه یې سپارښتنه ورته کوم.

او الله خپل رسول محمد صلی الله علیه وسلم له لارښوونې او حق دین سره ولېږلو او الله د هغه لپاره دا ګواهي ورکړه چې هغه پر حقه دی او دا چې هغه یې په خپل امر خپل لوري ته د بلونکي په توګه ولېږلو، الله تعالی فرمایلي: **خو الله ګواهي ورکوي چې څه یې درته نازل کړي، هغه یې په خپله پوهه نازل کړي او پرېښتې هم په دې ګواهي ورکوي (که څه هم) د الله ګواهي بیخي بس ده. (د النساء سورت: ۱٦٦ ایت)**

او الله تعالی فرمایلي: **(الله) همغه دی چې خپل رسول یې له لارښوونې او رېښتیني دین سره لېږلی تر څو پر ټولو دینونو یې برلاسی کړي او الله د شاهد په توګه بس دی. (د الفتح سورت: ۲۸ ایت)**

الله خپل رسول له لارښوونې سره ولېږی تر څو خلک د بت لمانځنې، کفر او ناپوهی له تیارو د توحید او ایمان رڼا ته را وباسي، الله تعالی فرمايلي: چې پر هغه سره الله هغه چاته چې د هغه په رضا پسی ځي، د سلامتی لارې ښايي او په خپل حکم سره يې له تيارو رڼا ته را باسي او سمې لارې ته يې لارښوونه کوي. (د المائده سورت: ١٦ ايت)

او الله تعالی فرمايلي: الر – دا (قرآن) يو کتاب دی چې تاته مو نازل کړی تر څو خلك د هغوی د پالونکي په اراده له تيارو څخه رڼا ته راوباسې، د ستايل شوي برلاسي الله لارې ته. (إبراهيم: ١ ايت)

**او د اسلام هغه شريعت چې د الله رسول محمد صلى الله عليه وسلم راوړی، هغه د الهي پيغامونو او رباني شريعتونو ختمونکی دی**

او د بشپړتيا شريعت دی او په هغو کې د خلکو د دين او دنيا سمون دی او هغه په لوړه درجه د خلکو د دينونو، وينو، مالونو، عقلونو او اولادونو ساتنه کوي، او هغه د ټولو مخکېنيو شريعتونو نسخه کوونکی دی، لکه څنګه چې مخکېني شريعتونه ځيني پر ځينو نورو نسخه شول.

او الله پر دغه پيغام سره دين بشپړ کړ او پر خلکو د الله د رسول محمد صلى الله عليه وسلم په لېږلو سره پېرزوينه بشپړه شوه، الله تعالی فرمايلي: نن مو ستاسو لپاره ستاسو دين پوره کړ او پر تاسو مو خپله

پیرزوینه بشپړه کړه او ستاسو لپاره مو اسلام د دین په توګه خوښ کړی دی. (د المائده سورت: ۳ ایت)

او د اسلام شریعت د بشپړتیا شریعت دی، په هغو کې د خلکو د دین او دنیا سمون دی، ځکه هغه ټول هغه څه را نغښتي دي چې په مخکنیو شریعتونو کې وو او هغه یې بشپړ او تام کړل.

الله تعالی فرمايي: پرته له شکه دغه قرآن هغې لارې ته ښوونه کوي چې هغه سمه سیده ده او هغو مؤمنانو ته چې سم کارونه کوي دا زیری ورکوي چې په رېښتیا د هغوی لپاره لویه بدله ده. (د الإسراء سورت: ۹ ایت)

او د اسلام شریعت هغه ستونزمن حکمونه چې په پخوانیو امتونو کې وو له خلکو لیرې کړل.

الله تعالی فرمایلي: هغه کسان چې د همدغه نالوستي رسول او نبي پیروي کوي د کوم چې هغوی په تورات او انجیل کې یې (نوم) لیکلی مومي، (هغه) چې د ښېګڼې امر ورته کوي، له بدۍ یې ایساروي، پاکیزه شیان ورته حلالوي، ناپاکه ورباندې حراموي او درانه پیټي یې ترې ایسته کوي او هغه بندیزونه چې پر هغوی وو (له منځه وړي). نو چا چې ایمان پرې راوړ، ملاتړ او مرسته یې وکړه او په هغې رڼایي پسې روان شول چې له هغه سره نازله شوې، همدوی بریالي دي. (د الأعراف سورت: ۱۵۷ ایت)

او د اسلام شریعت د ټولو مخکېنیو شریعتونو لپاره ناسخ دی، الله تعالی فرمايلي: او تاته مو دا کتاب په حقه نازل کړی چې دا کتاب د هغه څه تصدیقوونکی دی کوم چې ترې وړاندې و او پر هغه څارونکی (یا شاهد) دی، نو د هغوی تر منځ په هغه څه پرېکړه کوه چې الله رانازل کړي او کوم حق چې درته راغلی له هغه څخه په مخ اړولو سره د هغوی په هوسونو پسې مه ځه له تاسې څخه هر یوه ته مو یو شریعت او تګلاره ټاکلې ده او که الله غوښتي وای نو تاسو ټول به یې یو امت ګرځولي وای خو د دې لپاره (یې داسې وکړل) چې په هغه څه کې مو وازمويي چې درکړي یې دي، نو په ښېګڼو کې یو له بله وړاندې شئ، د الله لورته ستاسو ټولو ستنېدل دي بیا به مو پر هغه څه خبر کړي چې اختلاف مو پکې کولو. (د المائده سورت: ٤٨ ایت)

نو قرآن کریم چې شریعت پکې رانغښتی دی، د مخکېنیو الهي کتابونو لپاره تصدیقوونکی، پر هغو پرېکړه کوونکی او د هغو لپاره ناسخ دی.

**او الله تعالی له هغه اسلام پرته چې رسول محمد صلی الله علیه وسلم ورسره راغلی بل هیڅ دین نه مني؛ نو څوک چې له اسلام پرته بل دین ته غاړه ږدي هیڅکله به یې ترې قبول نه کړي.**

د محمد صلی الله علیه وسلم له راتګ وروسته الله له هغه اسلام پرته چې محمد صلی الله علیه وسلم پرې راتګ کړی بل هیڅ دین نه مني؛ نو څوک چې له

اسلام پرته د بل دين پيروي وکړي هيڅکله به يې ترې ونه مني. الله تعالی فرمايلي: او څوك چې له اسلام پرته بل دين لټوي نو هيڅكله به ترې قبول نه شي او هغه به په آخرت كې له تاوانيانو وي. (د آل عمران سورت: ۸۵ ايت)

او الله تعالی فرمايلي: پرته له شكه الله ته منلی دين اسلام دی او د اهل كتابو مخالفت خو د خپل منځي ضد له امله يوازې له هغه وروسته و چې پوهه ورته راغله او څوك چې د الله په ايتونو كفر كوي؛ نو بيشكه الله ډېرژر حساب والا دی. (د آل عمران سورت: ۱۹ ايت)

او دغه اسلام همغه د الله د دوست ابراهيم عليه السلام ملت دی. الله تعالی فرمايلي: او څوک دی چې د ابراهيم له ملته مخ اړوي، مګر هغه کس چې خپل ځان ئې جاهل او احمق کړی وي، او يقينا مونږ هغه په دنيا كې غوره كړی دی او بېشكه په اخرت كې خامخا له صالحانو څخه دی. (د البقره سورت: ۱۳۰ ايت).

او الله تعالی فرمايلي: او له هغه چا څخه په دين كې څوك غوره دی چې الله ته يې ځان تسليم كړی، حال دا چې ښيګڼې والا او د حق پلوي ابراهيم په دين پسې روان وي او الله خو ابراهيم خپل دوست نيولی. (د النساء سورت: ۱۲۵ ايت)

او الله خپل رسول محمد صلی الله علیه وسلم ته امر وکړ چې ووایي:

**وواېه: په رېښتيا زما پالونكي د سمې لارې ښوونه راته كړې ده، چې يو مخ نېغ دين دی، د ابراهيم ملت چې حق پلوی و، او له مشركانو څخه نه و. (د الأنعام سورت: ١٦١ ايت)**

## قرآن کريم هغه کتاب دی چې الله خپل رسول محمد صلی الله عليه وسلم ته وحي کړی، او هغه د مخلوقاتو د پالونکي کلام دی

چې الله انسانان او پېريان پرې ننګولي تر څو د هغو غوندې يو سورت راوړي، او دغه ننګونه تر نن ورځې روانه ده او قران کريم د زيات شمېر مهمو پوښتنو ځواب وويلو چې په ميليونونو خلک يې حيران کړل، او قرآن عظيم تر نن ورځې په هغه عربي ژبه خوندي دی چې پرې نازل شوی و، يو حرف هم نه دی ترې کم شوی او هغه چاپ شوی خپور شوی دی، او دا لوی عاجزوونکی کتاب دی او په دې ارزي چې ولوستل شي او معناوې يې وژباړل شي، لکه څنګه چې د رسول محمد صلی الله عليه وسلم سنت د باوري راويانو له لړۍ سره سم را نقل شوي خوندي دي او په همغه عربي ژبه کې چاپ شوي چې رسول صلی الله عليه وسلم پرې خبرې کولې او زيات شمېر ژبو ته ژباړل شوي دي، قرآن کريم او د رسول صلی الله عليه وسلم سنت دواړه د اسلام د

حکمونو او تشریعاتو لپاره یوازېنۍ سرچینې دي؛ نو اسلام د هغو خلکو له کړنو څخه نه اخېستل کېږي چې یوازې اسلام ته منسوب دي، بلکې له الهي وحي قرآن عظیم او نبوي سنتو څخه اخېستل کېږي.

قرآن کریم هغه کتاب دی چې عربي رسول محمد صلی الله علیه وسلم ته یې په عربي ژبه وحې کړی دی او د مخلوقاتو د پالونکي کلام دی، الله تعالی فرمايلي: **او پرته له شکه هغه د رب العالمین له لوري نازل کړل شوی دی. دا جبریل امین راکوز کړی. ستا پر زړه، تر څو له وېرووونکو شې. په څرګنده عربي ژبه. د الشعراء سورت: ۱۹۲– ۱۹۵ ایت پورې**

او الله تعالی فرمايلي: **او پرته له شکه خامخا تا ته د ډېر حکمت والا، ښه علم والا له طرفه قرآن ښوولی او (عطا کولی) شي. (د النمل سورت: ٦ ایت)**

او دغه قران د الله له لوري نازل کړل شوی دی او له هغه د مخکېنیو الهي کتابونو تصدیقوونکی دی. الله تعالی فرمايلي: **او دا قرآن خو داسې نه دی چې له الله پرته په دروا‌غو جوړ کړل شوی وي، خو د هغه څه تصدیق دی چې ترې مخکې وو، او د الکتاب تفصیل دی. په دې کې څه شك نشته چې دا د مخلوقاتو د پالونکي له لوري دی. (د یونس سورت: ۳۷ ایت)**

او قرآن عظیم په ډېری هغو مسائلو کې تفصیل بیانوي چې یهودو او نصاراوو یې د خپل دین په اړه اختلاف پکې کړی دی، الله تعالی فرمایلي: **پرته له شکه دغه قرآن پر بني اسرائیلو ډېری هغه څه بیانوي چې هغوی پکې اختلاف کوي. (د النمل سورت: ۷۶ ایت)**

او قرآن عظیم پر هغو دلایلو او برهانونو مشتمل دی چې د ټولو خلکو پر خلاف د الله سبحانه و تعالی اړوند د حقیقتونو د هغه د دین او جزا په پېژندګلوۍ کې حجت پرې قائمیږي. الله تعالی فرمایلي: **او په دغه قرآن کې مو د خلکو لپاره هرډول بېلګې بیان کړې دي، کېدای شي هغوی پند واخلي. (د الزمر سورت: ۲۷ ایت)**

او الله تعالی فرمایلي: **او پر تا مو کتاب نازل کړی چې د هرڅه بیانوونکی، لارښوونه، لورېینه او د مسلمانانو لپاره زېری دی. (د النحل سورت: ۸۹ ایت)**

او قرآن کریم د داسې مهمو پوښتنو ځواب ورکوي چې په میلیونونو خلک ورته حیران دي؛ نو قرآن کریم دا بیانوي چې الله څه ډول اسمانونه او ځمکه پیدا کړل. الله تعالی فرمایلي: **ایا هغو کسانو چې کفر یې کړی دا نه دي لیدلي چې اسمانونه او ځمکه سره نښتي وو بیا مونږ سره بېل کړل، او له اوبو نه مو هر ژوندی شی پیدا کړ، نو آیا هغوی ایمان نه راوړي؟. (د الأنبیاء سورت: ۳۰ ایت)**

او دا چې الله څه ډول انسان پیدا کړ، الله تعالی فرمايلي: **اې خلکو! که د بیا ژوندون په هکله په شك کې یاست، نو (خبر شئ) چې موږ تاسو له خاورې پیدا کړي یاست، بیا له نطفې، بیا د وینې له ټوټې، بیا د غوښې له بوټۍ څخه چې پوره شکل لرونکي هم وي او نیمګړي شکل والا هم، د دې لپاره چې تاسو ته (حقیقت) بیان کړو. او هره نطفه چې موږ یې وغواړو، تر یوې معلومې نېټې یې په رحمونو کې تم کوو، بیا مو د ماشوم په بڼه را باسو، بیا (مو روزنه کوو) تر څو چې خپلې ځوانۍ ته ورسېږئ. او ځیني له تاسو څخه (ژر) وفات کېدلی شي او ځینې مو تر ناکاره عمره ځنډېدلی شي (ان) چې له پوهېدو وروسته بیا په هیڅ نه پوهیږي. او ته خو ځمکه وینې چې وچه شاړه ده، بیا چې کله اوبه ورباندې راتویې کړو نو وخوځیږي، را ډېره شي او له هر ډول تاندو شینکیاوو څخه راوټوکوي. الحج پنځم ایت.**

او چیرې یې ګرځېدل دي او له دغه ژوند وروسته د نیک کاره او بدکاره بدله څه ده، او پر دغه مسئله د دلائلو بیان په شلمه فقره کې تېر شو، او ایا دغه وجود همداسې تصادفي رامنځته شوی او که د کومې شریفې موخې لپاره رامنځته کړل شوی دی. الله تعالی فرمایلي: **آیا هغوی د اسمانونو او ځمکې په پاچایي کې سوچ نه دی**

کړی او کوم شیان چې الله پیدا کړي دي او دا چې ښايي نېټه يې رانژدې شوې وي نو له دې وروسته په کومه خبره ایمان راوړي؟ (د الأعراف سورت: ۱۸۵ ایت)

او الله تعالی فرمايلي: ایا تاسو ګومان کړی همداسې بې ګټې مو پیدا کړي یاست او زما لوري ته به نه راګرځول کېږئ. (المؤمنون سورت: ۱۱۵ ایت)

او قرآن عظیم تر نن ورځې پر هغه ژبه خوندي دی چې پرې نازل شوی و، الله تعالی فرمايلي: پرته له شکه موږ دغه ذکر (قرآن) نازل کړی او موږ يې ساتونکي یو. (د الحجر سورت: ۹ ایت)

له هغه یو حرف هم نه دی کم شوی او ناشونې ده چې په هغو کې ټکر، نقصان او یا بدلون راشي، الله تعالی فرمايلي: آیا هغوی په قرآن کې فکر نه کوي، که چېرې له الله پرته د بل چا له لوري وای؛ نو ډېر اختلاف به يې پکې موندلی وای. (د النساء سورت: ۸۲ ایت)

او هغه (قرآن) چاپ شوی خپور شوی دی، او هغه داسې لوی عاجزوونکی کتاب دی چې په لوستلو، اورېدلو او د معناوو په ژباړلو ارزي، لکه څنګه چې د الله د رسول محمد صلی الله علیه وسلم سنت، ښوونې او سیرت خوندي او د باوري راویانو د لړۍ پر بنسټ رانقل شوي دي، او پر هغه عربي ژبه چاپ شوي چې رسول صلی الله علیه وسلم به

پرېږي خبرې کولې او زيات شمېر ژبو ته ژباړل شوي دي، قرآن کريم او د رسول صلی الله عليه وسلم سنت دواړه د اسلام د احکامو او تشريعاتو لپاره يوازېنۍ سرچينې دي؛ نو اسلام د هغه خلکو له کړنو څخه نه اخېستل کيږي چې اسلام ته منسوب دي، بلکې هغه د الهي خوندي وحي څخه اخېستل کيږي، چې هغه قرآن عظيم او نبوي سنت دي، الله تعالی د قرآن په اړه فرمايلي: پرته له شکه هغه کسان چې پر قرآن يې کفر کړی، کله چې هغوی ته راغی او پرته له شکه چې هغه عزتمند کتاب دی، نه له مخې او نه له شا څخه باطل ورتلای شي، د حکيم ستايل شوي له لوري نازل کړل شوی دی. (د فصلت سورت: ٤١- ٤٢ ايت)

او الله تعالی د نبوي سنتو په اړه وايي چې هغه د الله له لوري وحي ده: او هغه څه چې رسول پرې تاسو ته راتګ کړی؛ نو هغه واخلئ او له کوم څه څخه مو چې منع کوي ترې ايسار شئ او له الله څخه ووېرېږئ، پرته له شکه الله د سختې سزا والا دی. (د الحشر سورت: ٧ ايت)

**او اسلام له مور او پلار سره په نېکۍ امر کوي که هغوی دواړه مسلمانان هم نه وي او د اولاد په اړه سپارښتنه کوي.**

اسلام له مور او پلار سره په نېکۍ کولو امر کوي، الله تعالی فرمايلي: او ستا رب حکم کړی چې له هغه پرته د بل چا بنده ګي مه کوئ، او

مور پلار سره ښېګڼه کوئ. که تا سره یو له هغو یا دواړه یې زړښت ته ورسېږي نو هغوی ته اُف هم مه وایه، رټه یې مه او هغوی سره په درناوي خبرې کوه. (د الإسراء سورت: ۲۳ ایت)

او الله تعالی فرمایلي: او موږ انسان ته د هغه د مور او پلار په اړه سپارښتنه کړې ده، (ځکه) چې مور یې د کمزورۍ له پاسه د کمزورۍ په حالت کې په ګېډه کې پورته کړی دی او (له تې) بېلول یې په دوو کلونو کې دي چې زما شکر وباسه او د مور او پلار دې، یوازې زما په لور راتلل دي. (د لقمان سورت: ۱۴ ایت)

او الله تعالی فرمایلي: او انسان ته مو له خپل مور او پلار سره په ښېګڼه ټینګار کړی دی، چې مور یې په (ډېر) کړاو سره په ګېډه ګرځولی او په کړاو سره یې زېږولی، او په ګېډه کېدل او له تې بېلېدل یې (ټول) دېرش میاشتې دي. تر دې چې هغه بیا ځوانۍ او ځلوېښت کلنۍ ته ورسېد، ویلې زما ربه! توفیق راکړې چې ستا د هغه نعمت شکر وباسم چې پر ما او زما پر مور او پلار دې لورولی او چې داسې ښه کارونه وکړم چې ته پرې خوښېږې او اولاده مې هم صالحه وګرځوه ما تاته توبه ایستلې او زه له مسلمانانو څخه یم. (د الأحقاف سورت: ۱۵ ایت)

له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی وايي: يوسړی رسول الله صلى الله عليه وسلم ته راغی ويې ويل: اې د الله رسوله! له خلکو تر ټولو زيات زما د ښېګڼې حقدار څوک دی؟ هغه وفرمايل: مور دې. هغه وويل: بيا څوک؟ هغه وفرمايل: بيا هم مور دې. ويې ويل: بيا څوک؟ بيا يې ورته وفرمايل: بيا هم مور دې. ويې ويل: بيا څوک؟ هغه وفرمايل: بيا پلار دې. صحيح مسلم

او د مور او پلار سره دغه د سپارښتنې امر په هرحال کې دی هغوی که مسلمانان وي او که مسلمانان نه وي.

له اسماء بنت ابي بکر څخه روايت دی وايي: له قريشو سره د تړون په زمانه کې مې مور د خپل زوی سره راغله په داسې حال کې چې هغه مشرکه وه، کله چې هغوی له نبي صلى الله عليه وسلم سره معاهده وکړه، نو له نبي صلى الله عليه وسلم څخه مې پوښتنه وکړه ومې ويل: مور مې راغلې په داسې حال کې چې مايله ده، نو آيا له هغې سره خواخوږي وکړم؟ هغه وفرمايل: هو، له مور سره دې صله رحمي وکړه. صحيح بخاري

بلکې که مور او پلار هڅه وکړي او دا کوښښ وکړي چې بچی يې له اسلام څخه کفر ته واړوي، نو اسلام په دغه حال دا امر ورته

کوي چې پیروي یې ونه کړي او پر الله به مؤمن پاتې کیږي او له هغوی دواړو سره به ښېګڼه کوي او په ښه توګه به ملګرتیا ورسره کوي. الله تعالی فرمايلي: **او که چیرې هغوی دواړه پر تا زور واچوي چې له ما سره هغه څه شریك کړې چې له تا سره د هغه څه علم نشته نو بیا د هغوی مه منه، خو په دنیا کې ښه چلند ورسره کوه، او د هغه چا لارې پسې ځه چې زما په خوا راګرځېدلی وي، بیا ستاسې راتلل زما په لور دي نو زه به مو په هغه څه خبروم چې تاسې به کول. (د لقمان سورت: ۱۵ ایت)**

او اسلام یو مسلمان د مشرکو خپلوانو یا نورو مشرکانو سره چې هغوی له مسلمانانو سره په جنګ نه وي له ښېګڼې څخه نه ایساروي، الله تعالی فرمایلي: **چا چې په دین کې ستاسو سره جګړه نه ده کړې او له خپلو کورونو یې نه یئ ایستلي؛ نو الله مو هغوی سره له ښېګڼې او انصاف څخه نه ایساروي، په رېښتیا الله انصاف کوونکي خوښوي. (د الممتحنه سورت: ۸ ایت)**

اسلام مسلمانانو ته د خپلو اولادونو په اړه د سپارښتنې امر کوي، تر ټولو لوی هغه څه چې اسلام یو پلار ته پرې امر کوي هغه دا چې خپل اولاد ته د الله حقوق ور وښيي، **لکه نبي صلی الله علیه**

وسلم چې خپل د تره زوی عبدالله بن عباس رضي الله عنهما ته وفرمایل: اې هلکه یا هلکیه! ایا داسې کلمې درونه ښیم چې الله ګټه درته پرې ورسوي؟ نو ما وویل: ولې نه. هغه وفرمایل: د الله د حدودو حفاظت وکړه، الله تعالی به ستا حفاظت وکړي، د الله تعالی د حدودو حفاظت وکړه الله تعالی به دې مخې ته ومومي، هغه ته په هوسایۍ کې متوجه اوسه، هغه به دې په سختۍ کې مرسته وکړي، کله چې څه غواړې؛ نو له الله یې غواړه او که مرسته غواړې؛ نو له الله یې غواړه. احمد روایت کړی۲۸۷/٤

او الله یو مور او پلار ته امر کړی چې خپلو اولادونو ته هغه څه وروښیي چې هغوی ته د دین او دنیا په چارو کې ګټه رسوي. الله تعالی فرمایلي: اې هغوکسانو چې ایمان مو راوړیٔ! خپل ځانونه او خپل بچي مو له هغه اور څخه وساتئ چې خس خاشاك یې انسانان او ډبرې دي. چې پر هغه به غوسه ناك، سخت زړې پرېښتې (ولاړې) وي، کوم چې د الله له حکمه سرغړاوی نه کوي او چې څه امر ورته کیږي هغه پر ځای کوي. (د التحریم سورت: ٦ ایت)

او له علي رضي الله عنه څخه د الله د هغه وینا په اړه روایت دی: ځانونه او کورنۍ مو له اوره وساتئ.

هغه وايي: **"هغوى ته ادب ورروښيئ او پوهه ورروښيئ" او نبي صلی الله عليه وسلم يو پلار ته امر کړی چې خپل بچي ته لمونځ ورروښيي، تر څو يې پر هغه روزنه وشي.**

**نبي صلی الله عليه وسلم فرمايلي: اولادونو ته مو د لمانځه امر کوئ کله چې هغوى اوه کلن شي.** ابوداود روايت کړی

**او رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: ستاسو هر يو شپون دی او هر يو مو د خپل رعيت په اړه مسؤول دی، امام شپون دی او د خپل رعيت په اړه مسئول دی، سړی په خپله کورنۍ کې شپون دی او د خپل رعيت په اړه مسئول دی، ښځه د خپل مېړه په کور کې شپنه ده او د خپل رعيت په اړه مسؤوله ده، خادم د خپل بادار د مال شپون دی او د خپل رعيت په اړه مسئول دی، هر يو ستاسو شپون او د خپل رعيت په اړه مسئول دی.** صحيح بن حبان روايت کړی ٤٤٩٠

او اسلام يو پلار ته د خپلو اولادونو او کورنۍ د نفقې امر کړی دی او ١٨ مه فقره کې د دې اړوند لږ بحث تېر شو، او **نبي صلی الله عليه وسلم پر خپل اولاد د نفقې ثواب هم بيان کړی دی ويلي يې دي: غوره دينار چې يو څوک يې لګوي: هغه دينار دی چې پر خپل بچو يې لګوي، بل هغه دينار چې د الله په لار کې يې پر خپله**

سپرلۍ لګوي او بل هغه دينار چې يوڅوک يې د الله په لار کې پر خپلو ملګرو لګوي.

ابوقلابه وايي پر عيال يې پيل وکړ، بيا ابوقلابه وايي: او تر هغه سړي به د چا ثواب لوی وي چې پر خپل کوچنيانو بچيانو لګښت کوي، د هغوی ساتنه کوي او يا الله هغوی ته پرې ګټه رسوي او غنيان کوي يې. صحيح مسلم ۹۹٤

**اسلام په وينا او کړنه کې که څه هم له دوښمن سره وي پر عدالت امر کوي.**

الله سبحانه وتعالی په خپلو کړنو او د بندګانو ترمنځ په تدبير کې پر عدل او انصاف متصف دی، او په هر هغه څه کې چې امر يې پرې کړی او منع يې ترې کړې ده، څه يې چې پيدا کړي او اندازه کړي دي پر نېغه لار دی، الله تعالی فرمايلي: الله شاهدي ادا کړې چې له هغه پرته بل معبود نشته پرېښتو او د پوهې څښتنانو هم چې (الله) پر عدالت ولاړ دی، نشته بل حقدار د بنده ګۍ مګر همغه حکمت والا برلاسی. (د آل عمران سورت: ۱۸ ايت)

او الله پر عدل امر کوي. الله تعالی فرمايلي: ووايه: ماته مې پالونکي پر عدالت مر کړی دی. (د الأعراف سوررت: ۲۹ ايت)

ټول رسولان او نبيان عليهم الصلاة والسلام له عدل سره راغلي دي، الله تعالی فرمايلي: موږ خپل رسولان په رېښتيا له ښکاره

دليلونو سره ليږلي او هغوی سره مو کتاب او تله هم رانازل کړي تر څو خلك په انصاف ولاړ اوسي. (د الحديد سورت: ۲۵ ايت)

تله هغه: په ويناوو او کړنو کې عدالت دی.

اسلام په وينا او کړنه کې که څه هم له دوښمن سره وي پر عدالت امر کوي. الله تعالی فرمايلي: اې هغو کسانو چې ايمان مو راوړی! په عدل ولاړ اوسېږئ، د الله لپاره شاهدان، که څه هم پرخپلو ځانو مو وي يا پر مور او پلار او خپلوانو، شتمن وي که بېوزله، خو الله تر هر چا زيات د هغو دواړو خواوو خيرغوښتونکی دی، نو په (خپل) هوس پسې مه ځئ چې بيا له حقه هم واوړئ او که ژبې واړوئ را واړوئ يا څنګ وکړئ نو بېيشکه الله پر هغو کارونو ښه خبردی چې تاسو يې کوئ. (د النساء سورت: ۱۳۵ ايت)

او الله تعالی فرمايلي: او د هغه قوم دوښمني چې له مسجد حرام نه يې ايسارکړي وئ، بايد تاسو دې ته چمتو نه کړي چې تېری وکړئ او تاسو په ښېګڼه او ځان ساتنه کې يو له بله مرسته وکړئ او په ګناه او تيري کې يو له بل سره مرسته مه کوئ او له الله څخه وډار شئ، بېشکه د الله عذاب ډېرسخت دی. (د المائده سورت: ۲ ايت)

او الله تعالی فرمايلي: اې هغو کسانو چې ايمان مو راوړئ! د الله لپاره په حق ولاړ او په عدل شاهدان اوسئ، او د کومې ډلې دوښمني مو

دومره و نه پاروي چې بیا عدالت ونه کړئ، عدل کوئ، دا ځان ساتنې ته ډېر نېږدې دی. (د المائده سورت: ۸ ایت)

نو آیا نن د ملتونو په قوانینو او یا د خلکو په دینونو کې دا ډول په حقه د ګواهۍ او رېښتیا وینا امر مومې، که څه هم د ځان، مور او پلار او یا خپلوانو پر خلاف وي او دا چې د عدالت امر له دوښمن او دوست دواړو سره دې وي؟

او نبي صلی الله علیه وسلم د اولادونو ترمنځ د عدالت کولو امر کړی دی. له عامر څخه روایت دی وايي: د بشیر زوی له نعمان رضي الله عنهما څخه مې واورېدل په داسې حال کې چې پر منبر و ویې ویل: ماته مې پلار یوه ډالۍ را کړه؛ د رواحه لور عمره وویل: زه یې تر هغه نه منم چې تر څو رسول الله صلی الله علیه وسلم ګواهي نه وي ورکړې؛ نو هغه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغی ویې ویل: ما مې خپل هغه زوی ته چې د رواحه له لور عمره څخه دی یوه ډالۍ ورکړې ده چې هغې ماته امر کړی تر څو اې د الله رسوله! زه تا شاهد ونیسم، هغه وفرمایل: ایا ټولو بچیانو ته دې دغه ډول ډالۍ ورکړې ده؟ هغه وویل: نه. هغه وفرمایل: "له الله څخه وډار شه او د اولادونو ترمنځ دې عدل وکړه" نو هغه را وګرځېدی او خپله ډالۍ یې واپس واخېستله. صحیح بخاري ۲۵۸۷.

دا ځکه چې د خلکو او هېوادونو چارې يوازې پر عدل سمې درېدلای شي او خلک د خپلو دينونو، وينو، اولادونو، عزتونو، مالونو او هېوادونو په اړه يوازې په عدالت سره په امن کې کېدلای شي، نو ځکه موږ وينو چې کله د مکې کفارو مسلمانان ډېر تنګ کړل، نبي صلی الله عليه وسلم حبشې ته د هجرت کولو امر ورته وکړ او لامل يې دا بيان کړ چې هلته يوعادل پاچا دی چې د هغه په هېواد کې پر هيچا ظلم نه کيږي.

او اسلام له ټولو خلکو سره په نېکۍ کولو امر کوي او غوره اخلاقو او ښو کړنو ته بلنه کوي.

اسلام له ټولو خلکو سره په نېکۍ کولو امر کوي.

الله تعالی فرمايلي: **پرته له شکه الله پر عدل، نېکۍ او خپلوانو ته پر ورکړه امر کوي. (د النحل سورت: ۹۰ ايت)**

او الله تعالی فرمايلي: **هغه کسان چې په هوسايي او تنګستيا کې لګښت کوي او غوسه زغمونکي او له (بدۍ د) خلکو تېرېدونکي وي، او الله (داسې) نېکان خوښوي. (د آل عمران سورت: ۱۳٤آيت)**

**رسول محمد صلی الله عليه وسلم فرمايلي: پرته له شکه الله په هرڅه کې ښېګڼه لازمه کړې ده؛ نو کله چې وژل کوئ په سمه توګه يې کوئ او کله چې ذبح کوئ په سمه توګه ذبحه کوئ، ستاسو هر يو**

دي خپله چاړه ښه تېره کړي او څاروی دې په ارامه سره ذبحه کړي. صحيح مسلم ١٩٥٥

اسلام ښو اخلاقو او غوره کړنو ته بلنه کوي، الله تعالی د خپل رسول محمد صلی الله علیه وسلم په ستاینه کې په مخکېنیو کتابونو کې وايي:

هغه کسان چې د همدغه نالوستي رسول او نبي پيروي کوي د کوم چې هغوی په تورات او انجیل کې يې (نوم) ليکلی مومي، (هغه) چې د ښېګڼې امر ورته کوي، له بدي يې ايساروي، پاکيزه شيان ورته حلالوي، ناپاکه ورباندې حراموي او درانه پيتي يې ترې ايسته کوي او هغه بنديزونه چې پر هغوی وو (له منځه وړي) نو چا چې ايمان پرې راوړ، ملاتړ او مرسته يې وکړه او په هغې رڼايي پسې روان شول چې له هغه سره نازله شوې، همدوی بريالي دي. (د الاعراف سورت: ١٥٧ ايت).

او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي: اې عائشې بېشکه الله مهربانه دی مهرباني خوښوي او پر مهربانۍ هغه څه ورکوي چې په سختګيرۍ يې نه ورکوي او نه يې له هغه پرته پر بل څه ورکوي. صحيح مسلم ٢٥٩٣ او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي: بېشکه الله پرتاسو د ميندو نافرماني، د لوڼو ژوندي ښخول، د فرضي صدقو نه ورکول او ناروا شيانو غوښتل حرام کړي دي، او

ستاسو لپاره يې بې خايه خبرې، بې ګټې پوښتنې او د مال ضايع کول ناخوښ کړي دي. صحيح البخاري ٢٤٠٨

او رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: تر هغه به جنت ته داخل نشئ تر څو مو ايمان نه وي راوړی او تر هغه به ايمان رانه وړئ تر څو له يوبل سره مينه ونه کړئ او آيا هغه څه درته ونه ښيم چې کله مووکړل له يوبل سره به مينه وکړئ؟ هغه دا چې په خپلو منځو کې سلام کوئ. صحيح مسلم ٥٤

**او اسلام د ښو اخلاقو لکه رېښتينولی، د امانت اداکولو، پاک لمنی، حياء، شجاعت، قرباني، سخاوت، د اړ سره مرسته کولو، له بې وزله سره کمک کولو، وږي ته خواړه ورکولو، ښه ګاونډيتوب، صله رحمی او پر ځارويو مهرباني امر کوي.**

او اسلام پر ښو اخلاقو امر کوي، رسول الله صلى الله فرمايلي: بېشکه زه يوازې د ښو اخلاقو د بشپړولو لپاره رالېږل شوی يم. صحيح الادب المفرد ٢٠

او رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: پرته له شکه ماته په تاسو کې تر ټولو محبوب او د قيامت په ورځ د مجلس له پلوه نېږدې هغه څوک دی چې په تاسو کې ښه اخلاق لري، او له تاسو بدترين او د قيامت په ورځ د مجلس له پلوه تر ټولو لېرې زيات خبرې کوونکي،

د خپلو خبرو غوره ګڼونکي او لويي کوونکي دي، هغوی وويل: ثرثارون او متشدقون خو پيژنو، خو د متفيهقون څوک دي؟ هغه وفرمايل: لويي کوونکي. السلسلة الصحيحة ٧٩١

او له عبدالله بن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دی وايي: نبي صلی الله عليه وسلم نه په طبيعي ډول د بدوخبرو کوونکی او نه په تکلف سره د بدوخبرو کوونکی و، او هغه به ويل: له تاسو غوره ستاسو څخه د ښو اخلاقو والا دی. صحيح البخاري ٣٥٥٩

له دې سربيره نور يوشمير ايتونه او حديثونه پردې دلالت کوي چې اسلام په عمومي ډول ښواخلاقو او غوره کارونو ته هڅونه کړې ده.

او پر کوم څه چې اسلام امر کوي: هغه رېښتينولي ده، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: پرتاسو رېښتينولي لازمه ده، ځکه رېښتينولي نېکۍ ته لارښوونه کوي او نيکي جنت ته لارښوونه کوي او سړی تل رېښتيا وايي او د رېښتينولۍ په لټه کې وي تر دې چې د الله په وړاندې رېښتينی وليکل شي. صحيح مسلم ٢٦٠٧

او پر کوم څه چې اسلام امر کوي: له هغو څخه يو د امانت اداکول دي، الله تعالی فرمايلي: پرته له شکه الله تاسو ته امر کوي چې امانتونه خپلو اهلو ته وسپارئ. (د النساء سورت: ٥٨ ايت)

او پر کوم څه چې اسلام امر کوي له هغو څخه: پاک لمني ده، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي: درې کسان داسې دي چې پر الله يې مرسته لازمه ده: او له هغو څخه يې هغه نکاح کوونکی ذکر کړی چې پاک لمني غواړي. سنن ترمذي ١٦٥٥

او د نبي صلی الله له دعاوو څخه دا وه چې ويل به يې: اې الله! زه ستا څخه د لارښوونې، پاک لمنۍ او د زړه دې غني والي غوښتنه کوم. صحيح مسلم ٢٧٢١

او پر کومو شيانو چې اسلام امر کوي له هغو څخه يوه حيا ده، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي: حيا يوازې خير راوړي صحيح بخاري ٦١١٧

او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي: د هر دين لپاره اخلاق وي او د اسلام اخلاق حياء ده. بيهقي په شعب الايمان کې د دغه حديث تخريج کړی٦/٢٦١٩

او له هغو شيانو څخه چې اسلام امر پرې کوي شجاعت هم دی، له انس رضي الله عنه څخه روايت دی وايي: نبي صلی الله علیه وسلم تر ټولو خلکو د غوره اخلاقو، تر ټولو خلکو زيات شجاع او تر ټولو خلکو زيات سخي و، او يوځل د مديني خلک په يوه وېره کې شول؛ نو نبي صلی الله علیه وسلم تر ټولو پر آس مخکې و. صحيح بخاري ٢٨٢٠

او رسول الله صلی الله علیه وسلم به له بزدلۍ څخه پناه غوښتله ویل به یې: اې الله! زه پر تا له بزدلۍ څخه پناه غوارم. صحیح بخاري ٦٣٧٤

او پر کوم څه چې اسلام امر کوي له هغو څخه د الله په لار کې لګښت او سخا هم دي، الله تعالی فرمایلي: د هغو خلکو مثال چې خپل مالونه د الله په لارکی لګوي داسې ده لکه یوه دانه (تخم) چې اوه وږي راشنه کړي (بیا) په هروږي کې سل دانې وي او چاته چې الله غواړي (نورهم) زیاتوي او الله ښه پوه د پراخۍ ښښتن دی. (د البقره سورت: ٢٦١ ایت)

او د رسول الله صلی الله علیه وسلم اخلاق سخاوت و، له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی وایي: نبي صلی الله علیه وسلم په ښېګڼه کې ترټولو خلکو زیات سخي و او په روژه کې به چې کله جبرئیل ورته راتلی نو تر ټولو زیات به سخي و او جبرئیل علیه السلام د رمضان میاشتې په هره شپه کې ورسره کتل تردې چې وفات شو، نبي صلی الله علیه وسلم به هغه ته قرآن اورولو، کله به چې جبرئیل علیه السلام ورته راغی، هغه به تر باران اوروونکې وریېځې هم زیات سخي و. صحیح بخاري ١٩٠٢

او پر کوم څه چې اسلام امر کوي له هغو څخه د اړ تن مرسته کول، د بې وزله کمک کول، وږي ته خواړه ورکول، له ګاونډي سره ښه چلند کول، له خپلوانو سره صله رحمي کول او پر ځارويو رحم کول دي.

له عبدالله بن عمر رضي الله عنهما څخه روایت دی چې یو سړي له نبي صلی الله علیه وسلم څخه وپوښتل: کوم اسلام غوره دی؟ هغه وفرمایل: چې چاته خواړه ورکړې او څوک چې پېژنې او که یې نه پېژنې پر هغو سلام واچوې. صحیح بخاري ۱۲

او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي: په داسې حال کې چې یوسړی پر لاره تللو سخته تنده پرې راغله چې یوه څاه یې ومونده، نو ورکوز شو او اوبه یې وڅښلې، بیا ترې راووتلو، ګوري چې یو سپی ستمیږي او له تندې څخه نمناکه خاوره خوري؛ نو سړي وویل: دغه سپي ته داسې تنده رسېدلې لکه ماته چې رسېدلې وه؛ نو څاه ته کوز شو، موزه یې له اوبو ډکه کړه، بیا یې په خوله کې ونیوله (راواېستله) سپي یې اوبه کړ، الله د هغه دغه عمل قبول کړ او بښنه یې ورته وکړه، هغوی وویل: اې د الله رسوله! ایا موږ ته په ځارويو کې هم ثواب شته؟ هغه وفرمایل: هو، په هر لانده ځیګر والا کې ثواب دی. صحیح بن حبان ٥٤٤.

او رسول الله صلى الله علیه وسلم فرمايلي: پر کونډه او بې وزله کوښښ کوونکی(پاملرونکی) لکه د الله په لار کې مجاهد، د شپې لمونځ کوونکی او د ورځې روژه نیوونکی داسې دی.
صحیح بخاري ٥٣٥٣

او اسلام د خپلوانو پر حقوقو ټینګار کوي او د خپلوانو صله رحمي یې واجب کړه، الله تعالی فرمايلي: (دا) نبي پر مؤمنانو له خپلو ځانو یې هم زیات حق لرونکی دی او د هغه مېرمنې یې میندې دي او د الله په کتاب کې د خپلوۍ څښتنان یو پربل ډېر حق لرونکي دي نظر له نورو مؤمنانو او مهاجرينو څخه، مګر که تاسې له خپلو دوستانو سره څه ښېګڼه وکړئ، همدا په کتاب کې لیکل .شوي دي. (د الأحزاب سورت: ٦ ایت)

او د خپلوۍ له پرېکولو سره یې وېرولي او په ځمکه کې د فساد غوندې یې ښودلې ده، الله تعالی فرمايلي: نو آیا تاسو، که چېرې حاکمان شئ، دې ته نژدې یئ چې تاسو به په زمکه کې فساد وکړئ او خپل قرابتونه (خپلوياني) به پرې کړئ. هغوی داسې خلك دي چې الله پرې لعنت کړی نو هغوی یې کاڼه او سترګې یې ړندې کړې دي. (د محمد سورت: ٢٢- ٢٣ ایتونه)

او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: **جنت ته به خپلوۍ پرې کوونکي داخل نشي.** صحيح مسلم ۲۵۵٦ هغه خپلوان چې پالل يې واجب دي: **مور او پلار، ورونه، خويندې، ترونه، عمه ګانې، ماماګان او خاله ګانې دي.**

او اسلام د ګاونډي پر حق ټينګار کوي، که څه هم کافر وي، الله تعالی فرمايلي: او (يوازې) د الله تعالی بنده ګي وکړئ او هيڅ شی مه ورسره شريکوئ، مور او پلار سره ښېګڼه کوئ خپلوانو سره، يتيمانو، مسکينانو، خپلوان ګاونډي، پردي ګاونډي، د څنګ ملګري، مسافر او له هغو سره چې ستاسو په واك کې وي بېشکه الله هغه څوك نه خوښوي چې ځان ستايونکي کبرجن وي. (د النساء سورت: ۳٦ ايت)

او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي: جبرئيل به تل ماته د ګاونډي په اړه سپارښتنه کوله تردې چې فکر مې وکړ چې هغه به ميراث وړي. صحيح ابوداود۵۱۵۲

**اسلام د خوراک او څښاک پاک شيان حلال کړي دي او د زړه، بدن او کور پر پاکوالي يې امر کړی، له همدې امله يې نکاح حلاله کړې ده، لکه نبيانو عليهم السلام ته يې چې امر پرې کړی، چې هغوی پر هر پاک شي امر کړی دی.**

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي: اې خلکو! پرته له شکه الله پاک دی، يوازې پاک شيان قبلوي او الله مؤمنانو ته پر هغه څه امر

کړی چې رسولانو ته يې پرې امر کړی و، الله تعالی فرمايي: ای رسولانو! له پاکو شيانو خوراک کوئ او نېک کارونه کوئ، پرته له شکه زه پر هغه څه ښه پوه يم چې تاسو يې کوئ.

او الله تعالی فرمايي: اې هغو کسانو چې ايمان مو راوړی! له هغو پاکو شيانو خوراک کوئ چې په روزۍ مو درکړي دي او د الله شکر وباسئ که چېرې تاسې يوازې د هغه عبادت کوئ.

وايي: بيا يې هغه سړی ياد کړ چې اوږد سفر کوي، ږېرسر، سپېره وي خپل لاسونه اسمان ته پورته کوي وايي: اې پالونکيه اې پالونکيه! په داسې حال کې چې خوراک يې حرام وي، جامې يې له حرامو وي، څښاک يې حرام وي او په حرامو پالل شوی وي؛ نو چېرې به دغه لره دعا قبوله شي. صحيح مسلم ۱۰۱۵

او الله تعالی فرمايلي: ورته ووايه: د الله هغه (د) ښکلا (سامان) چا حرامه کړې چې خپلو بندګانو ته يې را اېستلې او د روزۍ هغه پاکيزه شيان؟ ورته وايه: هغه خو په دنيوي ژوند کې هم (اصلاً) د مؤمنانو لپاره دي او د قيامت په ورځ خو به يوازې د هغوی لپاره وي، په همدې توګه موږ هغو خلکوته خپل آيتونه څرګند بيانوو چې پوهېږي. (د الأعراف سورت: ۳۲ ايت)

او اسلام د زړه، بدن او کور پر پاکوالي امر کړی دی، له همدې امله يې نکاح حلاله کړې ده، لکه څنګه يې چې پردې نبيانو او رسولانو عليهم السلام ته امر کړی، چې هغوی په هر پاک شي امر کوي، او الله تعالی فرمايلي: او الله تاسو ته له خپله جنسه مېرمنې پيدا کړې او له مېرمنو يې زامن او لمسي درکړي او له ښو پاکيزه شيانو يې روزي درکړې ده، نو ايا هغوی باطل مني او د الله له پېرزوينې انکار کوي. (د النحل سورت: ۷۲ ايت)

او الله تعالی فرمايلي: او جامې دې پاکې کړه (٤) او پليتي پرېږده (٥) (د المدثر سورت: ٤– ٥ ايتونه)

او رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: او جنت ته به هغه څوک داخل نشي چې په زړه کې يې يوه ذره لويي وي. يو سړي وويل: بېشکه يوسړی خوښوي چې جامې يې ښايسته وي، څپلی يې ښايسته وي، هغه وفرمايل: پرته له شکه الله ښايسته دی، ښايست خوښوي، لويي له حق څخه انکار کول او د خلکو کم ګڼل دي. صحيح مسلم ۹۱

**اسلام د ناروااوو اصول لکه پر الله شرک او کفر کول، د بوتانو لمانځل، پرته له پوهې پر الله خبرې تړل، د اولادونو وژل، د محترم نفس وژل، په ځمکه کې فساد کول، کوډې، ښکاره او پټې بې حیایی، زنا او لواطت حرام کړي دي، او سود، د مردارې خوړل او د هغه څه خوړل یې حرام کړي دي چې د بوتانو او غلطو معبودانو لپاره ذبح کړل شوي وي، د خنزیر غوښه او ټول پلیت او ناپاک شیان یې حرام کړي دي، د یتیم مال خوړل، په پېمانه او تول کې کموالی او زیاتوالی یې حرام کړي دي، د خپلویو پرې کول یې حرام کړي دي، او ټول نبیان علیهم السلام د دغو ناروااوو پر حراموالي په یوه خوله دي.**

الله تعالی فرمایلي: ورته ووایه: راشئ هغه څه در باندې ولولم چې ستاسو رب در باندې حرام کړي، دا چې هیڅ شی به نه ورسره شریکوئ، له مور او پلار سره به ښېګڼه کوئ، د بې وزلۍ له امله به خپل اولاد نه وژنئ، تاسو او هغوی دواړوته موږ روزي درکوو بې حیا کارونه که ښکاره وي او که پټ، مه ورنېږدې کېږئ، داسې څوک مه وژنئ چې الله (یې وژل) حرام کړي وي، پرته له حقه. په دې سره الله تاسو ته حکم کړی چې له عقله کارواخلئ. او (بل دا چې) د یتیم مال ته مه ورنېږدې کېږئ مګر په ښه طریقه، تر هغه چې خپلې ځوانۍ ته ورسیږي، پیمانه او تول په عدل سره پوره کوئ، هیڅوك د هغه له وس

پورته نه مکلفوو، او چې خبره مو کوله نو انصاف کوئ، که څه هم خپلوان وي، او د الله په لوظ وفا کوئ، پر همدې سره یې تاسوته حکم کړی، ښایي چې نصیحت ومنئ. (د الأنعام سورت: ۱۵۱– ۱۵۲ ایتونه)

او الله تعالی فرمایلي: ورته وایه: زما پالونکي یوازې ښکاره او پټ د بې حیایۍ کارونه حرام کړي، ګناه، په ناحقه تېری، دا چې الله سره هغه څه شریك وګڼئ چې د هغه په هکله یې څه سند نه دی رانازل کړی او داچې پر الله پورې داسې څه ووایئ چې نه (وربانديې) پوهیږئ. (د الاعراف سورت: ۳۳ ایت).

او اسلام د محترم نفس وژل حرام کړي دي، الله تعالی فرمایلي: او هغه څوک مه وژنئ چې الله تعالی ئې وژل حرام کړي دي مګر په حقه، او هر څوك چې په ظلم سره ووژل شو نو بېشکه مونږ یې وارث ته (د بدل اخیستو) حق ورکړی خو په وژلو کې به زیاتی نه کوي، بېشکه هغه سره مرسته شوې ده. (د الإسراء سورت: ۳۳ ایت)

او الله تعالی فرمایلي: او هغه کسان چې له الله سره بل معبود نه رابولي او نه پرته له حقه هغه څوک وژني چې الله ئې وژل حرام کړي وي او نه زنا کوي او څوك چې داسې وکړي، هغه به خپله ګناه مومي. (د الفرقان سورت: ٦٨ ایت)

او اسلام په ځمکه کې فساد کول حرام کړي دي، الله تعالی فرمايلي: او په ځمکه د هغې له سمون وروسته ورانکاری مه کوئ. (د الاعراف سورت: ٥٦ ایت)

او الله تعالی له شعیب علیه السلام څخه په خبر ورکولو سره وويل چې هغه يې خپل قوم ته ويل: اې زما قومه! د الله عبادت وکړئ له هغه پرته بل الله نشته، پرته له شکه تاسوته مو د پالونکي له لوري نښانه راغله، نو پوره پوره پیمانه او تول کوئ او له خلکو څخه د هغوی په شیانو کې کمی مه کوئ او په ځمکه کې د هغې له سمون وروسته ورانکاری مه کوئ، دغه ستاسو لپاره غوره دی که مؤمنان یاست. (د الأعراف سورت: ٨٥ ایت)

او الله تعالی جادو حرام کړی دی، الله سبحانه وتعالی فرمايلي: او څه دې چې په لاس کې دي هغه وغورځوه، هغوی چې څه جوړ کړي هغه به له ستوني تېروي، دا څه یې چې جوړ کړي، د کوډګر چل دی، او کوډګر چې هر چېرته راشي نه بریالی کیږي. (د طه سورت: ٦٩ ایت)

او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي: له اوو تباه کوونکو څخه ځانونه وساتئ، هغوی وويل: اې د الله رسوله! هغه څه دي؟ هغه وفرمايل:

پر الله شرک کول، کوډې، د داسې چا وژل چې الله حرام کړی وي مګر په حق، د سود خوړل، د یتیم مال خوړل، د جنګ په ورځ تېښته او پر پاک لمنو مؤمنو بې خبرو ښځو تور لګول. صحیح بخاري ٦٨٥٧

او اسلام ښکاره او پټې بې حیایۍ، زنا او لواطت حرام کړي دي، د دغې فقرې په پیل کې د هغو ایتونو یادونه تېره شوه چې پر دغو یې دلالت کولو، او اسلام سود حرام کړی دی، الله تعالی فرمايلي: اې هغو کسانو چې ایمان مو راوړی! له الله وډارشئ او له سود څخه چې څه پاتې وي هغه ورپرېږدئ که (رښتیني) مؤمنان یاست. او که دا مو ونه کړل نو خبرشئ (او ځان چمتوکړئ) د الله او د هغه له رسول سره یوې جګړې ته، او که توبه مو وکړه؛ نو ستاسو لپاره خپلې پانګې دي، نه به ظلم کوئ او نه دې ظلم درباندې کیږي. (د البقره سورت: ۲۷۸– ۲۷۹ ایتونه)

او الله د هیڅ ګناه والا داسې نه دی ګواښلی لکه د سود والا یې چې ګواښلی؛ ځکه سود د دینونو، هېوادونو، مالونو او نفسونو ورانوالی دی.

او اسلام د مردارې او هغه څه خوړل حرام کړي دي چې د بوتانو او ناحقه معبودانو لپاره ذبح شوي وي، او د خنزیر غوښه یې حرامه کړې ده، الله تعالی فرمايلي: پرتاسې حرامه کړل شوه مرداره، وینه (بهیدونکی)، د خنزیر غوښه، هغه چې له الله پرته د بل چا په نوم

حلال شوی وي، په ستوني خپه کړل شوی، ویشتلی، غورځېدلی، په ښکر څېرې شوی، هغه چې ځناورو خوړلی وي خو پرته له هغه چې تاسویې حلال کړئ، هغه چې د کوم ناروا ځای یا څه بل شي په نوم حلال شوی وي او داچې د فال په غشو خپلې تالې وګورئ، دا ټول فسق دی. (د المائده سورت: ۳ ایت)

او اسلام د شرابو او ټولو پلیتو او مردارو شیانو څښل حرام کړي دي، الله تعالی فرمایلي: اې هغو کسانو چې ایمان مو راوړی! پرته له شکه شراب، جواري، د غیر الله د عبادت ځایونه او د فال غشې دا ټول ناولي شیطاني کارونه دي نو ډډه ترې وکړئ چې بریالي شئ. خبره داده چې شیطان غواړي په شرابو او جواري سره مو ترمنځ دوښمني او کینه واچوي او د الله له یادولو او لمانځه څخه مو ایسارکړي، نو آیا تاسو ترې ایساریدونکي یاست؟ (د المائده سورت: ۹۰– ۹۱ ایتونه)

او په ۳۱ مه فقره کې د الله د خبر ورکولو ذکر تېر شو چې په تورات کې د رسول صلی الله علیه وسلم صفتونو څخه یې ورکړی، چې پر هغوی یې پلیت شیان حراموي، الله تعالی فرمایلي: هغه کسان چې د همدې امي (نالوستي) رسول پیروي کوي کوم چې هغوی سره په تورات او انجیل کې یې (نوم) لیکلی

مومي، (هغه) چې د ښېګڼې امر ورته کوي، له بدۍ يې ايساروي، پاکيزه شيان ورته حلالوي، ناپاکه ورباندې حراموي او درانه پېټي يې ترې ايسته کوي او هغه بنديزونه چې پر هغوی وو (ماتوي يې). (د الأعراف سورت: ۱۵۷ ايت)

او اسلام د يتيم مال خوړل حرام کړي دي، الله تعالی فرمايلي: او يتيمانوته يې خپل مالونه ورکوئ او ناپاك په پاك مه سره بدلوئ، او مه يې مالونه خپلو مالونو سره (ګډ) خورئ، دا هرومرو لويه ګناه ده. (د النساء سورت: ۲ ايت)

او الله تعالی فرمايلي: پرته له شکه هغه کسان چې د يتيمانو مالونه په ظلم خوري نو هرومرو به هغوی په ډکو ګېډو اور خوري او ژر به ګرم اورته ننوځي. (د النساء سورت: ۱۰ ايت)

او اسلام په پېمانه او تول کې کموالی او زياتوالی حرام کړی دی، الله تعالی فرمايلي: تباهي ده هغه چا لره چې په تول او پېمانه کې کمی کوي. هغه کسان چې ځان ته يې پر خلکو پيمانه کوي نو پوره يې اخلي. او چې هغوی ته پيمانه يا تول کوي نو کم ورکوي. آيا هغوی باور نه کوي چې دوی به دوباره بيا راژوندي کولی شي. (د المطففين سورت: ۱- ٤ ايتونه).

او اسلام د خپلویو پرې کول حرام کړي دي، په ۳۱ مه فقره کې د هغو آیتونو او حدیثونو ذکر تېر شو چې پر دغه يې دلالت کولو، ټول نبيان او رسولان د دغو ناروا وو پر حراموالي په یوه خوله دي.

**اسلام له بدو اخلاقو لکه درواغو، دوکې، غدر، خیانت، فرېب، حسد او ناوړه چل، غلا، بغاوت او تېري څخه منعه کړې ده او له هر ډول پلیتو اخلاقو يې منعه کړې ده.**

اسلام په عمومي ډول له بدو اخلاقو څخه منعه کړې ده، الله تعالی فرمايلي: او (په کبر سره) له خلکو مخ کوږ مه نیسه او مه په ځمکه کې په ناز او نخرو ګرځه، بېشکه د الله هر يو کبرجن او لاپو خوښېږي. (د لقمان سورت: ۱۸ ایت)

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي: پرته له شکه ماته په تاسو کې ترټولو محبوب او د قیامت په ورځ د مجلس له پلوه نېږدې هغه څوک دي چې په تاسو کې ښه اخلاق لري، او له تاسو بدترین او د قیامت په ورځ د مجلس له پلوه ترټولو لېرې زیات خبرې کوونکي، د خپلوخبرو غوره ګڼونکي او لويي کوونکي دي، هغوی وویل: ثرثارون او متشدقون خو پېژنو، خو د متفیهقون څوک دي؟ هغه وفرمایل: لويي کوونکي. السلسلة الصحيحة ۷۹۱

اسلام له درواغو منع کوي، الله تعالی فرمايلي: پرته له شکه الله له بريده اوښتونکي او درواغجنو ته لارښوونه نه کوي. (د غافر سورت: ۲۸ ايت)

او رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: له درواغو ځانونه وساتئ، ځکه درواغ بې لارۍ ته لارښوونه کوي، او بې لاري اور ته لارښوونه کوي، او تل يو سړی درواغ وايي او د درواغو په لټه کې وي تر دې چې د الله په وړاندې درواغجن وليکل شي. صحيح مسلم ۲۶۰۷

او رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: د منافق درې نښې دي: کله چې خبرې کوي درواغ وايي، کله چې ژمنه کوي، ماتوي يې او کله چې امانت ورته اېښودل کيږي، خيانت پکې کوي. صحيح بخاري ۶۰۹۵.

اسلام له دوکې منع کوي په حديث کې راځي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم د غلې پر تولي تېرېدی؛ نو خپل لاس يې پکې د ننه کړ، چې پر ګوتو يې لوندوالی راغی، بيا يې وويل: دا څه دي اې د غلې والا؟ هغه وويل اې د الله رسوله! پرې وريدلی دی: هغه وفرمايل: نو آيا د غلې سربېره دې نشوای کولای چې خلکو ليدلې وای، (بيا يې وويل) څوک چې دوکه ورکړي هغه له ما څخه نه دی. صحيح مسلم ۱۰۲

اسلام له غدر، خيانت او فريب څخه منع کوي، الله تعالی فرمايلي:

اې هغو کسانو چې ايمان مو راوړی! له الله او رسول سره خيانت

مه کوئ او هم خپل امانتونه مه خیانت کوئ حال دا چې تاسو (ښه) پوهېږئ هم. (د الأنفال سورت: ۲۷ ایت)

او الله تعالی فرمايلي: هغه کسان چې له الله سره کړې ژمنې پوره کوي او ټینګ تړونونه نه ماتوي. (د الرعد سورت: ۲۰ ایت)

او رسول الله صلی الله علیه وسلم به خپل لښکر ته ویل کله به چې هغه ووتلو: غزا وکړئ، له بریده مه اوړئ دوکه مه کوئ، مثله مه کوئ او ماشوم مه وژنئ. صحیح مسلم ۱۷۳۱.

او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي: څلور شیان چې کله په چا کې وي هغه سوچه منافق دی او په چا کې یو عادت له هغو څخه وي په هغه کې د نفاق عادت دی ترڅو یې پرې ایښی نه وي: کله چې امانت ورته کیښودل شي خیانت پکې کوي، خبرې چې کوي درواغ وایي، ژمنه چې وکړي ماتوي یې او کله چې شخړه کوي ښکنځل کوي. صحیح بخاري ۳٤

اسلام له کینې څخه منع کوي، الله تعالی فرمايلي: یا دوی له خلکو سره په هغه څه حسد کوي چې الله په خپله لورینه ورکړي، نومونږ خو د ابراهیم کورنۍ ته کتاب او حکمت ورکړی او(لا دا چې) لویه پاچاهي مو ورکړې ده. (د النساء سورت: ٥٤ ایت)

او الله تعالی فرمايلي: د ډېری اهل کتابو دا خوښه ده چې له خپل ايمانه مو بېرته کفرته وګرځوي(او دا) د هغه حسد له امله چې هغوی سره دی، (او) پس له هغه چې حق هم (ښه) ورته څرګند شو، نو تېرشئ او مخ وګرځوئ ترڅو چې الله خپله پرېکړه (درته) راوړي، په رېښتيا هغه پر هر څه ځواکمن دی. (د البقره سورت: ۱۰۹ ايت)

او رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: په تاسو کې له تاسو د مخکېنيو امتونو ناروغۍ را شنې شوې دي: حسد، کينه چې خرېيونکې ده، زه دا نه وايم چې وېښتان خرېيي، بلکې دين خرېيي، زما دې پر هغه ذات قسم وي چې زما ځان يې په لاس کې دی، تر هغه به جنت ته داخل نه شئ ترڅو مو ايمان نه وي راوړی او تر هغه به ايمان را نه وړئ ترڅو مو له يو بل سره مينه نه وي کړې، ايا پر داسې څه مو خبر نه کړم چې دغه څه ستاسو لپاره ثابت کړي؟ په خپلو منځو کې سلام رواج کړئ. سنن ترمذي۲۵۱۰.

اسلام له بد چل څخه منع کوي، الله تعالی فرمايلي: او همدارنګه مونږ په هر کلي کې د هغه کلي مجرمان مشران ګرځولي دي، د دې لپاره چې دوی په هغه (کلي) کې مکر او فريب وکړي، او دوی يواځې له خپلو ځانونو سره مکر کوی، په داسې حال کې دوی نه پوهېږي. (د الأنعام سورت: ۱۲۳ ايت)

او الله تعالی خبر ورکړی چې یهودو د مسیح علیه السلام د وژلو هڅه وکړه او چل ول یې وکړ، خو الله د هغوی د چل ول ځواب ورکړ او الله دا خبره بیان کړه چې بد چل یوازې پر خپل څښتن یې ورګرځي، الله تعالی فرمایلي: نو کله چې عیسی د هغوی کفر معلوم کړ، وویل: څوک مې د الله لوري ته ملګري دي؟ حواریانو وویل: موږ د الله (د دین) ملګري یو، په همغه الله مو ایمان راوړی او ته هم شاهد اوسه چې موږ مسلمانان یو. ای زمونږه ربه! په هغه څه مو ایمان راوړی چې تا را نازل کړي او د دغه رسول پیروي موکړې ده؛ نو موږ له شاهدانو سره ولیکه. او هغوی (چی) پټ تدبیر وکړ، الله (یې هم) تدبیر وکړ او الله خو تر ټولو ښه تدبیر نیوونکی دی. کله چې الله وفرمایل: اې عیسی! بیېشکه زه دې وفات کوونکی (یا اخیستونکی) او خپل لور ته خېژوونکی یم، او له کافرانو ستا پاکوونکی، او تر قیامته پرکافرانو ستا د پیروانو اوچتوونکی یم، بیا مو زما خوا ته راتلل دي نو ستاسو تر منځ به په هغه څه کې پرېکړه وکړم چې تاسو پکې یو له بل سره اختلاف کاوه. (د آل عمران سورت: ۵۲- ۵۵ ایتونه)

او الله تعالی دا خبر ورکړی چې د صالح علیه السلام قوم په چل سره د هغه د وژلو اراده وکړه، نو چل ول یې وکړ، الله هم د هغوی د چل

ځواب ورکړ، هغوی او د هغوی قوم یې ټول تباه کړل، الله تعالی فرمایلي: هغوی وویل: پر الله قسم وکړئ چې هرومرو به په هغه او کورنۍ یې د شپې یرغل کوو بیا به یې خپلوانو ته وایو چې موږ د هغه د کورنۍ د وژنې په ځای کې حاضر نه وو او موږ بالکل رښتیني یو. هغوی یوه دسیسه جوړه کړه خو موږ هم یو پلان جوړ کړ چې هغوی خبر هم نه وو. نو ګوره چې د هغوی د دسیسې پایله څه وه؟ دا چې موږ هغوی او ټول قوم یې تباه کړل. (د النمل سورت: ۴۹- ۵۱ ایتونه)

اسلام له غلا څخه منع کوي، رسول الله صلی علیه وسلم فرمایلي: زنا کوونکی زنا نه کوي کله چې زنا کوي په داسې حال کې چې هغه دې مؤمن وي، هغه غلا نه کوي کله چې غلا کوي په داسې حال کې چې هغه دې مؤمن پاتې وي، او نه شراب څښي کله چې شراب څښي په داسې حال کې چې هغه دې مؤمن پاتې شي او توبه له دغو وروسته وړاندې کړل شوې ده. صحیح بخاري ۶۸۱۰

اسلام له بغاوت څخه منع کوي، الله تعالی فرمایلي: پرته له شکه الله د عدل، ښېګڼې او خپلوانو ته د ورکړې امر کوي او له بې حیایۍ بدۍ او تیرې څخه منع کوي، هغه تاسو ته نصیحت کوي تر څو پند واخلئ. (د النحل سورت: ۹۰ ایت)

او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: **پرته له شکه الله ماته وحي کړې دا چې تاسو امر ومنئ تر څو یو پر بل تېری ونه کړي او یو پر بل ویاړ ونه کړي.** صحیح ابوداود ٤٨٩٥.

اسلام له ظلم څخه منع کوي، الله تعالی فرمایلي: **او الله تېری کوونکي نه خوښوي. (د آل عمران سورت: ٥٧ ایت)**

او الله تعالی فرمایلي: **پرته له شکه تېری کوونکي نه بریالي کیږي. (د الأنعام سورت: ٢١ ایت)**

او الله تعالی فرمایلي: **او د ظالمانو لپاره یې دردوونکی عذاب چمتو کړی دی. (د الإنسان سورت: ٣١ ایت)**

او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: **درې کسان داسې دي چې دعا یې نه ردیږي: یو عادل پاچا، بل روژه نیوونکی تر څو یې چې روژه نه وي ماته کړې او د مظلوم دعا پر وریځو سربېره پورته کیږي او د اسمانونو دروازې ورته پرانېستل کیږي او رب عزوجل فرمایي: پر عزت مې دې قسم وي زه به دې هرومرو مرسته کوم که څه هم یوه موده وروسته وي.** مسلم یې په ٢٧٤٩ شمېره له لږ اختلاف سره په لنډ ډول تخریج کړی، او ترمذي په ٢٥٢٦ شمېره له لږ اختلاف سره تخریج کړی او احمد په ٨٠٤٣ شمېره تخریج کړی او لفظ د هغه دی.

او کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم معاذ رضي الله عنه یمن ته ولیږلو هغه ته یې دا هم وویل: د مظلوم له ښېرا څخه ځان وساته، ځکه د هغه د ښېرا او د الله جل جلاله ترمنځ هیڅ پرده نشته. صحیح بخاري ۱۴۹۶

او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: خبر اوسئ چا چې پر معاهد ظلم وکړ، یا یې څه ترې کم کړل او یا یې له وس پر زیات څه مکلف کړ او یا یې د هغه د زړه له خوښې پرته څه ترې واخېستل؛ نو زه به د قیامت په ورځ د هغه لپاره دعوا کوونکی وم. سنن ابوداود ۳۰۵۲

نو اسلام لکه څنګه چې وینې له هر ډول ناوړه اخلاقو، د تېري او ظلم له معاملې څخه منع کوي.

**اسلام د هغو مالي راکړو ورکړو څخه منع کوي چې سود، ضرر، دوکه، ظلم، فرېب وي پکې او یا د مصیبتونو او د ټولنو، قومونو او افرادو د عام ضرر لامل کیږي.**

د دغې فقرې په پیل کې د هغو ایتونو او احادیثو ذکر تېر شو چې سود، ظلم، دوکه او په زمکه کې فساد حراموي، الله تعالی فرمایلي:
او هغه کسان چې مؤمنان او مؤمناني ځورووي پرته له څه ګناه چې هغوی کړې وي نو بېشکه هغوی پر خپل ځان لوی دروغ او څرګنده ګناه باروي. (د الأحزاب سورت: ۵۸ ایت)

او الله تعالی فرمايلي: چا چې نيک عمل وکړ، نو د ځان لپاره يې دی، او چا چې بد کار وکړ؛ نو پر هغه دی او ستا پالونکی ظلم کوونکی نه دی. (د فصلت سورت ٤٦ ايت)

او په احاديثو کې دي: چې رسول الله صلی الله عليه وسلم پريکړه وکړه چې نه ضرر وي او نه ضرار. يعنې نه ځان ته ضرر رسول شته نه بل ته. سنن ابوداود

او رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: څوک چې پر الله او د آخرت په ورځ ايمان لري؛ نو خپل ګاونډي ته دې ازار نه رسوي، او څوک چې پر الله او د آخرت په ورځ ايمان لري؛ نو د خپل مېلمه درناوی دې کوي، او څوک چې پر الله او د آخرت په ورځ ايمان لري؛ نو يا دې ښه خبره وکړي او يا دې چوپ پاتې شي. او په يو روايت کې دي: چې له ګاونډي سره دې ښېګڼه وکړي. صحيح مسلم ٤٧

او رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: يوې ښځې ته د يوې پيشو له امله عذاب ورکړل شو چې بندي کړې يې وه، تر دې چې مړه شوه، نو په اور کې دننه شوه، هغې ښځې پشی ته نه خوراک ورکولو او نه څښاک، څکه هغه يې بندي کړې وه، او هغه يې نه پرېښودله چې د ځمکې حشرات يې خوړلي وای. صحيح بخاري ٣٤٨٢

دا د هغه چا سزا وه چې پېشکه يې ازار کړې وه؛ نو د هغه چا حال به ځنګه وي چې خلک ازاروي، له ابن عمر څخه روايت واېي: رسول الله منبر ته وختلو، په لوړ غږ يې اواز وکړ او ويې فرمايل: اې هغوکسانو چې په خوله يې ايمان راوړی او زړه ته يې ايمان نه دی رسېدلی! مسلمانان مه ازاروئ او مه پېغور ورکوئ او مه يې په عيبونو پسې کېږئ، ځکه څوک چې د خپل مسلمان ورور په عيب پسې وي، الله به د هغه پر عيب پسې شي او د چا په عيب پسې چې الله شي، رسوا کوي يې که څه هم د خپل بار په منځ کې وي، هغه وويل: او ابن عمر يوه ورځ بيت الله يا کعبې ته وکتل؛ نو ويې ويل: څومره لوی شان والا يې او څومره لوی حرمت دې دی، خو مؤمن د الله په وړاندې له تا څخه هم د حرمت او درناوي له پلوه لوی دی. ترمذی يې په ۲۰۳۲ شمېره تخريج کړی او ابن حبان په ۵۷٦۳ شمېره

او رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: څوک چې پر الله او د آخرت په ورځ ايمان لري؛ نو خپل ګاونډي ته دې ازار نه رسوي، او څوک چې پر الله او د آخرت په ورځ ايمان لري؛ نو د خپل مېلمه درناوی دې کوي، او څوک چې پر الله او د آخرت په ورځ ايمان لري؛ نو يا دې ښه خبره وکړي او يا دې چوپ پاتې شي. صحيح بخاري ٦٠١٨

او ابوهريره له نبي صلى الله عليه وسلم څخه روايت کوي چې ويې فرمايل: **آيا پوهېږئ چې مفلس څوک دی؟ هغوی وويل: اې د الله رسوله! په موږ کې مفلس هغه څوک دی چې درهم او توښه نه لري، هغه وفرمايل: بېشکه زما له امت څخه مفلس هغه څوک دی چې د قيامت په ورځ به له روژې، لمانځه او زکات سره راشي، خو يو تن به راشي چې د هغه يې بې عزتي کړې وي، او پر دغه به يې تور لګولی وي، د دغه به يې مال خوړلی وي، نو هغه به کېنول شي او دغه به يې له نېکيو خپله بدله اخلي او هغه به يې هم له نېکيو بدله اخلي، کله يې چې نېکۍ خلاصې شي مخکې تردې چې د خپلو ګناهونو پور ادا کړي، نو د هغوی ګناهونه به را واخېستل شي او پر هغه به ورواچول شي بيا به هغه هم په اور کې واچول شي**. مسلم په ۲۵۸۱ شمېره، ترمذي په ۲٤۱۸ او احمد په ۸۰۲۹ شمېرې سره تخريج کړی او لفظ د احمد دی.

او رسول صلى الله عليه وسلم فرمايلي: **پر لاره د ونې يو شاخ و چې خلکو ته يې تکليف رسولو، يوسړي هغه لرې کړ؛ نو هغه جنت ته داخل کړای شو.** بخاري په ٦٥۲ شمېره د هغه معنا تخريج کړې، مسلم په ۱۹۱٤ دېته ورته، ابن ماجه په ۳٦۸۲ شمېره او احمد په ۱۰٤۳۲ شمېره تخريج کړی دی او لفظ د هغو دواړو دی، چې له لارې څخه د زيان رسوونکي شي لرې کول

ځوک جنت ننه باسي؛ نو ستا خیال دی چې د هغه چا به څه حال وي چې خلکو ته زیان رسوي او د هغوی ژوند ور خرابوي.

**اسلام د عقل د ساتنې او ټولو هغو شیانو د حراموالي لپاره راغلی چې عقل خرابوي**

لکه د شرابو څښل او د عقل مرتبه یې لوړه کړې ده او هغه یې د تکلیف مدار ګرځولی او د خرافاتو او بوتانو له ځنځیرونو یې ازاد کړی دی، او په اسلام کې هیڅ داسې رازونه او حکمونه نشته چې یوازې تر یوې طبقې پورې اړه ولري تر بلې پورې تړاو ونه لري، د اسلام ټول حکمونه او فرمانونه د صحیح عقلونو سره سمون لري او هغه د عدالت او حکمت مطابق دي.

الله تعالی فرمایلي: **پرته له شکه غوږونه، سترګې او زړه د هر یوه په اړه به پوښتنه کیږي. (د الإسراء سورت: ۳٦ ایت)**

نو پر انسان واجب دي چې د خپل عقل ساتنه وکړي، له همدې امله اسلام شراب او نشه یي توکي حرام کړي دي، او د شرابو ناروااوالی مې په ۳٤ مه فقره کې بیان کړ او د قرآن کریم ډېری ایتونه پر دغو تورو ختمیږي. کیدای شي له عقله کار واخلئ. (د البقره سورت: ۲٤۲ ایت)

او الله تعالی فرمایلي: او دنیوي ژوند له لوبې او تماشې پرته بل څه نه دي، او همغه د آخرت مېنه هغو خلکو ته غوره ده چې ځان ساتنه (تقوی) کوي، آیا له عقل کار نه اخلئ. (د الأنعام سورت: ۳۲ ایت)

او الله تعالی فرمایلي: پرته له شکه موږ قرآن په عربي ژبه نازل کړی، تر څو تاسو له عقل څخه کار واخلئ. (د یوسف سورت: ۲ ایت)

او الله تعالی داخبره بیان کړه چې له لارښوونې او حکمت څخه یوازې د عقلونو څښتنان ګټه پورته کولای شي او هغوی چې هوښیاران دي، الله تعالی فرمایلي: چاته چې غواړي حکمت ورکوي او هر چاته چې حکمت ورکړل شي؛ نو بیشکه ډېره ښېګڼه ورکړل شوه او د عقل له څښتنانو پرته بل څوك پند نه اخلي. (د البقره سورت: ۲۶۹ ایت)

او له همدې امله اسلام، عقل د تکلیف مدار وګرځولو، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: له دریو کسانو څخه قلم پورته کړل شوی دی: له ویده څخه ترڅو وېښ شوی نه وي، له ماشومه تر څو بالغ شوی نه وي او له لېوني څخه تر څو په سد شوی نه وي. دغه حدیث بخاري د جزم په صیغه سره معلقا مخکې تر ۵۲۶۹ شمېره کې همدغه ډول تخریج کړی او ابوداود

موصولا ٤٤٠٢شمېرې سره تخریج کړی او لفظ د هغه دی، ترمذي په ۱٤۲۳ شمېره، نسائي په سنن کبری کې په ۷۳٤٦ شمېرې سره، احمد په ۹٥٦ شمېره له لږ اختلاف سره او ابن ماجه په ۲۰٤۲ شمېره په لنډ ډول راوړی دی.

او د خرافاتو او بوتانو له ځنځیرونو څخه یې یادونه کړې ده، الله تعالی د خرافاتو په ټینګو نیولو کې د امتونو له حال څخه په خبرولو سره او هغه حق ته یې په ردولو سره چې د الله له لورې راغلی فرمایلي: **او په همدې توګه موږ له تا مخکې په کوم کلي کې څوك وېروونکی ندی لېږلی مګر دا چې سوکاله خلکو به یې ویل؛ موږ خپل پلرونه په یوه لاره موندلي او په رېښتیا موږ د هغوی پر پلونو روان یو. (د الزخرف سورت: ۲۳ ایت)**

او الله تعالی د خپل دوست ابراهیم علیه السلام څخه په خبر ورکولو سره وايي چې هغه یې خپل قوم ته وویل: **کله چې هغه خپل پلار او قوم ته وویل: دا بوتان څه شی دي چې تاسو یې عبادت ته ټینګ ولاړ یاست؟ هغوی وویل: موږ خپل پلرونه د دغو په لمانځنه موندلي دي. (د الأنبیاء سورت: ٥۲- ٥۳ ایتونه)**

اسلام راغی او خلکو ته یې د بوتانو د لمانځلو د پرېښودلو او له پلرونو او نیکونو څخه په میراث وړپاتې خرافاتو څخه د ځان ساتلو او رسولانو علیهم الصلاة والسلام د لارې د پیروۍ امر وکړ.

او په اسلام کې داسې رازونه او حکمونه شتون نه لري چې تر یوې طبقې پورې تړاو ولري نه تربلې طبقې پورې.

د ابوطالب له زوی علي رضي الله عنه څخه - چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د تره زوی او د لور خاوند دی، و پوښتل شول: **چې آیا رسول الله صلی الله علیه وسلم تاسو ته کوم څه ځانګړي کړي دي؟ نو هغه وفرمایل: موږ ته رسول الله صلی الله علیه وسلم داسې څه نه دي ځانګړي کړي چې ټولو خلکو ته عام نه وي، مګر هغه څه چې زما د دغې تورې په پوښ دي هغه وویل: نو یوه پاڼه یې راوېستله چې په هغې کې لیکلي و: الله پر هغه چا لعنت کړی چې له الله پرته د بل چا لپاره ذبح کوي، الله پر هغه چا لعنت کړی چې د ځمکې نښې غلا کوي، الله پر هغه چا لعنت کړی پر خپل پلار بد وايي او الله پر هغه چا لعنت کړی چې بدعتي ته پناه ورکوي.**

صحیح مسلم ۱۹۷۸ او د اسلام ټول حکمونه او فرمانونه د صحیح عقلونو سره سم او د عدالت او حکمت د غوښتنې سره مطابق دي.

**او د باطل دينونو پيروان چې کله پر هغه څه پوهه ونه لري چې ترمنځ يې ټکر وي او يا هغه چارې چې عقلونه يې ردوي، نو بيا د دين پيروان دا ګومان کوي چې دين له عقل څخه پورته دی او يا دا چې عقل لره د دين په پوهاوي او پر هغه د را چاپېرېدو کې هيڅ ځای نشته.**

سره له دې چې اسلام دين د عقل لپاره يوه داسې رڼا بللې ده چې لاره يې ورته روښانه کوي، نو د باطلو دينونو خلک له انسان څخه غواړي چې له عقل څخه خالي شي او د ځان تابع يې وګرځوي او اسلام بيا له انسان څخه غواړي چې عقل يې را بيداره کړي، تر څو حقيقتونه لکه څنګه چې دي همداسې يې وپېژني.

الله تعالی فرمايلي: **او همدارنګه موږ تاته هم په خپل امر سره روح راولېږلو، ته نه پوهېدې چې کتاب څه دی او ايمان څه دی خو موږ هغه رڼايي وګرځوله چې له خپلو بندګانو چاته وغواړو په هغه سره يې لارښوونه کوو او بېشکه چې ته د نېغې لارې خواته ښوونه کوې. (د الشوری سورت: ٥٢ ايت)**

نو الهي وحي داسې برهانونو او حجتونو ته شامله ده چې د سالمو عقلونو داسې حقيقتونو ته لارښوونه کوي چې د هغو پر پېژندګلوۍ او ايمان يې خبر وي، الله تعالی فرمايلي: **اې خلکو! بېشکه تاسو ته مو**

د خپل پالونکي له لورې برهان راغلی او تاسو ته مو څرګندوونکې رڼا نازله کړې ده. (د النساء سورت: ۱۷٤ ایت)

الله سبحانه وتعالی د انسان لپاره غوارې چې د لارښوونې، پوهې او حقیقت په رڼا کې ژوند وکړي، شیطانان او طاغوتان غوارې چې انسان د کفر، ناپوهۍ او لارورکۍ په تیارو کې پاتې شي، الله تعالی فرمايلي: الله د هغو خلکو دوست دی چې ایمان یې راوړی، له تیارو یې د رڼا لورې ته باسي او هغوی چې کافر شوي، دوستان یې شیطانان دي چې له رڼایي د تیارو لورې ته باسي، دا خلك د اور والا دي، همدوی به تل پکې اوسېدونکي وي. (د البقره سورت: ۲۵۷ ایت)

**اسلام صحیح علم ته لویه درجه ورکوي او له نفسي غوښتنې څخه خالي علمي بحث ته هڅونه کوي**

او زموږ په نفسونو او شاوخوا کایناتو کې د نظر او فکر کولو ته بلنه کوي او د پوهې لپاره صحیح علمي پایلې له اسلام سره ټکر نه دي.

اسلام د صحیح علم لوی او قدر کوي، الله تعالی فرمايلي: الله هغو کسانو ته چې ایمان یې راوړی او چاته چې پوهه ورکړل شوې ده لوړې درجې ورکوي، او الله پر هغه څه ښه خبر دی چې تاسو یې کوئ. (د المجادله سورت: ۱۱ ایت).

او الله د عالمانو ګواهي له خپلې ګواهۍ او پرېښتو له ګواهۍ سره یوځای کړه په تر ټولو لوی د ګواهۍ په ځای کې، الله تعالی فرمايلي: الله شاهدي ادا کړې چې له هغه پرته بل حقدار د بنده ګۍ نشته پرېښتو او د پوهې څښتنانو هم چې (الله) پر عدالت ولاړ دی، بل حقدار د بنده ګۍ نشته مګر همغه حکمت والا برلاسی. (د آل عمران سورت: ۱۸ ایت)

دغه په اسلام کې د پوهې د څښتنانو مرتبه په ډاګه کوي او الله خپل نبي محمد صلی الله علیه وسلم ته د بل هیڅ شي د زیاتوالي امر نه دی کړی پرته له پوهې څخه، الله تعالی فرمایلي: او ووایه: اې زما پالونکیه! پوهه مې را زیاته کړه. (د طه سورت: ۱۱٤ ایت)

او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي: څوک چې داسې لار غوره کړي چې په هغې کې پوهه لټوي، الله به هغه ته د جنت لاره اسانه کړي، او پرېښتې د پوهې لټوونکي لپاره د هغه د خوښۍ په موخه وزرونه غوړوي او د پوهې لټوونکي لپاره ټول هغه څوک چې په اسمان او ځمکه کې دي د ښښنې غوښتنه کوي تردې چې ماهیان يې په اوبو کې کوي، د عالم غوراوی پر عابد داسې دی لکه د سپوږمۍ غوراوی پر ټولو ستورو، بېشکه عالمان د نبیانو وارثان دي، نبیانو په

میراث کې دینار او درهم نه دي پرې ایښي، بلکې هغوی پوهه په میراث پرې ایښې ده، نو چاچې هغه تر لاسه کړه لویه برخه یې ترلاسه کړه. ابوداود په ۳٦٤١ شمېره، ترمذي په ۲٦۸۲ شمېره، ابن ماجه په ۲۲۳ شمېره تخریج کړی او لفظ هم د ابن ماجه دی، او احمد په ۲۱۷۱۵ شمېره.

او اسلام د نفسي غوښتني څخه خالي علمي بحث ته هڅونه کوي او زموږ په نفسونو او شاوخوا کایناتو کې د نظر او فکر کولو ته بلنه کوي، الله تعالی فرمایلي: ژر به موږ هغوی ته په شاوخوا او د هغوی په نفسونو کې خپلې نښانې وروښیو، تر څو هغوی لره داخبره په ډاګه شي چې هغه حق دی، او ایا ستا د پالونکي لپاره دا بسنه نه کوي چې هغه پر هرڅه شاهد دی. (د فصلت سورت: ٥۳ ایت)

او الله تعالی فرمایلي: ایا هغوی د اسمانونو او ځمکې په پاچايۍ کې سوچ نه دی کړی او کوم شیان چې الله پیدا کړي دي او دا چې ښايي نېټه یې رانیږدې شوې وي نو له دې وروسته په کومه خبره ایمان راوړي. (د الأعراف سورت: ۱۸٥ ایت)

او الله تعالی فرمایلي: آیا هغوی ځمکه کې نه دي ګرځېدلي چې وګوري له هغوی د مخکې خلکو پایله څنګه وه؟ هغوی ترې ډېر زورور وو، ځمکه یې (ښه) سپړلې او دغو چې څومره ودانه کړې،

هغوی ترې زیاته ودانه کړې وه او رسولان يې له څرګندو نښانو سره ورغلي وو، نو الله خو پر هغوی ظلم نه کولو خو هغوی په خپله پر ځانونو ظلم کولو. (د الروم سورت: ۹ ایت)

او د پوهې لپاره صحیح علمي پایلې له اسلام سره ټکر نه وي او موږ به يې یوه بېلګه بیان کړو چې قرآن د هغه په اړه دقیق تفصیلات یوزر او څلورسوه کاله مخکې بیان کړي دي او نوي علم وروسته هغه تفصیلات پېژندلي دي، چې د دغه علم پایلې له هغه څه سره موافقې دي کوم چې په قرآن عظیم کې دي چې هغه د مور په ګېډه کې د جنین پیدایښت دی، الله تعالی فرمايلي: او بېشکه موږ انسان د ختې له سوچه برخې څخه پیدا کړ. بیا مو هغه د یو څاڅکي په بڼه محکم خوندي ځای کې کېښود. بیا مو هغه څاڅکی د وینې یوه ټوټه وګرځوله، بیا مو هغه ټوټه د غوښې یوه بوټۍ وګرځوله، چې له بوټۍ مو هډوکي پیدا کړل نو هډوکو ته مو غوښه ور واغوستله، بیا مو هغه یو بل مخلوق جوړ کړ نو الله ډېر برکتناك دی، تر ټولو غوره پیدا کوونکی. (د المؤمنون سورت: ۱۲- ۱٤ ایتونه).

او الله عمل نه قبلوي او نه په آخرت کې ثواب پرې ورکوي مګر له هغه چا څخه چې پر الله يې ایمان راوړی وي، د هغه پیروي يې کړې

وي او د هغه رسولان علیهم الصلاة والسلام يې رېښتيني ګڼلي وي او يوازې هغه عبادتونه قبلوي چې روا کړي يې وي؛ نو څنګه انسان پر الله کفر کوي او دا هیله لري چې ښه بدله به يې ورکړي؟ او له خلکو څخه د هیچا ایمان نه قبلوي مګر دا چې هغه پر ټولو نبیانو علیهم السلام ایمان راوړی وي او د محمد صلی الله علیه وسلم پر رسالت يې ایمان راوړی وي.

**او الله عمل نه قبلوي او نه په آخرت کې ثواب پرې ورکوي مګر له هغه چا څخه چې پر الله يې ایمان راوړی وي، د هغه پیروي يې کړې وي او د هغه رسولان علیهم الصلاة والسلام يې رېښتيني ګڼلي وي**

الله تعالی فرمايلي: څوك چې د کومې سملاسی ګټې غوښتنه کوي نو چاته چې څه ورکول غواړو همدلته يې ژر ورکوو بیا جهنم ورته (برخه) ګرځوو، چې رټلی دیکه شوی به ورننوځي. او چا چې آخرت وغوښت او د هغه لپاره يې هڅه وکړه؛ مناسبه هڅه، او هغه مؤمن هم وي نو د داسي خلکو هڅه منونکي ده. (د الإسراء سورت: ۱۸- ۱۹ ایتونه).

او الله تعالی فرمایلي: نو څوک چې غوره کارونه وکړي په داسې حال کې چې مؤمن وي، د هغه د هڅې ناشکري به نه کیږي او موږ هغه لره لیکونکي یو. (د الأنبیاء سورت: ۹٤ ایت)

او له عبادتونو څخه یوازې هغه منې چې روا کړې یې دي، الله تعالی فرمایلي: څوک چې له خپل رب سره د مخ کېدلو هیله لري، نو نېک عمل دې وکړي او له هغه سره دې هیڅوک هم په بنده ګۍ کې نه شریکوي. (د الکهف سورت: ۱۱۰ آیت).

دا خبره یې بیان کړه چې عمل هغه وخت نېک وي چې الله روا کړی وي او څښتن یې په خپل عمل کې د الله لپاره مخلص وي او پر الله باور کوونکی، د هغه د نبیانو او رسولانو علیهم السلام تصدیقوونکی وي، خو د چا چې عمل له دې پرته بل څه وي؛ نو الله تعالی بیا وایي: او هر څه عمل چې هغوی کړی وي موږ به ورورګاندې شو او دوړه دوړه به یې والوزوو. (د الفرقان سورت: ۲۳ ایت).

او الله تعالی فرمایلي: په هغه ورځ به ځیني مخونه ذلیل وي. سخت زیار اېستونکي ستومانه به وي. سره اور ته به ورننوځي. (د الغاشیه سورت: ۲- ٤ ایتونه)

نو دغه مخونه به ذلیل او له کاره ستړي وي، خو کله چې هغو د الله له لارښوونې پرته عمل کولو، الله به یې د ورتګ ځای اور وګرځوي، ځکه هغو له هغه څه پرته پر بل څه عمل کړی چې الله روا کړي دي، بلکې باطل عبادتونه یې کړي دي او د لارورکی د داسې مشرانو

پیروي یې کړې ده چې د هغوی لپاره یې باطل دینونه رامنځته کړي دي؛ نو د الله په وړاندې منل شوی نېک عمل هغه دی چې له هغه څه سره سمون ولري له کوم څه سره چې رسول صلی الله علیه وسلم راغلی، نو څنګه بیا انسان پر الله کفر کوي او د ښې بدلې هیله لري.

او الله له خلکو څخه د هیڅا ایمان نه قبلوي مګر هغه څوک چې پرتېرو نبیانو علیهم السلام یې ایمان راوړی وي او د محمد صلی الله علیه وسلم پر رسالت یې ایمان راوړی وي - مخکې مو پر دغه خبره ځینې دلیلونه په ۲۰ مه فقره کې ذکر کړل، او الله تعالی فرمایلي: رسول پر هغه څه ایمان راوړی چې د الله له خوا ورته نازل شوي او مؤمنانو هم، ټولو ایمان راوړی پر الله، پرښتو یې، کتابونو یې او رسولانو یې (هغوی وایي چې) له رسولانو یې د یوه تر منځ هم توپیرنه کوو او ویې ویل: اورېدلي او منلي مو دي ښښنه (غواړو) زموږ ربه! او خاص تا ته بېرته درګرځېدل دي. (د البقره سورت: ۲۸۵ ایت)

او الله تعالی فرمایلي: اې هغو کسانوچې ایمان مو راوړی! پر الله د هغه پر رسولانو او پر هغه کتاب ایمان راوړئ چې پر خپل رسول یې نازل کړی دی او هغه کتاب چې له هغه مخکې یې نازل کړی دی، او څوک چې پر الله د هغه پر پرښتو، کتابونو، رسولانو یې او

وروستۍ ورځ کفر وکړي؛ نو هغه په لرې لاروړکۍ سره لاروړکی شوی دی. (د النساء سورت: ۱۳۶ ایت)

او الله تعالی فرمايلي: او کله چې الله له نبیانو ژمنه واخیسته چې کله مې کتاب او حکمت درکړ، بیا که یو داسې رسول درشي چې تاسو سره د شته کتاب تصدیقوونکی وي نو هرومرو به ایمان پرې راوړئ او ملاتړ به یې کوئ ! (بیایې) وفرمایل: آیا پر دې اقرارکوئ او زما دا پیټی (ټینګه ژمنه) مو واخیسته؟ هغوی وويل اقرار کوو، ویې فرمایل: نو شاهدان اوسئ او زه هم درسره له شاهدانو څخه یم. (د آل عمران سورت: ۸۱ ایت).

**پرته له شکه د ټولو الهي پیغامونو موخه دا ده چې حق دین د انسان مرتبه اوچته کړي، نو هغه یوازې د الله بنده وي کوم چې د ټولو کائناتو پالونکی دی**

او د انسان، مادي او خرافاتو له لمانځلو یې ازاد کړي؛ نو اسلام لکه څنګه چې ته وینې د اشخاصو سپېڅلتیا نه بیانوي او له خپلو مرتبو یې نه پورته کوي او نه له هغو څخه ارباب او معبودان جوړوي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي: بدبخت دې وي د دینار، درهم، د څوندیو او ورېښمو جامو بنده که ورکړل شي خوشحاله وي او که ورنه کړل شي خوشحاله نه وي. صحیح بخاري ٦٤٣٥ نو سم انسان

**یوازې الله ته غاړه اېښودونکی وي، چې د مال، عزت، مرتبې یا قبیلې د لمانځلو په لټه کې نه وي، او په دغه کېسه کې هغه څه دي چې د لوستونکي لپاره هغه څه په ډاګه کوي چې خلک مخکې تر رسالته پرې وو او وروسته څه ډول وګرځېدل؟**

کله چې لومړنیو مسلمانانو حبشې ته هجرت وکړ او د حبشې پاچا چې هغه مهال نجاشي و وپوښتل، هغوی ته یې وویل: دا څه ډول دین دی چې تاسو مو د قوم ترمنځ بېلوالی راوستلی دی، نه زما په دین کې داخلېږئ او نه له دغو امتونو څخه د هیچا په دین کې؟ د ابوطالب زوی جعفر ورته وویل: اې پاچا! موږ جاهل قوم وو، د بوتانو بنده ګي مو کوله، مرداره مو خوړه، بې حیایۍ مو کولې، خپلوۍ مو پرې کولې، له ګاونډیانو سره مو بد کول، په موږ کې پیاوړي به کمزوري خوړلو، موږ پر همدې حال وو تر دې چې الله له موږ څخه رسول راته راولېږلو، چې نسب، رېښتینولي، امانتداري او پاک لمني یې پېژنو، هغه موږ الله ته وروبللو، ترڅو یې یو وبولو او عبادت یې وکړو او له هغه څه څخه ووځو چې موږ او پلرونو مو یې له هغه پرته د کومو ډبرو او بوتانو عبادت کولو، او په رېښتیا ویلو، امانت اداکولو، صله رحمۍ، ښه ګاونډیتوب، له محارمو او وینو تویلو څخه په ډډه کولو یې امر راته

وکړ، له بې حیایۍ، درواغو، د یتیم له مال خوړلو او پر پاک لمنو مېرمنو له تور لګولو یې منع کړلو، امر یې راته وکړ چې یوازې د الله عبادت وکړو هیڅوک ورسره شریک نه کړو او د لمانځه، زکات او روژې امر یې راته وکړ، هغه وایې: پر هغه یې د اسلام امور وشمېرل، موږ یې تصدیق وکړ او ایمان مو پرې راوړ او په هغه څه کې مو یې پیروي وکړه چې ورسره راغلی و، نو یوازې د الله عبادت مو وکړ، هیڅوک مو ورسره شریک نه کړل، هغه څه مو حرام وبلل چې هغه راباندې حرام کړل او هغه څه مو حلال وبلل چې هغه راته حلال وګرځول. احمد په ۱۷٤۰ شمېره له لږ اختلاف سره تخریج کړی او ابونعیم په (حلیة الاولیاء) کې ۱/۱۱۵کې په لنډ ډول.

اسلام لکه څنګه چې ته وینې د اشخاصو تقدیس نه کوي او هغوی له خپلې مرتبې نه پورته کوي او نه له هغوی څخه ارباب او معبودان جوړوي.

الله تعالی فرمایلي: **ورته ووایه ای اهل کتابو! هغه څه ته راشئ چې زموږ او ستاسو ترمنځ یو برابر دي، دا چې له الله پرته بل څه به نه لمانځو، نه به څه شی ورسره شریکوو او نه به له الله پرته یو بل د معبودانو په توګه نیسو، نو که وګرځېدل بیا ورته وواییٔ تاسو شاهدان اوسئ چې موږ مسلمانان یو. (د آل عمران سورت: ٦٤ ایت)**

او الله تعالی فرمايلي: او هغه داسې امر نه درته کوي چې پرښتې او نبيان معبودان ونيسئ، نو آيا وروسته له هغه به هم د کفر امر درته کوي چې تاسو مسلمانان شوئ. (د آل عمران سورت: ۸۰ ایت)

او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي: زما دومره ستاينه مه کوئ لکه نصاراوو چې د مريمې د زوی وکړه، زه د هغه يو بنده يم؛ نو وواييئ چې د الله بنده او د هغه رسول. صحيح بخاري ٣٤٤٥

**الله په اسلام کې توبه روا کړې ده ، توبه د انسان الله ته رجوع کول او گناه پرېښودل دي**

او اسلام خپل مخکې گناهونه له منځه وړي، توبه خپل مخکې گناهونه له منځه وړي، نو د هيڅ انسان په وړاندې د انسان د تېروتنو د منلو اړتيا نشته.

تعالی فرمايلي: اې مؤمنانو! ټول الله ته توبه وباسئ، د دې لپاره چې کامياب شئ. (د النور سورت: ۳۱ ایت)

او الله تعالی فرمايلي: آيا هغوی نه دي پوه چې همغه الله له خپلو بندگانو توبه قبلوي او صدقې اخلي، او پرته له شکه الله توبه قبلوونکی او مهربانه دی. (د التوبه سورت: ۱۰٤ ایت)

او الله تعالی فرمايلي: او همغه ذات دی چې له بندګانو يې توبه قبلوي او له ګناهونو ورتېرېږي او پر هغه څه پوهيږي چې تاسو يې کوئ. (د الشوری سورت: ۲۵ ايت)

او رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: الله د خپل مؤمن بنده په توبه تر هغه سړي زيات خوشحالیږي کوم چې په يوه داسې ځمکه کې وي چې استوګنه پکې نه وي د تباهۍ ځای وي، له هغه سره يې پر سپرلۍ خواړه او څښاک وي، بيا هغه ويده شي، کله چې راويښ شي، نو هغه تللې وي، ويې لټوي تردې چې سخت تږی شي، بيا وايي: خپل هغه مخکيني ځای ته ورګرځم، ويده کيږم تر څو مړ شم، نو سر يې پر بازو کيږدي، ترڅو مړ شي، بيا را ويښ شي، په داسې حال کې چې له هغه سره سپرلۍ وي اوپر هغې يې توښه، خواړه او څښاک هم وي؛ نو الله د خپل مؤمن بنده پر توبه تر دغه سړي له خپلې سپرلۍ او توښې سره هم زيات خوشحاليږي. صحيح مسلم ۲۷۴٤

او اسلام له هغه مخکي ګناهونه له منځه وړي او توبه هم مخکيني ګناهونه له منځه وړي. الله تعالی فرمايلي: ووايه: هغوکسانوته چې کفر يې کړی، که واوړي، نو څه چې مخکې شوي هغه به ورته وبښل شي، او که بېرته راوګرځي؛ نو د مخکېنيو کړنلاره تېره شوې ده. (د الأنفال سورت: ۳۸ ايت)

او الله نصارا توبې ته راوبلل؛ نو الله جل شانه وايي: آيا هغوی الله ته توبه نه باسي او ښښنه ترې نه غواړي، او الله ښښونکی مهربان دی. (د المائده سورت: ۷۴ آيت)

او الله ټول نافرمانه او ګناهکاران توبې ايستلو ته وهڅول، نو الله تعالی وفرمايل: ورته ووايه! اې زما هغو بندګانو چې پر خپلو ځانونو يې ظلم کړی د الله له رحمته مه ناهيلي کيږئ، په رښتيا الله ټول ګناهونه ښښي بېشکه همغه ډېر ښښونکی مهربان دی. (د الزمر سورت: ۵۳ ايت)

او کله چې عمروبن العاص د اسلام راوړلو اراده وکړه، له دې څخه وډارشو چې هغه ګناهونه به يې ونه ښښل شي چې له اسلام څخه مخکې يې کړي دي، عمرو د دغه دريځ د روايت کوونکي په توګه وايي: کله چې الله زما په زړه کې اسلام واچولو وايي: نبي صلی الله عليه وسلم ته راغلم تر څو بيعت راسره وکړي، لاس يې ماته وغځولو، خو ما وويل: اې د الله رسوله! تر هغه بيعت نه درسره کوم ترڅو دې زما مخکېني ګناهونه نه وي ښښلي، هغه وايي: رسول الله صلی الله عليه وسلم راته وويل: اې عمرو! آيا نه پوهېږې چې هجرت خپل مخکېني ګناهونه له منځه وړي، اې عمرو! آيا نه پوهېږې چې اسلام له هغه مخکې ګناهونه له منځه وړي. مسلم ۱۲۱ شمېره سره دېته ورته اوږد تخريج کړی او احمد ۱۷۸۲۷ شمېره سره او لفظ د هغه دی.

**په اسلام کې د انسان او الله تر منځ یوه نېغ په نېغه اړیکه وي، چې هیچا ته اړتیا نشته تر څو ستا او د الله ترمنځ واسطه شي؛ نو اسلام موږ له دې څخه منع کوي چې له انسان څخه الله جوړ کړو او یا هغوی له الله سره په ربوبیت او الوهیت کې شریکان کړو.**

په اسلام کې د نورو په مخکې د خپلو ګناهونو منلو ته اړتیا نشته، نو په اسلام کې د انسان او الله تر منځ یوه نېغ په نېغه اړیکه وي، چې هیچا ته اړتیا نشته تر څو ستا او د الله ترمنځ واسطه شي، لکه څنګه چې په ۳٦ مه فقره کې داخبره تېره شوه چې الله تعالی ټول خلک توبې او د ځان لوري ته په رجوع کولو رابللي دي، همدارنګه یې خلک منع کړي چې نبیان یا پرېښتې د هغه او د بندګانو ترمنځ واسطې وګرځوي، الله تعالی فرمايلي: او هغه داسی امر نه درته کوي چې پرېښتې او نبیان معبودان ونیسئ، نو آیا وروسته له هغه به هم د کفر امر درته کوي چې تاسو مسلمانان شوئ. (د آل عمران سورت: ۸۰ ایت)

نو اسلام لکه څنګه چې وینې موږ له دې څخه منع کوي چې انسانان معبودان وګرځوو او یا یې له الله سره په ربوبیت او الوهیت کې شریکان کړو.

الله تعالی له نصاراو څخه وايي: هغوی خپل عالمان او عابدان له الله پرته معبودان نیولي او همدارنګه د مریمې زوی مسیح (یې هم معبود

نیولی) او حال دا چې هغوی د یو الله له عبادت پرته په بل څه نه وو ګومارل شوي، له هغه پرته خو کوم بل الله نشته، له هغه څه پاك دی چې هغوی یې ورسره شریکوي. (د التوبه سورت: ۳۱ ایت)

او الله پر کافرانو انکار وکړ چې هغوی د الله او خپلو ځانو تر منځ واسطې نیسي، نو الله تعالی وفرمايل: خبر اوسئ چې الله لره سوچه دین دی او کومو خلکو چې له هغه پرته نور چارواکي نیولي (او وايي چې) موږ خو د دې شیانو لمانځنه یوازې د دې لپاره کوو چې الله ته مو په مرتبه کې ورنیږدې کړي. بېشکه الله به د هغوی تر منځ په هغه څه کې پرېکړه کوي چې هغوی پکې اختلاف کوي، په رېښتیا الله هغه چاته لارښوونه نه کوي چې درواغجن او ناشکره وي. (د الزمر سورت: ۳ ایت)

او الله دا خبره بیان کړه چې بوت لمانځونکي د جاهلیت خلک داسې وو چې د خپلوځانونو او الله ترمنځ یې واسطې نیولې او ویل به یې: دا هغوی الله ته نیږدې کوي.

او کله چې الله خلک له دې څخه منع کړل چې نبیان او پرېښتې دې د هغه او بندګانو تر منځ واسطې ونیسي؛ نو له هغوی پرته نور به په طریقه اولی منع وي، څنګه حال دا چې نبیان او رسولان علیهم

السلام الله ته په نېږدې والي کې ډېره بيړه کوي، الله تعالی د نبيانو او رسولانو عليهم السلام له حال څخه په خبرورکولو فرمايي: **بېشکه هغوی (ټولو) په نېکيو کې بيړه کوله او موږ يې (د ثواب) په مينه او (له عذاب څخه) په وېره وربللو او يوازې موږ ته غاړه ايښودونکي وو. (د الأنبياء سورت: ۹۰ ايت)**

او الله تعالی فرمايلي: **دوی چې چاته بلنه ورکوي هغوی خو په خپله د خپل پالونکي لور ته وسيله لټوي چې کوم يو (هغه ته) ورنېږدې دی او د رحمت هيله يې کوي او له عذابه يې ويريږي، په رښتيا ستا د پالونکي عذاب د وېرې وړ دی. (د الإسراء سورت: ۵۷ ايت)**

معنا داچې کوم نبيان او نېکان چې تاسو يې له الله پرته رابولئ، هغوی په خپله الله ته نېږدې کېدل غواړي، د هغه د لوربيني هيله لري او له عذابه يې وېريږي، نو څنګه له الله پرته هغوی را بلل کيږي.

## د دغې رسالې په پای کې

دا خبره يادوو چې خلک د خپلو زمانو، قومونو او ښارونو له پلوه بلکې ټولې انساني ټولنې په خپلو فکرونو او موخو کې مختلفې دي، د ژوند په چارو او کړنو کې له يوبل څخه بېل دي، نو يو داسې لارښود ته اړتيا لري چې لارښوونه يې وکړي، او داسې نظام ته چې راټول يې

کړي او داسې واکمن ته چې ساتنه يې وکړي او درنو رسولانو عليهم الصلاة والسلام دغه څه د االله له لوري د وحي له لارې په مخ ورل، د ښېګڼې او هدايت لارې ته يې د خلکو لارښوونه کوله او د الله پر شريعت يې خلک را ټولول او په حق يې د هغوی ترمنځ پرېکړې کولې، نو څومره يې چې د دغو رسولانو خبره منله د هغوی د الهي پيغامونو له زمانې سره نېږدې همدومره يې په چارو کې سمون راتلو، او الله د خپل رسالت لړۍ د محمد صلی الله عليه وسلم پر رسالت پای ته ورسوله او د هغه د رسالت لپاره يې پاتې کېدل وليکل او هغه يې د خلکو لپاره لارښود، رحمت، رڼا او تر الله سبحانه وتعالی پورې د رسوونکې لارې لارښوونکی وګرځولو.

له همدې امله دې اې انسانه! درته رابولم چې يوازې الله لره رېښتينی د بل له بې ځايه پيروۍ او عادت څخه خالي ودرېږې، او پردې پوه شه چې له مرګ وروسته دې خپل پالونکي ته ورګرځېدونکی يې او دا چې په ځان او شاوخوا کې دې وګوره؛ نو اسلام راوړه چې په دنيا او آخرت کې دې نېکبخته شې او که په اسلام کې داخلېدل غواړې نو پرتا يوازې دا ګواهي ورکول لازم دي چې له الله پرته بل حقدار د بنده ګۍ نشته او محمد د الله رسول دی، او له هر هغه څه څخه بېزاري اعلان

کړې چې له الله پرته لمانځل کیږي، او موږ باور لرو چې الله ټول هغه خلک بېرته راپورته کوي کوم چې په قبرونو کې دي او دا چې حساب او بدله حق دي، کله چې دې دا ګواهي ورکړه؛ نو ته مسلمان شوې، نو بیا پرتا لازم دي چې د الله هغه عبادت وکړې کوم چې یې له لمانځه، زکات، روژې او حج څخه روا کړي دي که د حج وس ولرې.

له همدې امله دې اې انسانه! دېته رابولم چې یوازې الله لره رېښتیني د بل له بې ځایه پیروۍ او عادت څخه خالي ودرېږې، لکه څنګه چې الله په خپله وینا سره رابللی یې. ورته ووایه: زه تاسې ته یوازې د یوې خبرې **نصیحت کوم:** دا چې الله ته دوه دوه ودرېږئ او (یا) یو یو بیا (ښه) سوچ وکړئ، ستاسې په (دې) ملګري کې خو څه لیونتوب نشته، هغه خو د یو سخت عذاب په وړاندې ستاسو لپاره د یو وېرووونکي څخه پرته بل څه نه دی. (د سبأ سورت ٤٦ ایت)

او ته پوهېږې چې له مرګ وروسته دې خپل پالونکي ته ورګرځېدونکی یې، الله تعالی فرمایلي: او دا چې انسان لره بل څه نشته پرته له هغې بدلې چې خپله یې هڅه کړې وي. او بېشکه چې دا هڅه به یې ژر ولیدل شي. بیا به پوره پوره بدله ورکړی شي. او دا چې (همغه) ستا د پالونکي لور ته ور رسېدل دي. (د النجم سورت: ٣٩– ٤٢ ایتونه)

او دا چې په خپل ځان او شاوخوا اطرافو کې دې وګوره، الله تعالی فرمایلي: **ایا هغوی د اسمانونو او ځمکې په پاچایۍ کې سوچ نه دی کړی او کوم شیان چې الله پیدا کړي دي او دا چې ښایي نېټه یې رانږدې شوې وي نو له دې وروسته په کومه خبره ایمان راوړي؟ (د الأعراف سورت: ۱۸۵ ایت)**

نو اسلام راوړه په دنیا او آخرت کې به دې نېکبخته شې او که په اسلام کې داخلېدل غواړې؛ نو دربانديې لازمه ده چې دا ګواهي ورکړې چې له الله پرته بل حقدار د بنده ګۍ نشته او محمد صلی الله علیه وسلم د الله رسول دی. کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم معاذ یمن ته د اسلام لوري ته د بلونـکي په توګه ولېږلو ورته یې وویل: **بېشکه ته له اهل کتابو څخه یو قوم ته ورځې؛ نو هغوی دغې ګواهۍ ته راوبوله چې له الله پرته بل معبود نشته او دا چې زه د الله رسول یم، که په دغه کې یې ستا پیروي وکړه، بیا یې خبر کړه چې الله پر هغوی پنځه لمنځونه په هره ورځ او شپه کې فرض کړي دي، که یې په دغه کې هم ستا پیروي وکړه، بیا یې خبر کړه چې الله پر هغوی زکات فرض کړی چې له شتمنو به یې اخېستل کیږي او بې وزلو ته به یې ورکول کیږي، او که یې په دغه کې هم ستا پیروي وکړه بیا نو د هغوی د غوره مالونو څخه ځان وساته.** صحیح مسلم ۱۹

او دا چې له هر هغه څه څخه بېزاري اعلان کړې چې له الله پرته لمانځل کيږي، او له الله پرته د هرڅه له لمانځلو څخه بېزاري همدغه د ابراهیم علیه السلام حق ته مایل ملت دی، الله تعالی فرمايلي: په رېښتيا ستاسو لپاره په ابراهيم او د هغه په ملګرو کې غوره نمونه ده، کله يې چې خپل قوم ته وويل بېشکه موږ له تاسې او له هغو شيانو چې تاسې يې له الله پرته لمانځئ، بېزاره يو، ستاسې له عقيدې منکر يو او زموږ– تاسې تر منځ د تل لپاره دوښمني او کينه څرګنده شوې تر هغو چې يوازې پر يو الله ايمان راوړئ. (د الممتحنه سورت: ٤ آيت)

او پردې باور ولره چې الله ټول هغه خلک بېرته را پورته کوي چې په قبرونو کې دي، الله تعالی فرمايلي: دا ځکه چې همدغه الله حق دی او همغه مړي راژوندي کوي او همدی په هر څه قدرت لرونکی دی.

او (بل) دا چې قيامت هرومرو راتلونکی دی، هيڅ شك پکې نشته او دا چې الله به هغه ټوك راپورته کړي چې په قبرونو کې دي. (د الحج سورت: ٦– ٧ ايتونه)

او دا چې حساب او بدله حق دي، الله تعالی فرمايلي: او الله اسمانونه او ځمکه په حقه پيدا کړي او د دې لپاره هم چې هر چا ته د خپلو کړو وړو بدله ورکړی شي او ظلم به نه پرې کيږي. (د الجاثيه سورت:٢٢ ايت)

کله چې دغه ګواهي ورکړې؛ نو ته مسلمان شوې، له دې وروسته پرتا لازم دي چې د الله هغه عبادت وکړې چې له لمانځه، زکات، روژې او د توان لرلو په صورت کې یې حج او داسې نور روا کړي دي.

**په ۱۹- ۱۱- ۱٤٤١ نېټه ولیکل شو.**

## لیکنه: د استاذ دکتور محمد بن عبدالله السحیم

د اسلامي تعلیماتو په څانګه کې د عقیدې پخوانی استاذ

د ملک سعود پوهنتون د تربیې پوهنځی

سعودي عربستان، ریاض

## فهرست

اسلام د الله له لورې ټولو خلکو ته يو پيغام دی، نو هغه داسې تلپاتې الهي پيغام دی چې د رباني پيغامونو پای ته رسوونکی دی.................. ٥

او اسلام په يو جنس او قوم پورې خاص دين نه دی، بلکې هغه ټولو خلکو ته د الله دين دی. .................................................. ٦

اسلام هغه الهي پيغام دی چې د پخوانيو نبيانو او رسولانو عليهم السلام خپلو امتونو ته د پيغامونو بشپړوونکی دی.................................. ٧

د نبيانو عليهم السلام دين يو دی او شريعتونه يې بېل بېل دي. .......... ٩

اسلام هم همداسې بلنه کوي لکه ټولو نبيانو، نوح، ابراهيم، موسی، سليمان، داود او عيسی عليهم السلام چې ايمان ته بلنه کوله چې ښېشکه پالونکی هغه الله دی چې پيداکوونکی، روزي ورکوونکی، ژوندی کوونکی، مړکوونکی او د پاچايۍ څښتن دی او همغه دی چې د چارو تدبير نيسي او هغه مهربانه لورونکی دی................................................ ١٠

همغه الله پاک پيداکوونکی دی او يوازې همغه د بنده ګۍ حقدار دی، او دا چې له هغه سره د بل چا بنده ګي ونه شي. ................................ ١٥

الله د هر هغه څه پيداکوونکی دی چې په کائناتو کې يې مونږ وينو، يا يې نه وينو، او له هغه پرته ټول يې له مخلوقاتو څخه مخلوق دي او الله اسمانونه او ځمکه په شپږو ورځو کې پيداکړي. .......................... ٢٢

او الله پاک لره نه په پاچايۍ نه په پيدايښت، نه په تدبير او نه په عبادت کې شريک شته........................................... ۲۳

او الله پاک نه څوک زيږولي او نه له چا زيږېدلی او نه هغه لره کوم سيال شته او نه کوم مثال........................................... ۲۷

او الله پاک په هيڅ شي کې حلول نه کوي او نه له خپل مخلوق څخه په هيڅ شي کې جسد کيږي. ........................................... ۲۸

الله تعالی پر خپلو بندګانو مهربانه او رحم کوونکی دی، ځکه يې رسولان ولېږل او کتابونه يې نازل کړل. ........................................... ۳۰

الله هغه پالونکی مهربان دی، يوازې همغه دی چې د قيامت په ورځ به له خلکو سره حساب کوي کله چې هغوی ټول له قبرونو يې راپورته کړي، نو هر چا ته به يې د کړې ښېګڼې او بدۍ بدله ورکړي؛ نو چا چې نېکۍ کړې وي په داسې حال کې چې مؤمن وي، هغه لره به تلپاتې لوربېنې وي، او چا چې کفر او ناوړه کارونه کړي وي، هغه لره به په آخرت کې لوی عذاب وي............ ۳۱

الله پاک آدم له خاورې پيداکړ، او له هغه وروسته يې اولاد همداسې زياتېدلو، نو ټول خلک د خپل اصل له پلوه سره برابر دي، يو جنس پر بل جنس او نه يو قوم پر بل قوم غوراوی لري مګر د تقوا له مخې. ........ ۳۵

او هر بچی پر فطرت پيداکيږي........................................... ۳۷

هيڅ بشر داسې نه دی چې ګناهکار وزيږول شي او يا د بل چا د ګناه وارث شي........................................... ۳۸

او د خلکو له پیدایښت څخه موخه دا ده: چې یوازې د الله عبادت وکړي. .................................................................... ٤٠

اسلام انسان ته عزت ورکړی -که نارینه دی او که ښځینه-، او د هغه د بشپړ حقوقو کفالت یې کړی، د ټولو اختیاراتو، اعمالو او تصرفاتو مسئول یې ګرځولی او د هغه عمل چې ځان یا نورو ته ضرر رسوي مسئولیت یې ور په غاړه کړی دی.......................................... ٤١

اسلام نارینه او ښځینه د عمل، مسؤولیت، بدلې او ثواب له پلوه سره برابر ګرځولي دي. .......................................................... ٤٦

اسلام ښځې ته درناوی ورکړی او ښځې یې د نارینه وو سیالانې وګرځولې او پر سړي یې له توان سره نفقه لازمه کړه؛ نو د لور نفقه یې پر پلار او د مور پر بالغ توان لرونکي زوی او مېرمنې پر مېړه واجبه کړه. ..................... ٤٧

مرګ د تل لپاره له منځه تلل نه دي بلکې هغه د عمل له کوره د بدلې کور ته تګ دی، مرګ جسد او روح دواړو ته رسیږي، د روح مرګ له بدن څخه بېلوالی دی، بیا د قیامت په ورځ له را پاڅېدلو وروسته بېرته ورته راستنیږي، او له مرګ وروسته روح بل هیڅ جسد ته نه انتقالیږي او نه په بل جسد کې ننوځي. ...................................... ٥١

اسلام ایمان ته بلنه کوي د ایمان لویو اصولو ته چې هغه پر الله او د هغه پر پرېښتو ایمان دی، پر الهي کتابونو لکه د تورات، انجیل او زبور له تحریف مخکې پر هغو ایمان، پر قرآن ایمان، پر ټولو نبیانو او

رسولانو علیهم السلام ایمان، او د هغوی د لړۍ پر پای ته رسوونکي ایمان چې هغه د الله استازی محمد د نبیانو او رسولانو ختم کوونکی دی. د آخرت په ورځ ایمان، او موږ پوهېږو چې که د دنیا ژوند د هرڅه پای وي، نو ژوندون او شتون به له هر اړخه بې ګټې و. او په قضاء او قدر ایمان راوړل........................ ۵۳

انبیاء علیهم السلام په هغه څه کې معصوم دي چې د الله له لوري یې رسوي او له هر هغه څه څخه معصوم دي چې له عقل سره په ټکر کې وي او یا یې سالم اخلاق ردوي، او نبیان د الله بندګانو ته د امرونو په رسولو مکلف دي، او نبیان د ربوبیت او الوهیت له ځانګړنو څخه هیڅ ځانګړنه نلري، بلکې هغوی د ټولو انسانانو غوندې انسانان دي چې الله تعالی هغوی ته خپل پیغامونه وحي کوي. ...................... ٦٨

او اسلام یوازې د الله عبادت ته د لویو عبادتونو په اصولو سره بلنه کوي ........................................................................ ۷۵

او د اسلامي عباداتو تر ټولو لویه ځانګړنه داده چې طریقه، وختونه او شرطونه یې الله تعالی ټاکلي دي او رسول صلی الله علیه وسلم رسولي، او تر نن ورځې پورې هیڅ انسان د زیاتوالي او کموالي لاسوهنه پکې نه ده کړې، او ټولو نبیانو علیهم السلام دغو لویو عبادتونو ته بلنه کوله................. ۸۱

د اسلام رسول محمد چې د عبدالله زوی، د اسماعیل بن ابراهیم علیهم السلام له اولادې څخه دی په مکه کې په ۵۷۱ م کې زیږدېلی او همدلته نبوت ورکړل شوی.......................................................... ۸۳

او د اسلام هغه شریعت چې د الله رسول محمد صلی الله علیه وسلم راوړی، هغه د الهي پیغامونو او رباني شریعتونو ختموونکی دی.......... ۸۸

او الله تعالی له هغه اسلام پرته چې رسول محمد صلی الله علیه وسلم ورسره راغلی بل هیڅ دین نه مني؛ نو څوک چې له اسلام پرته بل دین ته غاړه ږدي هیڅکله به یې ترې قبول نه کړي. ......................... ۹۰

قرآن کریم هغه کتاب دی چې الله خپل رسول محمد صلی الله علیه وسلم ته وحي کړی، او هغه د مخلوقاتو د پالونکي کلام دی............. ۹۲

او اسلام له مور او پلار سره په نیکۍ امر کوي که هغوی دواړه مسلمانان هم نه وي او د اولاد په اړه سپارښتنه کوي. ............................... ۹۷

اسلام په وینا او کړنه کې که څه هم له دوښمن سره وي پر عدالت امر کوي. ........................................................................... ۱۰۳

او اسلام د ښو اخلاقو لکه رېښتینولۍ، د امانت اداکولو، پاک لمنۍ، حیاء، شجاعت، قربانۍ، سخاوت، د اړ سره مرسته کولو، له بې وزله سره کمک کولو، وږي ته خواړه ورکولو، ښه ګاونډیتوب، صله رحمۍ او پر څارویو مهربانۍ امر کوي. ......................................... ۱۰۸

اسلام د خوراک او څښاک پاک شیان حلال کړي دي او د زړه، بدن او کور پر پاکوالي یې امر کړی، له همدې امله یې نکاح حلاله کړې ده، لکه نبیانو علیهم السلام ته یې چې امر پرې کړی، چې هغوی پر هر پاک شي امر کړی دی. .... ۱۱٤

اسلام د ناروا وو اصول لکه پر الله شرک او کفر کول، د بوتانو لمانځل، پرته له پوهې پر الله خبرې ترل، د اولادونو وژل، د محترم نفس وژل، په ځمکه کې فساد کول، کوډې، ښکاره او پټې بې حیایۍ، زنا او لواطت حرام کړي دي، او سود، د مردارې خوړل او د هغه څه خوړل یې حرام کړي دي چې د بوتانو او غلطو معبودانو لپاره ذبح کړل شوي وي، د خنزیر غوښه او ټول پلیت او ناپاک شیان یې حرام کړي دي، د یتیم مال خوړل، په پیمانه او تول کې کموالی او زیاتوالی یې حرام کړي دي، د خپلویو پرې کول یې حرام کړي دي، او ټول نبیان علیهم السلام د دغو ناروا وو پر حراموالي په یوه خوله دي........................................................ ۱۱۷

اسلام له بدو اخلاقو لکه درواغو، دوکې، غدر، خیانت، فرېب، حسد او ناوړه چل، غلا، بغاوت او تېري څخه منعه کړې ده او له هر ډول پلیتو اخلاقو یې منعه کړې ده. ................................................ ۱۲۳

اسلام د هغو مالي راکړو ورکړو څخه منع کوي چې سود، ضرر، دوکه، ظلم، فرېب وي پکې او یا د مصیبتونو او د ټولنو، قومونو او افرادو د عام ضرر لامل کیږي. ................................................ ۱۳۰

اسلام د عقل د ساتنې او ټولو هغو شیانو د حراموالي لپاره راغلی چې عقل خرابوي........................................................ ۱۳٤

او د باطل دینونو پیروان چې کله پر هغه څه پوهه ونه لري چې ترمنځ یې ټکر وي او یا هغه چارې چې عقلونه یې ردوي، نو بیا د دین پیروان دا

ګومان کوي چې دين له عقل څخه پورته دی او يا دا چې عقل لره د دين په پوهاوي او پر هغه د را چاپېرېدو کې هيڅ ځای نشته................ ۱۳۸

اسلام صحيح علم ته لويه درجه ورکوي او له نفسي غوښتنې څخه خالي علمي بحث ته هڅونه کوي..................................................... ۱۳۹

او الله عمل نه قبلوي او نه په آخرت کې ثواب پرې ورکوي مګر له هغه چا څخه چې پر الله يې ايمان راوړی وي، د هغه پيروي يې کړې وي او د هغه رسولان عليهم الصلاة والسلام يې رېښتيني ګڼلي وي............ ۱۴۳

پرته له شکه د ټولو الهي پيغامونو موخه دا ده چې حق دين د انسان مرتبه اوچته کړي، نو هغه يوازې د الله بنده وي کوم چې د ټولو کائناتو پالونکی دی..................................................................... ۱۴۶

الله په اسلام کې توبه روا کړې ده، توبه د انسان الله ته رجوع کول او ګناه پرېښودل دي....................................................... ۱۴۹

په اسلام کې د انسان او الله تر منځ يوه نېغ په نېغه اړيکه وي، چې هيڅا ته اړتيا نشته تر څو ستا او د الله ترمنځ واسطه شي؛ نو اسلام موږ له دې څخه منع کوي چې له انسان څخه الله جوړ کړو او يا هغوی له الله سره په ربوبيت او الوهيت کې شريکان کړو. ............................ ۱۵۲

د دغې رسالې په پای کې............................................................ ۱۵۴

# اسلام وپيژنئ

## له ۱۰۰ څخه په زياتو ژبو

موسوعة القرآن الكريم
QuranEnc.com

له (۷۵) څخه په زياتو ژبو د قرآن کريم د معناګانو کره ژباړې.

بيان الإسلام
byenah.com

په ۱۲۰ ژبو کې د اسلام پيژندنې او زده کړې لپاره غوره شوي توکي.

موسوعة الأحاديث النبوية
HadeethEnc.com

له (٦٠) څخه په زياتو ژبو د نبوي حديثونو او شرحو کره ژباړې.

ما لا يسع أطفال المسلمين جهله
kids.islamenc.com

له (٤٠) څخه په زياتو ژبو د کوچنيانو او عامه مسلمانانو لپاره سوالونه او ځوابونه.

جامع المحتوى الإسلامي باللغات
islamcontent.com

له (۱۲۵) څخه په زياتو ژبو ډول ډول او هر اړخيز اسلامي توکي.

موسوعات وخدمات إسلامية باللغات
s.islamenc.com

د نړۍ په ژبو د لا زياتو ويب پاڼو لپاره:
(s.islamcontent.com)

جمعية الدعوة وتوعية الجاليات بالربوة

جمعية خدمة المحتوى الإسلامي باللغات

Ps180

978-603-8412-02-2